
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بر تر عشق وايي: «د انسان لپاره تر دې لوړه مينه نشته، چې ځان د بل يوه لپاره ځار او قربان کړي.» خو موږ ژوندی وژنو او د وينو په تجارت کې ځان د جنت باغونو ته رسوو!

## لومړی ګام

«ټول په دې فکر دي، چې نور و ګرځي او ټول بشريت بدل کړي؛ خو هېڅوک د ځان د بدلولو په فکر کې نه دي.» ليو تولستوی

### «زه» سپېڅلی، «بل» ناولی!

لږ تر لږه نيمه پېړی کېږي، چې دلته د بل بدلولو کلچر پېل شوی! او دغه سپين خدايي کلی، د انسان-فرد د بدلولو مسلخ ګرځېدلی.
دلته هر «بل» زيات دی، «اضافي» دی او چېرې زموږ غيرتي نښې دي!
دلته «بل» زيات دی! بل حق نه لري. بل ناروا او حرام دی. او دا له ماشومتوبه را زده کېږي!
پر ته زما له ډوله، زما له فکره، زما له رسم او رواجه، زما له اند او باوره پرته بل يو هم روغ نه دی، سړی نه دی او خدای ناروا کړی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ پر یو بل کانګې کوو. بل را ته ازغی دی. بل اور را اچوي.
بل ظالم دی، ناجنس دی، بدل دی، کچه او ناپاک دی!

## د بل بدلولو باغ لنډ انځور

دا څو میلیونه په وینو سره قربانیان، زخمیان، عقلي او رواني ناروغان،
دا له خپل پلرني کور، کلي، ښار څخه شړل شوي انسانان،
دا د غچ او انتقام له اوره ډک بالفعل او بالقوه جنګیالان،
ټول ټول د بل بدلولو دوزخي فکر او فرهنګ هغسې راوړل لکه دا اوس یې چې راوړي!
دلته زوی انقلابي شو، پلار ضد انقلاب شو. بزګر ږیره خرېلې سرلوڅی معلم وواژه، په ضد کې یې بریتور ضابط، د ټانک په ګولۍ کلی او جومات نښه کړ.
دلته هر نوم، هر خېل، هره درجه انسان قاتل شو. او داسې هم کلی قاتل شو، هم ښار قاتل شو.
موږ یو بل د ککړ ذهن، ککړ فکر، ککړو اخلاقو، ککړ چلند او ککړ رواج په خاطر غندو، محکومو، وهو، وژنو...!
او موږ د خپل ذهن-باور له نظره بل د ککړ اند- باور په خاطر؛ د خپل «روا» او «مقدس» غضب په اور کې سوځو او تباه کوو!
وه نه وه! یو وخت زموږ د ادارې د وړتیاوو لوړولو او ادارې د پراختیا رییسه آریه نجات، زما د مشر زوی «بهرام امرخېل» په لیدلو سره هکه اریانه شوه او ویې وېل: «وفا صیب،بچه ات طرف تو نه رفته!»
زه وایم دا یې کمال دی، چې ما ته نه دی شوی!
زه «یو» یم! نوی ځلمی بهرام بیا ځانته «یو» دی! هېڅ «یو»، د بل «یوه» تکرار نه دی.
ځکه نو خلقت دومره رنګین او متنوع دی.

## هېڅ «یو» په «بل» کې نشي تکرارېدلای!

تنوع خدایي لورینه ده. د فکر تنوع، د اخلاقو تنوع، د رواجونو تنوع، د اندونو-باورونو تنوع، د رنګونو او قومونو تنوع... او بالاخره د هر وګړي تنوع ددې شاهده ده، چې هر یو ژوند خدایي شهکار دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغې مېرمنې وخندل او په خپلو تبصرو يې زموږ د خبرو، د افکارو، د خويونو او چلندونو تنوع ونه ځپله. او په دې سره زه يو هم او بهرام يو هم په خندا شوو.
موږ نړی، چاپېريال، انسانان د خپلې هېنداريې دريځ ته را ټيټوو. هر بل بايد هغسې واوسي، لکه زه چې يم.
ځکه نو اټکل کوم، چې لا ځان سم نه وينو. لا خپل «ځان» ته نه يو رسېدلي. ځکه به نو دلته په دغې افکارو، ايډيالوجيو، باورونو او خويونو را جمعه کړې ټولنه کې فرديت او تنوع سپېڅلي نه وي.
ځکه به نو ښايي د يوه يوه خدای را څخه خوشحاله نه وي!
په دا ډول ذهني- دوزخي فضا کې، هر فرد او وګړي چلپيا خوري؛
ځکه نو بيا زه هم چلپيا خورم،
زه هم د بل لپاره هومره نامقدس، ککړ، بد، خراب او ناولی يم؛ لکه هغه چې زما ذهن ناولی، ناروا او حرام را پېژندلی!
په داسې اند او باور سره هم «زه» او هم «بل» چلپيا خوروو. بيا نو هېڅوک نشته:
وېرېږم، دغه جګړه چې موږ متمدنو فکرونو–خويونو اسير کړي انسانان يې کوو؛ د ټولوژنې مبهم مانيفست نه وي!!!
اخلاقو او باورونو څومره تاوان رسولی دی! بل دې اوسي؛ خو چې خپل «فرديت» او «تنوع» حلال کړي! زما په څېر روا سړی شي!
زما افکار، زما اندونه–باورنه، زما عادتونه په ماته غاړه خپل کړي. خپل فکر، باور، اخلاق او عمل يې وګرځوي.
ښايي په دا ډول پوهه، عقل، اند او باور سنبال انسان، د ټول ژوند وژلو لپاره بس وي!
په دې ډول چلند سره دنيا تکراري شمېره ده.
ځمکه زما غته شوې، پړسېدلې څېره ده،
وګړي له ما جوړ بتان دي.
زمانه زما د ساعتيری ساعت دی.
آه، څه وکړم، په دا ډول کلمو انځورګري کول هم زور غواړي؛ دلته به دمه شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library





«هر انسان د ځان لپاره لاره ده او يوازنی حقيقت.
عيسي خپلو دولسو يارانو ته په خطاب کې ووېل:
«زه لاره يم او حقيقت.» خو هغه د مسيحا له اګاهۍ
څخه غرېده، نه د هغه عيسی له قوله، چې له انسانه
پر ته بل څه نه وه.»

## دويم ګام

«تر هغو چې انسانان د ترلاس لاندې موجوداتو بېرحمه وژونکی وي، هېڅکله به سلامتۍ او سولې ته ونه رسېږي؛ دا ځکه: تر هغو چې انسانان د حيواناتو په ټولوژنه لاس پوري، يو بل به هم وژني. په حقيقت کې، هغه څوک چې د قتل او غم کر کوي، نشي کولای مينه او ښادي ور بېي.» فيثاغورث

### د کپتان نيازمحمد کيسه:

کيسه له سره ثوره ور دمخه ده: نيازمحمد هم اول نمره او هم زموږ کپتان وه. هغه د بزګر بچی وه؛ خو له موږ غوندې خانزاده ګڼل کېده، د درس ميدان ورې وه. ښايي د ښوونځي کتابچې او قلمونه به يې هم د هګيو په پيسو ؤ.

نيازمحمد پر موږ بد لګېده. ځکه هغه «بل» ؤ. اول نمره ؤ، کپتان ؤ، او د الجبر هر سوال ځواب يې په ذهن کې ؤ. کيميا او بيالوجي هم لکه اوبه ورته وه. تاريخ او جغرافيا يې هم له ياده قصه کول. او همداسې نور کتابونه يې ټول په مغز کې وه.

هغه وخت هم ولاړ، هغه د ميدان مرکزي ليسه هم ولاړه، هغه د نيازمحمد کپتاني هم ولاړه.

ما دولسم په غازي ليسه کې ختم کړ، کابل پوهنتون ته دت شوم او نيازمحمد په منډه منډه طب انستيتوت خلاص او بله ورځ ډاکتر شو. او دې مېنځ کې انقلاب ځوانان خوړل، تر څو خو تنو غير پښتنو جنرالانو د ګوند، پوځ او پوليسو څلور پنځه لکه انقلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکي په قمار وواهل او بیا کابل د تنظیمونو شو او کلیو ته د سرو کابلیانو لارې خلاصې شوې او فاتحو کلیوالي ځوانانو هم په سکر بیستانو ونومول.
د نیازمحمد د ډاکترۍ کار و بار هم میدان ښار ته وکوچېد. نور نو ډاکتر دریشي غور ځولې وه، کمیس او پرتوګ سره له کابله میدان ښار ته په ګشت کې وه!
خو د بل بدلولو «زمرۍ» او «سور ملنګ» او یو عالم سړي ورپسې وه! هغوی د چا په ږېره پر ېښولو، پګړۍ یا پکول په سرولو نه بندیدل!
بیا یې ډاکتر نیازمحمد د کابل میدان ښار په لاره کوز کړ.
مور، خور او بل او بل، چې ځومره سر او تندی وواهه، خو د ولایت مقام ته، د جنګ له نغارو سره، را کوز شوي والي صاحب، په عرض ورغلې کورنۍ داسې ځواب کړه: «مورې خبر نه یو!».
بل وخت خور، ورور په خوب ویني. شهید ډاکتر وایي: «خورې! زه قوماندان (...) کوز کړم، بیا یې نښه کړم، بیا یې د ډاک په ازغو او خځندو کې کش کړم. راشئ! پکول مې د پلانکي ډېرې څټ ته پروت دی، چرمي بوټان هم ورېو سپیانو شکولي او دلته ډاک کې پرې ایښي.»
مړی پیدا شو. نښې نښانې د نیازمحمد وې. کورنۍ، مور او خور زورور والي ته عرض وروړ. والي پلانکي را وغوښت. پلانکي هم د مخالفي جبهې جنګ ته روان وه، وخت یې کم وه؛ نو خبره ور یې خلاصه کړه: «اوس خو مې وژلی څنګه یې کوئ!؟ که مسلمان ؤ، مفت به جنت ته ولاړ شي که کاپیر ؤ، اوس به خپل نصیب ته رسېدلی وي؛ بې د هغې یې جهنم ځای ؤ، اوس څه ما وژلی، څه خدای ژوند ترې اخستلای.»
«قوماندان والي» هم دغې کشالې ته داسې د پای ټکی کېښېښود: «اوس نو شوي، زه خپل قوماندان نشم خپه کولای، اخر هغه چې بندي کړم بیا ته د هغه پر ځای جنګ ته ځې؟؟؟»
د سره ثور، سره اور دغه جوړ کړی قوماندان په خپلو ځوانو همسنګرو ملګرو کې «بل» نه لیده. هر یو دی ؤ. خو نیازمحمد «بل» ؤه. پیدا یې کړ او ختم یې کړه.
ښه، شرم دی، چې د قضاوت ګناه وکړم! خدای شته او هېڅ شی پټ نشي پاتې کېدلای!
دا کیسه به پر ېږدو، او خپلې ته به را وګرځو.
زه چې په فکر کې غلط شم، او په ځان غمجن شم او د خپلو جیبونو او جایدادنو په تللو او نورو سره په مقایسه کولو شم، نو یو ګل په شان اولاد زړه ته را ولوېږي او ترپ په شُکر سر ټیټ کړم.
اولادونه مې ښکاره دي. هر یو یې ځانته ژوند، ځانته فکر او خیال، ځانته پېژندنه، ځانته رنګ، ځانته جهان، او ځانته سرنوشت لري.
نه یې قد له چا سره مقایسه کوم، نه څېره، نه عقل، نه لیاقت، نه عمر، نه سویه، نه خېل او قوم، نه ځواکمني او شهرت!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو یې هم د مقایسې وړ نه دی. ځکه چې د ځمکې پر مخ «یو» هم له بل یوه سره د مقایسې نه دی.
افغانستان د کم او زیات دېرش مېلیونه «انسان ګلانو» باغ دی. د نړۍ په نامه باغ بیا خپلو نژاد نژاد فصلونو کې، اووه اته میلیارده رنګین انسان ګلان غوړولي.
انسان د طبیعت ګلانو ته وتی دی. خو چا لا خپل «انسان ګل» نه دی پرانستلی. انسان ګل لا هماسې بې نومه، لومړنی، زوړ او قدیمي او هېر پاتې دی. هرڅه له ځانه پېل کېږي. زه هم ځانته را ګرځم.
زما اولادونه: یو یې هم په ټوله ځمکه کې نه پیدا کېږي. او د ځمکې پر مخ «یو» هم د بل یوه تکرار نه دی؛ ځکه یو یې هم د بل یوه–ولو که اوباما، یا اسامه، یا ماندېلا وي– پر ځای نشي کېدلای.
هر یو یې تر ټولو جګ قد، دنګه ونه، ښایسته صورت او ځانته د زړه دنیا دی؛ خو د هغوی په خوا کې هېڅوک نه په قد، نه په شخصیت او نه په اصلولۍ ترې ټیټ او کچه دی!
انسان په رنګ معتاد دی. داسې ایډیالوجیکي، اخلاقي، فکري، اعتیاد هم رواج دی. عادتونه او سنتونه خو بیا له یو بل سره د جنګولو تېل دي.
د انقلاب له اورونو پخوا، ها د شاه او سردار د زمانې وروستیو ورځو سوله او وچ امنیت وخت کې به، زما پلار سرکاتب محمد اکبر خان امرخېل، له کابله چینایي رنګه مجلې راوړې. پلار یوازې په پارسي میرزایي ژبه کې «سرکاتب» وه او نورې ژبې نه ورتلې! مجلې یې له خپل ورور بللي، کلیوال ترکاڼ او خټګر محمد ظاهر سره، چې ټولو به باچا باله، پیتاوي ته کتلې او زما ابو به هم ورته کورت بټه باندې کړې وه.
زما خو بیا بیخي له لوست او لیکه توبه وه، خو رنګه عسکونه مې ښه ایسېدل. او چې نوبت به راغی مجلې به مې پاڼه پاڼه اړولې! په رنګه پاڼو به مې لاس را کشاوه! حتا دغه عکسونه به مې بویول. وېره را سره نه وه، چې په سره اعتیاد به واوړم!
دا مجلې د کمونیستي چین په عسکري رنګ ډکې وې. بزګر عسکر، زده کوونکی عسکر، معلم عسکر، مامور، سرمامور، رییس، وزیر، رهبر هر یو عسکر، عسکر او قومندان هم عسکر، یو مخ شپږ، اوه سوه میلیونه نفوس عسکر، تا به وېل، چې ټول چین یوه عسکري قشله ده!
وروسته، چې ښار کې معلمان وزیران شول او کلي کې ملاصاحبان قومندانان شول، او پلار هم ښه وګڼله، چې د اعلیحضرت تر بیا راتللو پورې د پلرو نوم کابل کې وساتي، نو زه مکتبی هم له کورنۍ سره را کابل ته شوم او بیا په یوه رنګ کې ونښتم، خو چې د عقل غاښ راخوت او زه پوهېدم، چې د چین عسکري رنګ، د بل بدلولو د دوزخ رنګ دی. او دوزخ همدا دی، همدا دی، همدا دی...!
دومره زه ګډ وم؛ تاسو څه فکر کوئ آیا زړه مو را سره مني چې هدیرې د بل بدلولو اند و باور جوړ کړي؟؟؟
نور خبرې هم شته نو تر بل ګامه به دمه شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library





**«هغه سړي په دفاعي دريځ کې څرګنده کړه: «موږ ډېر رنځېدلي يو... ټول وايي، چې حقيقت له بيانه لوړ دی.**
**ربازار تارز ووېل: «هغه چې ته وايې حقيقت لري، خو حقيقت تل ؤ. نه له چا زېږېږي او نه له منځه ځي.**
**زما دوستانو تاسو بايد پوه شئ، چې هر يو د خدای تعالی د عشق او رحمت د سمندر يو څاڅکی ياست.**
**نو له تاسو غواړم، ای زما ښو دوستانو، چې د ځان دننه د هغه په لټه کې اوسئ، او دعا وکړئ، ستاسو کنډولي دومره در ډک کړي، چې مينه در څخه څپې ووهي.»**

«ټول د خدای تعالی په لور په سفر کې دي»
تبتي راهب

## درېيم ګام

بيا خپله پوښتنه را اخلم: آيا زړه مو را سره مني، چې هديرې د بل بدلولو اند و باور جوړې کړي؟؟؟
يو څه به له شخصي تجربو در سره شريک کړم:

### د خواجه صاحب لمونځ!

داودخان، د حکومتي زغروالو ټانکونو او د بګرام هوايي ډګر ميګ الوتکو را چپه کړ، خو مکتبيانو ته خدای مظاهرې او مارشونه په لاس ورکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نویو، ځوانو رهبرانو نسل، د ګڼو مارشونو، ولوله ناکو بیانیو سرې ورمې، او د لور او بېل له وسلې سره، د ډول اتڼ ته د بزګرانو چپه او راسته اتڼونو او غاړو اچولو، مورې هم وتخنولو او د پلرو له «ښه کوه، بد مه کوه!» نصیحتونو، د تل لپاره را جلا او دغې نوې لارې ته را واوښتو او ډېر ژر د انقلابي بیرغونو او شعارونو په جوش او خروش کې را تازه او د مبارزې په میدان کې د «ګرم شه لا ګرم شه! یې د آزادۍ لمره، یې د نیکمرغۍ لمره...» سرود ته ودریدو.

نور نو تاریخ په منډه وه. بدلون راوستونکو معلمینو د «مادي برابرۍ» د بنسټګر خبره په وار وار را تکراروله، چې «انقلاب د تاریخ اورګاډي دی!»

اټکل کېده چې دوه درې کلونو کې به فیوډالي افغانستان، د «کور، ډوډۍ او کالي» د مساوات په جنت بدل شي! ځکه نو په همدې سره خوله نوې ځوانۍ کې، د زړو خانانو او ملکانو: لکه وکیل حفیظ الله امرخېل، او ملک عبدالظاهر، او خانداني ملایانو، لکه لوی خواجه صاحب له مخې بې سلامه تېرېدو. نور نو ځوک ددې وه، چې دغو نیمچه ځوانو سازمانیانو ته د زړو وختونو خبره بیا را یاده کړي.

زموږ همزولي هم په عادت او په چلند رنګارنګ وه. د انقلاب په کار کې ځني تیز، ځنې پخ او ځني بیا ډېر تېز وه.

هغه نمیچه دنګ ځوان، چې زه یې دلته صدیق نوموم؛ بیا ډېر تېز وه! ټوله ورځ یې په خان او په ملا او د کلي لوی خواجه پسې را اخیستې وه. بالاخره یې راپور ورکړ، چې «لوی خواجه اشرار دی!»

– ځنګه؟

– ما په لمانځه ولیده!

لوی خواجه صاحب، د اکسا اداري نامعلومو بندخونو ته ولوید؛ خو د یادي اداري د وخت لومړی مرستیال، ډګرمن محمد یوسف امرخېل په امر، د صدارت له توقیفځي را خوشې شو او اوس هم لمونځونه ورکوي او خلکو او یوسف خان په خپلو دعاګانو کې یادوي.

دا بله یې هم واورئ:

## فلقي کورتۍ

اوس نو غرونه او غارونه او لېرې ځنګلونه، د حکومت له کنتروله وتي وه. شپه شپه به د خزاندار عیسی خان له کلا لېرې، د موشکوش او سه صد و سه برد ټوپک یو نیم ډز او غرپ پورته کېده. زه به د میدان درې، د خزانه دار صاحب د کلا په برج کې ناست وم او مزدورانو او بزګرانو ته به مې زړه له غمه شین شین وه! ذهن کې به ځان سره لګیا وم، چې د ارتجاع دې کور وران شي، چې د فیوډالانو د سود او سلم د اقتصادي ظلم د بیا رواجېدلو لپاره بزګران داسې، غرو ته خېژوي او په ناپوهۍ کې یې د جنګ اور ته ور اچوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور نو واليان، ولسوالان، رييسان او مديران شوي معلمان، له کلاشينکوفونو سره ګرځېدل. مکتب هم تش لاسو مکتبيانو په ګزمو ساته! زه به هم د بزګرانو کورونو کې ډکو دسترخوانونو آوار پدلو، د هغوی د زامنو او لوڼو مکتبي کېدلو او په درې سوه درهمو واده کولو د فرهنګ د عامېدلو په امید، کلا کې پروت وم.

اخر يې د ميدان مرکزي ليسي ته-چې اوس د ذکر الله شهيد په نامه نومول شوې وه-د اردو يو T 54 ټانک راوست او په دې پولادي جنګيالي يې، د شپې او ورځې لخوا مکتب ساته. د ورځې به سازماني مکتبيان په متو باندې، د انضباطانو له سرې پټې سره، په مکتب ګرد را ګرځېدل؛ خو اصل زور د ټانک وه او قدر يې هغه وخت موږ ته معلوم شو، چې بله ورځ له ليسي و کوچېد! په سبا چې ورغلو، نو ليسه توره ايره شوې وه. چپړاسيانو ويل مولوي... په څو تنو اوربوز تړلو موږ وتړلو، بيا يې په ليسه تېل واچول، ګوګړ يې ور ولګاوه، او نور په خپله مخه پسې ولاړل.

ليسه راکډه شوه ميدان ښار ته. نور نو غرو ته ختلي ملايان او بزګران، په معلمانو پسې پټ پټ را کښته شول. نن شپه د ده په کور جنګ، سبا د هغه درمند سوځېدلی، نن پلانی مکتبی له کوره وېستل شوی، بل سبا يې د پلاني خان يا ملک زوی اګسا پلچرخي ته اچولی.

دې کې يې زموږ يو معلم، چې دلته يې زه د (دوست محمد) په نوم يادوم؛ له کوره ووېست. معلم چا ونه ليد چې څرنګه، چا او په څه ډول قانون او طريقه محکمه کړ؟ موږ ته احوال راغی، چې معلم يې د کورتۍ د اوږده چپه ګردن په خاطر «خلقي» ثابت کړی او په همدې نغده ګناه يې تبرږه پر سر ور اړولی!!!

له دې کيسو څخه نه غواړم چا ته د دار رسۍ يا د برآئت وثيقه جوړه کړم. خدای تعالی چې شته، د بنده ګۍ په حال کې «بنده» به د څه شي قضاوت وکولای شي؟؟؟

څوک خبر دي، چې له جسمي مرګ وروسته به د معلم ورځ ښه وي، که د هغه، چې ورځ کې يې د نخاس په اندازه سړو پر ستونو، د خپل غضب چاړه را کشوله!؟

برکت يوسځ.

## يادونه:

له ټولو هغو ځوانانو او مشرانو او همزولو څخه چې په يو ډول سره، له يادو شويو فکري-باوري لوريو سره ګډ حسي- عاطفي درد او تړاو لري، عذر غواړم او په ټينګه سره تکراروم، چې ددې کيسو له راوړلو څخه زما مقصد يوازې او يوازې زموږ د ګډ درد(د بل بدلولو تراجيدي) انځورول دي، چې افغانستان کې يې له ميليونونو وګړو ژوند، سلامتيا، شخصيت او خوشحالي اخستې ده او لا هم دغه دوزخ زموږ پر فرديت را چاپېر پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





«داسې زه په دې جهان کې د بشر لپاره پردی یم، هغه ما ته نه ګوري ؛ بلکې قدرت ته يې د خېرات ستر ګې نيولې دي.»

## څلورم ګام

«ټولې طريقې پر خدای ور ختمېږي، نو مه وار خطا کېږه، چې بل نه غواړې خدای هغسې وويني، لکه ته يې چې وينې، يا ژوندی استاد ستا په ستر ګو نه ويني، يا دنيا ته په بل نظر ګوري... ټول د خدای په لور په سفر کې دي.»

### بل بدلول له کومه را پيدا کيږي؟

دا کيسه له وړکتوبه را سره پيلېږي. له هغه وخته چې «ښه» او «بد» را پېژندل کېږي. اوس په دې باور يم، چې زه «ښه» روزل شوی يم، بل «بد»!

زموږ روزنه- فکر، باور، عادت، رسم او رواج- هرڅه ښه دي او د نورو بد دي.

زما «ښه» ما ته يا له پلرو او نيکو پاتې دي يا مې له معاصرو ايډيالوجيو او راز راز باورونو او مانيفستېونو څخه را قرض کړي او اوس مهال زه د داسې ښو بار کشوم، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما له فردیت سره بیګانه دي.
دا ځکه چې زما د فردیت په رګونو او اعضاو کې، د ټولنې او کتلې د فرهنګ له ارشیف څخه د یوه مړه کالبوت ذخیره کړې وینه را تزریق شوې.
دغه «ښه» او «بد» چې په ما کې ظاهر شوي، زما ذاتي ذایقې نه دي غوره کړي.
زما ښه له هیرو وختو را پاتې دي.
زه په ډېرو لرغونو ذهنتوکو ډک یم.
له ما د بل مرام ټوپک جوړ دی.
زړه چاړه، او زوړ د جنګ بیرغ، زما د اشغال شوي وجود په لاسونو کې، د یوه مړه کالبوت، د تزریق شوي فرهنګ، ننګ او ناموس دی.

## زه په کبر کې کبروالا په ما کې

زه به اوس ځانته متې را بډوهم. د پاسوالو، د شپني یا غرمني خوب په دمه کې په ځان ننوځم او تر څو مې «ځان» نه وي زبېږ بدلی، شی به ځان کې نه پرېږدم!
څه بد خوب مې لیده! د بل پر ضد هره خبره، هر کار او هر اقدام را نه په خوب کې وشول. انسان په وینه ژوندی دی او زه یې په پردی وینه چالان کړی وم!
زما او یوه زراعتي چرګ، زما او یوه فارمي خوسي، غوایي، آس...څه توپیر شته؛ دواړه د معاصرې انساني اګاهۍ مادي، حسي، ذهني او رواني «قدرت» او «شهرت» لوړې داسې مصنوعي مصنوعي، ډبل ډبل او ځانناخبره میدان کې خوشې کړې یو.
هغه لرغونی، هغه د «عتیق» د زمانې، چې کبر کې پروت وه؛ مړ نه وه؛ مړ زه وم، چې د ژوند وینه را بدله شوې وه او د مړي خیالانونه را په کې په غورځو پرځو ول!
هغه ښه، چې ما یې ببرغونه او شعارونه وړل، ټول مړه وه! او زه د مړو نصیحتونو ته په بیګاره عادت شوی وم.

## زما فکر که اوبه شوې ډېره!

په لوړه وایم: دا ډېرین تبرونه، مسي سکې، جوهر داره چړې، او د غرځو په پوټکو خامک دوزي شوې د بخت او اقبال پیل او پای منترونه، زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ماشوم وجود سره اړخ نه لګوي.
په ډاګه وایم: معاصره تکنالوجي هسې د مخې پرده ده؛ مور اوس هم په ډېرو کې اخته یو! ځانته مو معاصر ډبر پیر جوړ کړی. ډبره زړه ده، د کبر نښه ده، ډبره زموږ فکر، اند او باور، رواج او عادت د زرېزو لپاره ساتي.
ښایي زموږ فکر او ذهني ګاڼه اوبه شوې ډبره وي، چې د مغز د حجرو په بڼه استحاله شوي.
وګورئ، ډبره په زړه کلکه ده که زموږ فکر او مغزي متاع؟ ډبره چې وسله شي، نو یوازې د چا سر ماتولای شي، خو ذهن، چې باروت وپېژندل اوس اصلي ټولوژني ته، د تخنیک او صنعت په لاسو دامونه جوړوي.
ذهن په ټولو قتلونو ککړ دی. د هر قتل څټ ته یو روزل شوی ذهن او باور ولاړ دی.
ذهن مو دومره په «ډبره» مېین دی، چې ډبره په هرڅه کې کاروو. حتا مېزونه او څوکی، د سپکې ارچې د لرګي پر ځای له ډبرو جوړوو. ډبره مو د مېز د سر ښایست دی.
کېدای شي یو ځل دا پوښتنه شخصي کړو، چې ولې ډېری څه له ډبرې جوړو او لوړې بیې په ډبرینو اجناسو ورکوو، لکه چې ذهن ډبره ده؛ خو د مغزو په شکل.
عجیبه ده! زه ددغو ښو، چې اوس را ته په باور او هرڅه بدل شوي، په اړه هېڅ شخصي انتخاب یا تجربه نه لرم.
ولې بل بدلوم؟

- ځکه چې زه سپېڅلي بل ناولی دی،
- ځکه چې زه اصیل بل کم اصل دی،
- ځکه چې زه برحق او بل ناحقه دی،
- ځکه چې زما فکر، نظر او عمل الهي امر دی، د بل د خنځیر او شیطان دی!!!
- ځکه چې زه د پلرو په دود ځم او بل د خپل تللي پلار فکر-باور په ځان کې جوړ او دود کړی،
- ځکه چې پلرو داسې نصحیت راته کړی،
- ځکه چې زما په بل زړه خوږیږي،
- ځکه چې زه جنتي، بل دوزخی دی،
- ځکه چې زه متمدن، بل وحشي/بربر دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځکه چې بل را باندې نبه نه لګېږي،
- ځکه چې د بل فکر، باور، رسم او عادت او هرڅه غلط دي!
- او ځکه چې...

## قتل د ډارنو هنر

اخر دا ولې؟ دا ولې؟؟ دا ولې؟؟؟

ځکه چې دروغجن شولو، خپل حقيقي مينه ګر خدای تعالی مو قهرجن معرفي کړ! نارې مو کړې، چې والله که يو هم پر ېږدي! والله چې له سر او مال سره خو مو سره اور ته واچوي! والله چې...

اوس خپل غږ را منعکس شوی او پخپله د خپلې وېرې ښکار ګرځېدلي يو؛ ځکه نو بريت غټ غټ پر ېږدو، تپانچه او کتاروزمې په ډډو را ځړو! او د عکسونو- يادګارونو له لارې په راتلونکو نسلونو پاچاهي کوو!

لاړ شه، په بشري تدوين کړو، باورونو او نظرياتو يو نظر وکړه! يوه له خپل ذهني- رواني خدايګوټي زرلاسی مار جوړ کړی! بل ښکرور څهارپای په خپل معبد کې ايښی، بل بيا ځانته دومره ويرونکی دروني تصوير ترې جوړ کړی، چې د نامه په اخيستلو سره يې، ژامې کړپېږي!!!

دا له وړ کتوبه ويرول شوي غټان دي، چې د خپل ماشوم هويت د له لاسه ورکولو په ماتم کې، خپل غچ له بل څخه د هغه د «اصلاح» کولو په نامه اخلي!!

دومره غټې خبرې سره به يو څه دمه شو: برکت يوسئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library




«سال‌ها دل طلب جام جم از ما می‌کرد
آنچه خود داشت ز بیگانه تمنا می‌کرد.»
حافظ

## پنځم ګام

«حقیقت هېڅمهال، هېڅ کتاب کې نه ځايږي.»

### ذهن دی فدايګوټی

انسان اسیر دی، ذهن پاچا دی.
ذهن قانون دی.
ذهن غیر مسوول او واجب الاحترام دی.
ذهن ټولواک دی.
ذهن له نیکۍ ډک دی. ذهن ځمکنۍ او آسماني برائت پاڼې په واک کې لري.
ذهن د انسان د ټولې هستۍ فاتح دی.
معاصر انسان ذهن جوړ کړی او موډ کړل.
د انسان ټوله اصلي هسته (خپل یا خود یا self) په ذهن خرڅه شوي.
«زه» په ذهني خوندونو معتاد دی او ددغه اعتیاد له مخې ذهن پر سر سپور دی.
دانسان تلپاتې ژوندی هسته «اروا»، د ذهن د ځانناخبري ديکتاتور په اسارت کې ده.
زموږ ټولې معاملې، دعوې، قضیې، مسئالې د ذهن په لاس کې دي. ذهن تر ټولو بر تر قاضي دی.
انډيوال او يار او دوست را ته ذهن انتخابوي.
مسلک او کار مو د ذهن واک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند جوړه، د کورنۍ طرز مو ذهن ډيزاينوي.
د جامو، ويښتانو، موډلونو ستايل ذهن را ښيي.
خوراک او څښاک ذهن را زده کوي.
راشه درشه، ښه او بد مو ټول د ذهن په وس کې دی.
او ټول ژوند مو د ذهن په لاس کې دي.
ذهن د کولو او نه کول امر او اجازه صادروي.
ذهن له ستر ګو پټ حکومت دی. موږ د ذهن په غوښتنه سوله او جګړه کوو.
ذهن زموږ د ټولو کړو وړو امير او بادار دی.
ذهن لويه بلا ده! هر دليل ذهن را جوړ کړی.
موږ په خپلو مقدسو ذهني دليلونو مړي کوو، مړي خښوو او نور مړي جوړوو!
«زه» د ذهن سرباز دی. ذهن چې څه غواړي، انسان هسې غړېږي، هسې امر کوي، هسې خلک بدلوي...
او چې په خوله نشوه، ذهني مکتبونو او باورونو «قانون» جوړ کړی. قانون زه ته حق ورکړی! ددې حق او قانوني خونديتوب په چتر کې
هغه هر بل رانيسي، بند ته يې اچوي، آزادي ورڅخه اخلي،
چې په دې هم وا نه وښت؛ بيا يې په سوک بدلوي.

## قتل ذهن پيشييني کړاو بيا يې وپنځاوه

په سوک چې بدل نه شوه، په لرګي، په ډبرين تبر، يا په جوهر داره چاړه او يا په عتيقه توره يې ټټر او سينه ور څېري.
اوس خو ذهني اختراعاتو کار ډېر آسانه کړی: ټوپک، تپانچې، ماشينګنې، توپې، توغندي، الوتکې...هله هله هله... آټم او نيوترون او
هايدروجني بمونه؛ ټول د ذهن هوسونه دي چې د تقديس په اوبو سوچه شوي نفس تر امر لاندې، دا نور ټول انسانان بدلوي!
دا مو پا ېښت دی. دا مو دوام دی! او د پلرو پلرو له وخته راپاتې قانون او ټول قانون ساتونکي يې ددغه سپېڅلي عتيقه فکر عمري «عسکری»
ته وتي دي!
انسان غوښن، نرم موجود دی. خپل افکار او باورونه په نرمه لهجه وايي او تفسيروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معلم او ملا، تیوریسن او رهبر دبدبه خپلوي او خلک د خپلو افکارو په کوډو کې را ایسار او بند ساتي.
داسې انسان ډلې، سازمانونه، ګوندونه، اتحادیې او بلاکونه جوړوي او په نورو ډله ییز برید وروړي.
بیا معاملې کوي. بیا اوربند کوي. بیا جزیه ورکوي. بیا له سره یرغل کوي. بیا ولسونه ماتوي، ملکونه او پاچاهۍ نیسي، غنیمت او سره او سپین راټولوي.

## انسان له خپله لاسه!

انسان په ذات آزاد دی؛ خو ور باندې را چاپیره بندیخانه یې د خپلو فکرونو- باورونو غنې (جولاګک) ور باندې را اوبدلې، را تاو کړې!
انسان لا ځانته وزګار نه دی. انسان نور جوړوي. نور بدلوي. نور ښه کوي.
انسان د اصلاحاتو مامور دی.
انسان نور بدلوي. «انسان- دوزخ» همدا دی!
انساني ذهن له دومره دوزخ تکثیرولو سره سره لا هم لګیا دی: نوې معمارۍ، نوي ښارونه، نوي سرحدونه، نوي چین دیوالونه جوړوي او اوږده زمانه، د فلسفې یا عقیدې د خدایګیو په نامه، خپل خوبونه په دفترو او کتیبو کې پټوي او کشیشي ملایانو ته د دنیا او اخرت جوازنامه ورکوي!
حقوقي ادارې زما تر امر لاندې دي. جنګیالي داسې زما فکر- وینا اسیر کړي، چې زما د «اور!» په قومنده، نه وچ ګوري نه لامده!
ځمکه په خپلو ټولو تیلو او غازو او آټومي انرژۍ کې سوځي.
او آسمان هم د ټولو واورو، بارانونو او ږلیو په شکل کې، د لوی مینه ګر، عاشقانه اوښکې، په پټو او باغونو را څڅوي!
او مور، په افریقا کې لمر وخوړولو او په سایبریا کې کاڵ دولس میاشتې واورو وسوځولو!
او چاړه په لاس، د خپلې ذاتي وچې د مخالفې وچې، د ژوند په ښکار را وتي یو!
هدیرې زمور دوزخي عقل خوړلي د آدمیانو بې ساه کلي دي.
هر قتل ته چې ګورم وایم نه چې ما کړی!
هرې اوښکې ته چې ګورم، وایم نه چې ما تویه کړې؟
ځکه چې د غم دوسیه، د «انساني کارنامې» په نامه، د سرنوشت په ارشیف کې خوندي شوې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه باید، د تاریخ په اوږدو کې، د لوړ شوي غرور–افتخار، ویاړ، حماسې– له هسکه لاندې را وغورځم.
غرور– چې موږ ورته د عزت لقب ورکړی– باید دومره اره شي، دومره سوکان وخوري، دومره لغت لغت شي، چې بیا یو ځاځکی وینه زما په ژبه رانشي،
چې بیا یو دانه اوښکه پیدا نشي،
او ژوند د زړونو، ذهنونو، حواسو، عواطفو...د خندا کړس او کړوس په سر واخلي.

## له ما زاړه لاس واخلئ!

هومره ژوندی علم نه یم، چې زده شم.
داسې څه نه لرم، چې زړونه مو ور باندې راشنه شي.
دومره هم نه یم خاوره ایره شوی، چې د غړ تر نغري لاندې مې «سمندر» ښکاره شي.
خو:
ځینې دومره کولپ (قفل) شوي، چې غواړي، زما د «زه»، یا بل یوه «زه»، د فکر– باور په شوق کې، ځانونه بم کړي، واسکټ کړي، او ځان د مافوق سرعت نور راکټ په وسیله، د ثوابونو جنت ته ور پورته کړي.
مطبوعات، رسالې او کتابونه هم زما په افکارو سره دي. او زه د ډیناسور په هډوکو خط خط پاتې لرغونی سرود!
دا ډول زه، د بې نومه او بې نشانه فرعون په څېر، د خپل نفس خدایي جوړوي.
ټول سړي بدلوي.
ټول ګلستان–افغانستان بدلوي.
له ایره کړي ګلستانه د باندې وځي، ټول ګل ګل جهان بدلوي!!!
او ایډیالوجیست زه، یو سړی هم په خپل فکر او دریځ او خپله خوښه آزاد نه پرېږدي.
هغه ګڼي، چې «ښایست» زه یم. «ښه» زه یم.
«متبرک» او «جنتي» زه یم. «شریف» او «اصیل» زه یم.
زه «حقیقت» یم. حقیقت په ما کې «پای» ته رسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه «دايمي کلام»، «دايمي پيغام»،
او «دايمي نجات» فقط زه يم.
نو جهان زما د تورې په وړاندې حلاله وينه ده.
وينه به تر هغو بهيږي،
او زما د تورې په شرنګ به بهيږي،
او لا به سېل کيږي، څو چې ټوله ځمکه، ټول نفوس، ټول نور اويا زره قومونه زما د باور د «غنمو» درمند راوړي!
وګورئ، سوله څومره آسانه کار دی! ټيکاو څومره آسانه لاسته راتلای شي! وينه تويېدل څومره ساده ختميدلای شي!
خو چې ټول زما رنګ خپل کړي:
زه چې په هر نر او ښځه کې،
هرې وينا او هرې خبره کې،
هرې ليکنې او هر فرمان او قانون کې،
هرې فيصلې او محکمې کې،
يوازې ځان ووينم؛ نو بيا بيغمه اوسئ، «زه» هيڅوک نشم وژلای!
که دا نشي منلای، يو ځل يې تجربه کړئ. زه هره شېبه په خپل دغه لوظ ولاړ يم.
به به! «زه» موجود دوزخ دی. «زه» ټول د تصور وړ دوزخ دی.
که د دنيا پر مخ يو څاڅکی تېل هم پاتې نشي، او يوه لمبه غاز هم موندل نشي، او حتا لرغونې چقمقي ډبرې هم ټولې مصرف شي؛ نو داسې
کرخت موسم کې هم «زه» د زرهاوو زرهاوو دوزخونو لپاره اور لري.
د بل بدلولو ذهن دومره لنډ نه خلاصيږي!!!
تر بل ګامه به يو څه دمه شو!
بر کت يوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم ګام

«لومړی ډاډ ترلاسه کړه، چې د خدايي مينې څراغ دې تل روښانه دی؛ وروسته بيا د دنيا کارونه کوه.»

لږ تر لږه څلوېښت کلونه کېږي، چې د ډېرو د عصر او د رنسانس د عصر، د فکر سوداګرو، دلته د بل د بدلولو دوزخ سور کړی. دا بازار د قصابی مسلخ دی. دې بازار کې د هر بل انسان شخصيت، هويت، فکر، خيال، ايمان، شرافت او بالاخره فرديت، چاندماری شوی او چاندماری کېږي.

### د ذهني مخربو نفسانياتو ژبه:

زما کړه وړه ټول قانوني دي. يوازې زه د بخښنې سرچينه يم.
زما امر د حقيقت له کوره راغلی. زه د حقيقت مبلغ، ترويجګر، ساتونکی او قضاوتګر استازی يم.
زه بايد وساتل شم. زه بايد لا څواکمن شم. زما شاوخوا بايد د ساتونکو ديوال روان وي.
د ځمکې د شتو قبالې بايد زما په نامه شي. د ژوند انرژي زما د فکر د کالبوت وينه ده. ژوند بايد زما د فکر پلي کولو لپاره مصرف شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې زما فکر او باور کامل دي او له یوازینۍ منبعې را سپارل شوي.
دا چې ذهن کې د یوه فکر - باور رامینځته کېدل او ډېره کېدل له څه لارو، او څه ډول تر سره کېږي؟ دا باید راوسپړل شي.

## ذایقې روزل کېږي

په ماشومتوب به مور زړه راباندې خوړ، چې ولې غوښه، کوچ، ژېړ غوړ...نخورم!
ما به د خپلې ماشومانه ذایقې روژه یا په سپینو غټو وریځو او مستو ماتوله او ور سره مې هګۍ او شړومبې هم ښې ابسېدې، خو د ژړو غوړو او کوچو یا د پسه د وازدې بوی به چې راباندې ولګید، بیا چا په دسترخان نشوم کښېنولای!
مور به راپسې سر ګردانه وه او ګاونډیو ته به یې زړه تشاوه، چې «انور، څه شي ته خوله نه وروړي! اخر زه څه وکړم!؟ بې له مستو او شړومبو په بل شي ځکه هم نه ځړي! اخر سبا به یې کولمې وچې شوي وي! بیا یې زه د پلار جواب په څه شي ورکړم!؟»
د آغالالا ښځې، یا د حاجي کاکا ښځې به ورته وېل، یو ځل به دې ملاکاکا ته بیولی وای!
د ملاکاکا د دم او دعا وختونه هم تېر شول او پر ما هم ماشومتوب داسې د یوه کاغذي فرمان په څېر تېر شو. د ژوند په مینه ګره سپینه پاڼه کې ټول خپلې خوښې ته پرې ایښې وم، چې څرنګه راته طبیعي، آسانه او په خوښه بر ښېي، هسې انتخاب وکړم. خو ابو زه غټ پټ او سور او شین غوښتم.
د ماشومتوب جنت هم ولاړ. هغه میدان، ها د خزانه دار عیسی خان د کلا نوم هم ولاړ! ها د غوا کوچ او شودې هم ولاړې!
«آبو» هم ولاړه! زه هم ځوان او پسې دومره په عمر سپین شوم، چې اوس د سر وېښتانو رنګ ته ناست یم؛ خو اوس ډېرې خواړه، حتا ځینې هغه خواړه، چې له ګاونډیو ملکونو افغانستان ته راغلي، په آسانۍ او خوند سره خورم.
دا بدلون څرنګه رامینځته شو؟ زما ضد ناکې ذایقې څرنګه خپل عادت بدل کړ!؟ د وسلو یا د سرو او سپینو زرو د کوم انقلاب د فرمان کار وه، که د جراحۍ پر میز عملیاتو، زما ذایقه دومره ډېرو ناآشنا خوړو ته آماده کړه!؟
نه! نه ذایقه عملیات شوې، او نه هم ما د کوم فرمان له مخې دغو خوړو ته تابع کړې؛ بلکې ما خپله ذایقه داسې روزلې.
ما په دې باندې په پوهېدلو سره، چې راز راز سابه، میوې، لبنیات او نور خواړه بدن ته ګټې لري! د هغو په خوړولو پېل وکړ. ذایقې لومړیو وختونو کې عکس العمل ښود، خو ورو ورو آرامه شوه، عادت شوه او اوس له دې ټولو خوړو خوند اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




له دې ښکاري چې ذايقې ابدي نه دي؛ بلکې روزل کېږي.

فکرونه-باورونه، «ښه» او «بد»، «اخلاق» او بداخلاقي هم داسې مادي- زماني دي.

هغسې چې ماده زېږېږي، شيان، څېرې زېږېږي، زمانه هم تېرېږي؛ او په دې مخ په زېږنت روانه مادي زمانه کې، دا شيان هم زوکړه، ځواني، زېږنت او تمامېدل لري؛ خو وېل يې يو څه وخت غواړئ!

تر بله ګامه به لږ چرت ور باندې ووهو!

پر زړونو مو برکت شه!



**کليدي جمله: «د عشق طريقه، د خرد او فهم له طريقې غوره ده؛ ځکه چې په عشق سره، هغه ټول په لاس راوړلای شي.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library





داکتر نجیب الله، پکتیا کې دې خاورینې دنیا ته پښه را کښېښوده. انقلابي را لوی شو. اوږده کلونه یې د «دولتي اطلاعاتو د خدمتونو اداره» وڅرخوله. بالاخره له دې هم لوړ شو. د هغه ګوند په سر کې کښېناست، چې د «ثور دموکراتیک انقلاب» صلاحیت او مسوولیت ور له غاړې وه. ویې لیدل، چې د مساوات انقلاب د بل بدلولو ناسور دوزخ دی ؛ نو له دې کشف سره یوازې سر میدان ته راووت، چې د ټولو سرونه، مالونه او د ژوند طرزونه د «ملي روغې جوړې» په بېړۍ کې، د چوپیا او آرامۍ برزخ ته وباسي ؛ خو خپلو جنرالانو، د انقلاب د تیوریسنانو په هڅونه، له واکه لېرې او د آریانا څلورلاره کې د پانسۍ کېدلو تر شپې پورې بدرګه کړ.

## اووم ګام

«د جګړې د دوو خواوو دوه سرتېري، چې نه سره پېژني، د هغو دوو تنو لپاره جنګېږي، چې یو بل پېژني؛ خو خپله نه سره جنګېږي.»

ماشومتوب کې به کله ناکله، د مور بیا، بیا وېلو په سودا کې واچولم، چې زه به کمزوری را لوی شم! همزولي به-چې ډېر ژېړ غوږ، غوښې، وازدې او کوچ خوري- زورور، هڅور او غښتلي پهلوانان را غټ شي!! بیا به زه هېڅا سره د جنګ نه وم!!!

## د پارتبازۍ او چاکوکشۍ دوره

څلور، پنځه کاله له ما مشر د تروری زوی مې، محمد حکیم-چې اوس د ملي پولیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړن دی- ښوونځي کې تر ما یو صنف دمخه وه. دا هغه وخت وه، چې له بهره راغلي سیاسي ایډیالوجۍ، مکتبونو ته په ښکار راوتې وې؛ ځکه نو «ګوند، ګوند بازی» او «پارت، پارت بازی» وې! ځکه نو زه هم، د تروزرزي په پارت کې شامل شوم.
د هغه ترور بیا کابل کې واده وه، ځکه یې نو د کابل نوآباد ختېنې کوڅې وروستي سر کې، د شپې ځای درلود. هغه به له کابله بکسپنجې او هشت تقه چاکوګان راوړل او مور اخیستل. ما هم یو غټ چاکو را ونیوه. دغه چاکو برنجي پوښ کې پټ وه، چې په خاص فنر سره به یې تیغ دباندې راوت.
اوس نو میدان مرکزي لیسې ته هم د سرو او شنو سیاستونو خوشبویۍ راننوتې وې. مکتبیانو به مظاهرې کولې، چاکوګان او بکسپنجې به یې ګرځول او دغو په ظاهره ملکي ټولیو او کنډکونو یو بل ته تور او بر ښن درلود؛ خو نوره قومنده یې د هم رنګه معلمانو په لاس کې وه.
دا د یو بل بدلولو د دوزخ پېل وه. دغو ایډیالوجیکو ټولیو او کنډکونو کې د فرد رنګ ضایع کېده، او ټولو ګډ رنګ خپلاوه.
د عصر مانیفستې او ایډیالوجیکي ماڼیو ته سرې ننوت؛ خو هلته په «توده» او فکري «پر ګنه» بدلیده.
ایډیالوجي او عقیده یې، بې شکله خوړونکې وه.
دغې ګېډې له ټول نفوسه کالبوت جوړاوه.
دلته وګړي د فکر، احساس، عاطفې، غریزې، ارادې او حتا روان له پلوه خلع سلاح کېده.
او د فکر او باور په تارونو، د ایډیالوجۍ او عقیدې د آرماني انسان، تر امر او ارادې لاندې اېل کېده.
ځکه نو سره خوله ځوانانو په آسانه منله، چې «تره کي او ګوند روح او جسم دي!»
ځکه نو سید داود تړون، ځان د سرو ګولیو مخته ور وغورځاوه، چې د انقلاب ستورې ژوندی پاتې شي!
ځکه نو د یو مدرسه خوانه ملاصاحب په فتوا، زما او ستا زوی، ورور او کلیوال، د واسکټ اورونه په خپله سپینه سینه تړي او ځانونه په اوداسه د امریکایانو، یا داخلي فوځیانو او پولیسو، او نیکتایي داره رږېره خریلو ډالري معاش خورو او نورو عوامو مینځ کې الوزوي، چې جنتیان ژر جنت ته او دوزخیان ژر دوزخ ته ور واچول شي!
حیف راځي له دومره قضاوتونو څخه!
خو دا ولې؟؟؟
زما یې د چا په ژوند څه؟
زما یې د چا پر فکر- باور څه؟


(c) ketabton.com: The Digital Library



زما یې د چا پر ډک او تش دسترخوان څه؟
زما یې د خلکو په خپلمنځي او رضاکارانه، «عادلانه» یا «نا عادلانه» اقتصادي او اجتماعي اړیکو څه؟
زما یې د چا په جنتي کېدلو او دوزخي والي څه؟
زه ولې د خدای په خدایي کې ګوتې وهم؟
زه ولې د سرنوشت په سرعت کې ګوتې وهم؟
زما ولې د چا «جنت» ته او د نورو «دوزخ» ته لېږلو لپاره بېړه ده؟
ځوک به وي، چې تر خدای تعالی دې زیاته لورینه، زیاته مهرباني او زیاته مینه له یوه، یوه «روح» سره ولري؟؟؟
له ما د څه شي پوښتنه کېږي؟
او که زه ویني تویې نه کړم، د خدای تعالی په ابدي پادشاهۍ کې به څه کمی یا زیاتی راشي؟
لږ که سر ګریوانه ته کوز کړم، نو ښایي د خپلو ذهني، وحشي، نفسي ښامارانو نارې، سورې را په غوږ شي!
ذهني نفسانیات عبارت دي له: کبر، شهوت، تړلتیا، طمعې او خودپرستۍ څخه!
کبر (غرور) مې دادی، چې ځان «من» ګڼم نور چارک، پاو، خورد، مثقال...!
یو شهوت مې دادی، چې د وینو د ویالو په خاص موسم کې، د جنت حورو او غلمانو او د شرابو ویالو ته ور تیریږم!
تړلتیا مې داده، چې غواړم هم «شهید» شم، هم «غازي» شم او هم «روغ او سلامت» کور ته راشم. او داده، چې «اول ما، بیا مې مور او پلار، بیا مې خویندې ورونړه، بیا مې ښځې/مېړه، بیا خواښې خسر...او اخر کې دا نور دله ګڼان!!!
طمعه مې داده، چې یو ځانملې سړی (رهبر، امیر...)، یا د مړو کبرونه واسطه کړم، او پرته له عملي امتحانه، هم په ځمکه کې او هم په آسمان کې، لوی منصب تر لاسه کړم،
خودپرستي مې: «تر ما اتل نسته! په هند او سند او په کابل نسته! تر ما اتل نسته!!!»
عذر کوم، فقط غواړم خپل د عمرونو زخمونه دلته په ګډه کشف او که خدای تعالی غوښتي وه، خپل دایمي رنځ له ریښې درمل کړو.
بس تر بله ګامه به ټول پر دې نیمه نظرونو یو څه دمه ونیسو!

(c) ketabton.com: The Digital Library





څه به نه وایم: انځور ته به غوږ شو!
(...) سکوت ټول هغه متن دی، چې یو رنګه ګز ګز په خبرو راځي او کتابونه ور څخه متر کېږي. سکوت د غږ ساه ده. بې ساه غږ مړ دی!

## اتم ګام

«انسان باید کوښښ وکړي، چې د خپل ذهن او جسم بادار شي... او له خپلو همنوعانو سره مهربانه او جوړ واوسي.»

### تر بم ژوري کریغي

تر ګام اخیستلو د مخه، زما شخصي عذرونه!
زړه مې غواړي، له دغو کلمو ووځئ او ووځوا!
غواړم، په دغه سنګي خط سره پل واخلو او اخر ځانونه د خالصې پوهې سمندرغاړو ته وباسو!
نو تاسو یې هم را سره ولولئ؛ خو پر ځان پورې یې مه تړئ.
ځکه چې زما لپاره ژبه، د نسبي پوهاوي وسیله ده.
دغه ژبه، په هر صورت یوازې کریغې جوړوي! او غواړم دا کریغې دومره اوچتې کړم، چې تر هر بل بم نه ژورې ولاړې شي او د اوږدو زمانو له ډېرو خیرو لاندې ویده «ځان» را ویښ کړي!
نو زه حق لرم، ته حق لرې او هغه حق لري، چې په خپلو تجربو سره، د ذهني واکمنۍ په ماڼۍ زلزله ګډه کړي،
او زموږ او ستاسو د وجود دننه، خوداګاه برخه (روح) را ویښ شي
او موږ ټوله لاره، ټوله مصافه د ځان دننه کشف او په مینه ګړ، نڅاه ډوله حرکت سره وړاندې ووهوا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



«چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي!
چا وېل چې په درياب کې ګوهر نشته!؟»
خو دا غوټې به د ځان دننه وهو؛ د وجود د کيهان سمندر دننه دی؛ خو چې دومره زړه را په کې پيدا شي!!!
اوس د خپل روان ګام خبره:
په ايډيالوجيک حکومت کې، د ذهني پاړوګرو، په تيغ بنديو سره، د فرد فرديت- ښه ده ووايم شخصيت- قصاص کېده او درګرده کېږي.
دلته آزاد انسانان، د ايډيالوجۍ په سرفو کې ذوب کېدل (او کېږي) او له هغوی (سازماني ډله، کتله، رمه، ګله او خېل) جوړېدل او جوړېږي!
دلته هرچا له خپلې خولې نفس کاږه، هرچا په خپله خوله خوړل او ښبل کول، هر چا په خپله خوله خبرې کولې، هر څوک په خپلو پښو روان وه، هر چا په خپلو لاسونو بل له ستوني را نيوه او را نيسي يې...
خو دغه پښې او لاسونه، دغه سترګې او غوږونه، دغه خولې او ذهنونه او حتا احساسات، په مرموز ډول، د ايډيالوجۍ په (نو) او کولمو پورې تړلي ول.
او هلته په سر سر کې، يو ځاناخبره پاړوګر ناست ؤ! هغه فکر کاوه. هغه تصميم نيوه. هغه امر ورکاوه!
همداسې، د مکتب په دوره کې، شرايطو ته په کتلو سره، ايډيالوجيو خپل سر تيري په چاکوګانو او بکسپنجو سنبال کړل؛ خو ما له دې شوقه چاکو ګرځاوه، چې همزولي مې ومني. همزولي را ته د نارينه په سترګه وګوري؛ خو د حزبونو د کارو بار لا نه وم.
ګونديان له ورايه معلوم وه. د هغوی د هر يوه ډېل يا سلايي په شان نري بريتان ددې ښه وه، چې څوک دی او د چا د بدلولو لپاره ګوندي امر ته منتظر ولاړ دی؟
هغوی زورور وه. د مکتب او ادارې وس نه پرې رسېده.
بيا داوود خان مباشتنی آزمويني راووېستې، او د دوی تبليغات لا په لمبو شول. يوې خوا خپل مکتب د «ارتجاع، امپرياليزم، فيوډال، ملک، سي ای يې، امريکا...» په اور بلاوه. بل سازمان په «سور استعمار، کمونيزم، شوروي، کاجې بې...» بل د څه شي، بل د څه شي مړي له کبرو را وېستل او شرمول!
د خولې شعارونه وه او په دې خاطر د ثانوي دورې هلکان، په ډله ييز ډول، د يو بل بدلولو ته ستراتيجۍ او تکتيکونه جوړول او هغې ورځې ته ور نېږدې کېدل، چې د سردار په لاسونو جوړ جمهوري نظام نسکور او د بدلون بيرغ په ارګ ورپوي.
نور به دمه شم. تاسو دې نيمه نظرونو ته يو څه دمه شئ!
زما ټوله ليکنه دې ستاسو هر يوه له فردي تنوع او شخصيت څخه زار شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ماشوم لپاره د چرګ آذان، د پشيانو د ناوې د سر خپرې، د سپېڅلو سپينو وريو ور ښنمين غږونه، د مرغانو وږيا ساز او سرود، د مور او پلار د خوب خر بدل...ټول لويه دنيايي سمفوني جوړوي. ماشومان نه وېرېږي؛ ځکه خداى چې شته؛ نو سړى له څه شي وو وېرېږي؟

## نهم ګام

«خداى مينه کوي، او له خپلو بې پروا مينه ګرو په کلکه ساتنه کوي. او ورو ورو هغوى د ځان په لور ور کاږي او جذبوي.»

### د ايډيالوجۍ او بې ژونده باورونو جال

ژوند او عملي تجربې وښووله، چې ايډيالوجي ژوند هدف نيسي. ايډيالوجي ژوند دښمنه ده. ايډيالوجي د هر دا ډول قتل مسووله ده.
ايډيالوجي او وچ باور، ځانپرست او خودمحوره دي.
ايډيالوجي او بې ژونده باورونه، د حقيقت بت کول، د بت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي لمانځل، دودول او عادت ګرځول دي.
دا په ظاهره پوهه، روښتیا، عقل، منطق خو په معنا کې وچ باروت او سوزنده جهل دی.
دا د بل بندولو، زورولو او وژلو اخلاق دي. موږ د یو بل بدلولو په دوزخ کې، یو د بل په وینو سره پره ولاړ یو او لاهم ځیني شته، چې باور لري، د بل بدلول؛ د سرنوشت اراده ده او باید ټول استعدادونه، اختراعات، وسلې، ښکاره او پټ امکانات، د بت-باور په مزدوری او برده ګۍ کې وي.

## موږ د عادتونو مریان

یوه ورځ خبره را نه ټولګي کې خطا شوه. د رخصتۍ له زنګ سره، خپل ټولګیوال غلام حضرت-وروسته د څارندویو افسر شو او په غلام حضرت پخپلسر مشهور شو- ګوښې ته کړم. ګېډه یې را لوڅه کړه. وېل یې «باخبر چې ما څو چاکو ګان خوړلي! چې بیا دې زه ولیدم، صنف کې نیغ نیغ نشي؛ له ما به ځان ساتې!!!»
په دې ورځې پوه شوم، چې د چاکو ګرځولو او چاکو وهلو د کار سړی نه یم. بس چاکو مې د لاندې کلا آصف ته، چې ستر ګه یې د باروتو په اورلوبه کې له لاسه ورکړې وه؛ ورکړ او هغه یې پیسې د مکتب په کتابونو را خلاصې کړې. څو ورځې په احتیاط ګرځېدم؛ خو ورو ورو مې عادت بدل شو، او پوه شوم، چې زه ښه وم؛ نو ټول ښه دي!
د چاکو عادت مې پر ښېښود. داسې هر عادت بدلېدای شي.
فکر، دریځ، چلند، ډول، جامې هرڅه داسې دي.
سنګار او د ځېرې، وېښتانو لړل او نه لړل او ډولونه یې ټول داسې دي.
کورنۍ ژوند، د کورونو ډول، د کورونو مهندسي، لارې، ګودرونه، سړکونه، باغونه، میله ځایونه، ورزشونه، راشه درشې، جشنونه او نمانځغونډې، د برکت ځایونه او سړي، او ځېږونه،
ادبیات او موسیقي...دا ټول ځکه راباندې ښه لګېږي، چې ورسره عادت شوي یو.
دغه سپېڅلي پلرونو راکړي، او خپله د هغو له مینځه، اصله او اصالته نه خبر یو او نه څه شخصي تجربه ورځخه لرو.

## ژوند د ماشومانو دی

«ماشومان که د مشرق یا د مغرب دي- د ژړا او د خندا انداز یې یو دی» ساېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ځانونه ماشومانو سره مقايسه کړئ. ګورئ، هغوی نه موږ په شان خواږه خوري، نه هسې جامې اغوندي، نه هسې راشه درشه پالي، نه هسې احساسات ښيي،

نه زموږ له خبرو، او عقلي - منطقي بحثونو خوند اخلي

او نه زموږ د سپېڅلو عادتونو او څيزونو څه خيال ساتي!!!

ماشومان پټ پاچايان دي.

هغوی په زړونو دومره شتمن او ماړه دي، چې بې تخت او تاجه پاچاهي کوي.

هغوی ته پوړنده پيتاوی، د ويالې غاړه، دښته، د شتوتلو پټی، د خره د شاه سپرلی، منډې، ځغاستې، خنداوې...هرڅه د باچاهۍ بې شانه تختونه او تاجونه دي.

د ماشوم لپاره ټوله ځمکه د پاچاهۍ تخت دی.

ماشومان ژوند کوي؛ خو په هېڅ شي زړه نه تړي، په هېڅ شي عادت کېدل نه مني.

ماشومان په دومره خبرو نه خلاصېږي، نو تر بله ګامه به يو څه ساه واخلو!

په زړونو او زړورو خيالونو مو برکت اوسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم ګام

له دې کوخې يې
څراغونه هدېرې ته وړي
کورونه قبرونه لري
ومان نيازی

### د اسماعيل قصه داسې هم جوړېږي

اووه، اته کاله دمخه، چې ملي راډيو تلويزيون کې، د نجيب روشن د رياست په زمانه کې، هلته په کار لګيا وم. يوه ورځ د تلويزيوني خبر په څانګه کې، په دې اورونو-انقلابونو غرېدلو، چې ارواښاد کبير عمرزي دا کيسه ميدان ته را واچوله او موږ يې ور باندې چوپ کړو:

هلمندی بابک، د کلي او تربرو پيغورونو تنګ کړ، او مخ په کابل يې را واچول.

بابک، له کابله مخ په ګرديز ور ولويد. ددغې کيسې «اسماعيل» يې، د حکومتي اردو په يوه اطرافي کنډک کې پيدا کړ. له دومره ستړيا



**حقيقي تسليم: «نفس بايد له هرڅه لاس واخلي؛ ترڅو روح وکولای شي، له خپلو (مادي، عاطفي او ذهني) پوټکو او غلافونو ووځئ، او د بشپړې آزادۍ په لور لوړ شي.»**


(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې لاسونه ورکړل، چې اسماعيل يې مچ کړي. شپه يې هم په قشله کې ور سره واړوله، خو په دې شرط چې کلي ته به ورسره ځي، او پلار به يې واده ورته کوي!
اسماعيل، له ټولې کنډک ته، له کنډه غونډ ته...همداسې د امرونو سلسله تکميل کړه او له پلار سره، کلي ته د واده په رخصتۍ ولاړه.
سپين، يا غنمرنګی، ږيره خرېلی، ځوان وروسته له وختو کلي کې کښته شو.
چا پېژانده او چا نه پېژانده. خو کلي کې دا خبر لکه باد داسې تيت شو:
«خبر ياست که نه؟ پلار يې خپل ضابط اسماعيل زوی کلي ته را ورساوه!!!»
اسماعيل، يوه يوه همزولي ته کتل او اوبه کېده. ښه وه، اخر په کور کې له دومره ستر ګو ګوښه شو!
شپه شوه. ډوډۍ وخوړل شوه. ملا د لمانځه آذان وکړ. پلار خپل ضابط زوی، په ښايسته سپينو کاليو کې، په جومات را ننويست. له دې سره ټولو مخونه له آمام را واړول، او حکومتي ضابط ته يې کتل.
اسماعيل شرم نيولی وه، او ځان يې وروستي صف کې برابر کړ. ښه ۀ دې وخت کې قامت شروع شو او کلي ته راغلي ږيره خرېلي ځوان، په خوشحالۍ لاسونه د غوږو نرميو ته ور پورته کړل.
جمعه خلاصه شوه. ځوان مسافر غوښتل، چې پورته شي له کليوالو مشرانو او همزولو ځوانانو سره په غاړه ستړي مه شي وکړي؛ خو د قومندان پلار سړي پرې را تاو شول. اسماعيل يې سوټ بوټ وتاړه. پلار چاړه را کښله او د ستر ګو په رپ کې يې ځان له دې غمه بېغمه کړ. يو شغغغغغ شو او د تکبير نارې پورته شوې. دا کار د پلار قوماندان په دې خبرې سره ختم شو:
«جهاد بايد له ځانه پېل شي!»
آه! لږ به ددغه زرغون درد له جاري اور سره چوپ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## يوولسم ګام

«مه پر پرده، چې د نورو افکار، حتا زما...تا په حرکت راولي، او د هغوی په افکارو پسې مه ځه. ددې پر ځای خپل زړه ته غوږ اېښوول زده کړه. ژر به زده کړې، چې جسم او ذهن مو په يوالي کې دي او هغه مهال له ټول ژوند سره يووالی درک کوې.»

**موږ ماشومان په زوره له لاسه نيولي، چې لويان شي! ماشومان د لوېدلو په خطر ور روان دي. خو شاهد يو، چې په دغه «لوی ځان» نشو ماشوم کېدلای.**

زموږ «اسمعيل» خو خپلې مادي جامې (کالبوت) له لاسه ورکړې، خو روح الهي سپرغۍ ده. او دغه د غږ او رڼا د اقيانوس مسافر څاڅکی نه مري او نه يې څوک اسيرولای شي.
روح نه څوک بند ته اچولای شي او نه يې ژوبلولای شي.
نوزړونه بايد داده اوسي، چې الهي سپرغۍ به له اوږدو سرګردانيو، آزموېښتونو، او تجربو وروسته، د ځانپوه موجود په توګه، خپل آسماني کلي ته ستنېږي. نو راځئ يوه شېبه ماشومانو غوندې له اندېښنو سپک شو.

### ماشوم د حقيقت خالصه څېره

ماشوم د حال زمانې اوسېدونکی دی. هغه ته حقيقت هره شېبه ژوندی

(c) ketabton.com: The Digital Library





دی.
ماشوم هستي او نيستي يوه ګڼي.
هغه ته ځمکه الهي باغستان دی، او آسمان په دغه باغستان را چاپېره کېږدی دی.
د ماشوم د سپين او خالص عقل په تله کې د ژوند پاچا، د ټول ژوند او ژوندو باغوان هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم چې د سرو زرو کانونو باندې ودروې، خو د هغه سترګې، حواس او زړه د بوډۍ په ټال کې الوزي را الوزي.
ماشوم زړه لرونکی دی او زړه په کې پاچا دی. هغه نه د نصیحتګر پلار کوي، نه د ملا او نه د هغه ډاکتر، چې راغلی او ورباندې د ایچ ای وی او ایچ ای څه شي واکسین لګوي.
ماشوم زړه ته تسلیم دی او زړه يې خدای ته پرایښی. تر ماشوم بل زړور نشته.
ماشوم ته د یوه پاچا کېدل او د بل باغواني، د اوبو په شان آسانه دي.
ماشوم ته ځمکه کور، آسمان يې چت، ستوري خدايي څراغونه او سپوږمۍ خدايي ناوې ښکاري.
او لمر د ژوند لوی باغوان ګڼي.
ماشوم ته دوزخ او جنت، د کور تنور او باغچه یو شان برېښي؛ فرق يې نه کوي.
ماشوم ته دغه شېبه رښتیا ده. هغه هر چېرې چې دی، هغه يې وطن، هغه يې جنت دی.
ماشوم ملائکې او ګاونډ باغ کې په خندا شنې پېغلې، یوه له بلې ور کې همزولې ګڼي.
ماشوم ژوند حلال ګڼي او له ټول ژوند سره مینه حلاله تر سره کوي.
ماشوم هرې څېرې، هر تفاوت، هر راز فکر-باور خاوند ته خاندي، هغه له هېچا نه وېرېږي؛
ځکه نو ماشوم د هېچا د بدلولو نیت او عمل نه تر سره کوي.
ځکه نو ماشوم له بنده آزاد دی.
ځکه نو د ماشوم وژل په هېڅ فکر او باور کې نه ځایېږي.
ماشوم ژوندی حقیقت دی؛ ځکه نو د حقیقت اولاد هم دی.
حقیقت يې پلار دی، مور يې دی، ژوند يې دی، شېبه او زمانه يې دی،
حقیقت يې د سترګو او بڼو په شان دی،
حقیقت يې د شاهرګ په شان دی.
حقیقت يې د سترګو تصویر دی،
حقیقت يې د خولې غږ دی،
حقیقت يې د اورېدلو آواز دی،
حقیقت يې شېبه شېبه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم همیشه په حقیقت کې دی.
ماشوم ته د کلي او کور دیوالونه، د هیوادونو پولې، د زندان پولادي دړې، پنجرې،
ځنځیرونه او زولنې، او روزل شوي زندانبانان، ټول اضافي دي.
ماشوم مور ته د دوه روپیو نه دی. دومره ساده ګي او بې پروایي یې، هېڅ فکر او فلسفه زموږ لویانو زړونو او فکرونو او حواسو ته نشي را کولای.
ماشومان دومره زړور دي، چې لویان شي؛
خو «لوی» دومره بې زړه دی، چې بیا هېڅکله نشي «ماشوم» کېدلای.
حقیقت د ماشوم هم عمری دی. ځکه په زړښت کې د ماشومتوب سهوې او خطاووې خوږې را یادوو او خپل مړه زړه ته، په دې خاطرو سره، سیروم ور تېرو.
ماشوم د هستۍ په اندازه دی، او «زه- لوی» یوازې د ځان په اندازه!
ماشوم له هر ژوند او هر ژوندي سره ژوند کوي؛ ځکه بې زمانه دی؛ خو لوی هر بل ژوند ته له رسیو، چړو، تپانچو، لاسي بمونو او له اوره ډکو واسکټونو سره ولاړ دی، ځکه په عمر تنګ دی. لوی یوازې په خپل ذهن کې ژوندی دی. او نور ژوند ته مړ دی.
ماشوم ژوندی شخصیت دی؛ خو لوی! لکه په انتحار کې د الوتي بدن یو میلیون تیتې عضلې، هډوکې، غړي، نه ویلې ارزوګانې او نورې راز راز برخې!
آه! څومره را سره وسوځېدلي په دې سوځنده عکسونو، چې زموږ لویانو د سرنوشت په تابلو را ځړ یږي! [1]
لږ به د زړه په کور کې دمه شو!
لویه خدایه! لږ مو زړه را ماشوم کړې!

---

۱ - زه ډېری مهال د قصابۍ دوکان کې، ټوټه ټوټه ځوړند پسه، وزې... ته ګورم او د هغه د برخې برخې شوي بدن درد، په خپلو حواسو کې تجربه کوم. پسه د مخلوقاتو تر ټولو د شریف موجود د ذایقې هوس، شل برخې کړی: تنه په یوه چنګک، زړه او ځیګر په بل بل چنګک، لاسونه او پښې دباندې له کلې سره، د ګردې لرګینې غولې پر سر ایښې، او سترګې آسمان ته حېرانې نیولې: وای وای انسانه ته میوه خور وې، غوښه خور شوې!
دې ته په کتو سره، ښایي زه د خپلو ټوټه ټوټه اعصابو، افکارو، احساساتو، وېلو او نه وېلو عواطفو، رواني او دروني رنځونو...په پاشلي حالت ویر نیسم. ښایي ډېری نور غټان هم زما په شان پاشلي ذهني، رواني، عاطفي وضعیت ولري؛ ځکه د ژوند خوند را نه کډه کړې؛ ځکه نو د ماشومتوب د شوتلې او مالګې خوندونه په خوب هم نه وینو؛ ځکه نو بوتلې اوبه هم مور ته د وېالې د خړو او ککړو اوبو خوند نشي راکولای!

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولسم ګام

«د بل وګړي د آزادۍ له پېلېدلو سره، زموږ آزادي ودرېږي؛ دې ته د مسوولیت واټ وای.»

## ماشوم مغزلوڅی حقیقت

د ماشوم سترګې، حواس او زړه په ژوند را ټول دي. هغه یوازې ژوند ویني، یوازې په ژوند پوهېږي، او یوازې ژوند کوي؛ ځکه خاندي، بې پروايي کوي، او که د مور د ټول عمر د سرو او سپینو غوټه په لاس ورشي، نو د دوه روپو په اشپلاق یې ورکوي.

ماشوم، انساني ذهن جوړ کړي شیان، په دوه روپیو سودا کوي.

ماشوم له حقیقت سره ځنګ پر ځنګ، خوا په خوا او حتا یو ځای اوسي. حقیقت سره لوړېږي، غوړېږي او د حقیقت د یوه بخرکي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان اوسي.
ماشوم ته حقیقت تک سپین او داسې دی؛ لکه د سهار ژېړې لمر،
لکه د تورې شپې سپینه سپوږمۍ،
لکه د سین شین شوړس،
لکه د ژرندې د ډبرینې میچنې ګرځنده حرکت،
لکه خپله خندا او ژړا یې،
لکه د مور مچه یې،
او لکه د ځمکې پر مخ، د ژوند میلیونونه رنګینې او متفاوتې ځېرې.
د حضرت مسیح دا خبره بیا را په زړه شوه، «چې ماشوم نشې جنت به ونه وینې!»
ماشوم ژوندی دی، تر او تازه دی. ماشوم یو دی. ماشوم یوالی لري. ماشوم په ټول ځان او «یوه ځان» پوه دی او واحد ځان اوسي.
ماشوم ژوند کوي او لویان ژوند تېروي.
ماشوم «ژوند کول، ژوند باندې پوهېدل او ژوندی اوسېدل» یو ځای تر سره کوي. خو لویان یوازې د ژوند سېل او ننداره کوي!
ماشوم د ژوند کامله ننداره ده. ماشوم د حقیقت ژوندۍ ننبه او څېره ده.
ماشوم حقیقت حاضر ګڼي. ځکه چې ماشوم په هېڅ شي باور نه لري.
ماشوم حقیقت کې داسې حل دی، چې حتا ذهن کې یې نه ساتي. ماشوم د حقیقت اوسېدونکی دی.
او بالاخره: ماشوم مخ لوڅی حقیقت دی.
ماشوم په ځان پوره دی. له پوهې، حافظې، عادته پاک دی.
ماشوم د هېڅ شي په اعتیاد اخته نه دی.

## د قومندانانو د شورا فیصله

بالاخره پر شمال د را خور جنرال په خودمختارۍ سره، د اسلامي انقلاب په خس او خاشاک مالامال سېل، د «ثور دموکراتیک انقلاب»، په وچه او خړو نیولې پلازمېنه (کابل) را واوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره، پر کابل را سپرې څلور واړه لارې خلاصې شوې. له پلچرخي، سنګ نوشته، کوتل تخت، او کاریز میره، کلیوالي ځوانان، چې کلونه کلونه یې، د کابل آرمان کاوه، ټول د «الله اکبر» له نعرو سره، آزادانه په کابل را ننوتل.
په کابل کې بېرغ بدل شو. دریشي پوشه وزیران، او رییسان په کورو کښېناستل، خو ځنې یې له پکول او پټو سره، د نویو فاتحانو مبارکۍ ته ورغلل. له راډیو افغانستانه د جواد غازیار، «مجاهد مجاهد...!» ترانه پورته شوه. پاکستانۍ څوارلس منی بوجۍ اوړه او پاکټي غوړي، منډویانو ته راورسېدل. د کوپون مغازې بندې شوې. او آزاده موسیقي، تلویزیوني پروګرامونه، د ښځو عکسونه، او عسکري دریشۍ بندې او له کابله ورکې شوې.
موږ کابل کې بند پاتې «کمونستي بقایا»، اوس د نویو فاتحانو تر شک لاندې، کلي ته ولاړو.
د مېدان درې، د چاریکې سیمې، د حزب اسلامي تر زرغون بېرغ لاندې ساه کښله. زما د مکتب دورې ټولګیوال، عبدالرقیب، اوس جهادي لوا مشر وه. غاړې مو سره ورکړې؛ خو زړونه مو سره ونه تخنېدل، خبرې مو سره وکړې؛ خو د کر کې، ځانپالنې، او فکر-باور دریځ، د ولیو مینځ کې مېړیان را خوشې کول.
بله ورځ کلي ته د ملاکاکا له مرکز څخه مکتوب راغی. ضابط آمان، چې نصب دوسته مجاهد قوماندان وه، خلک خبر کړل او په شپه شپه کې یې ټول، پټ په پټه په «قول» واړول او خوندي یې، کابل کې خپلو کورونو او کورنیو ته را ورسول او په دې توګه څوک د قومندانانو شورا ته په لاس ورنغلل.
د مکتوب محتویات:
جهادي قومندانانو شکایت کړی، چې له کابله راغلي کسان، سین کې لامبو وهي، وېښتان ږمنځوي، کورتۍ په اوږو اچوي، په پولو ګرځي...
وار دې دمې دی! ټول مکتوب به په بل ګام کې خلاصوو!
پر زړونو مو برکت شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسم ګام

«ځني موارد داسې دي، چې یوازې د څه
وخت په تېرېدلو سره، هغه زده کولای شو.»
هارولد کلمپ

د قومندانانو د شورا تورونه:
له کابله راغلي دولتي مامورین، واړه منصبداران، عسکر، مکتبیان او پوهنتونیان، په دې ګناه تورن وه، چې د ماموریت او رسمي کار د وخت کورتۍ اغوندي، سین کې لامبي، وېښتان رېنځوي، د پتهو په پولو ګرځي او بله یې دا چې کورتۍ په اوږو اچوي!
امیر او قومندان په پاڼه دستخط کړی وه، چې یاد یاغي باغي کسان راټول او د «ملاکاکا مرکز» ته ور وخېژوي، څو ددغو ناروا حساب ورڅخه واخیستل شي.
دا د بل د بدلولو د دوزخ یوه وړه او هېره کیسه ده، خو موږ او تاسو انقلاب او ایډیالوجۍ سوی نسل، په سلهاوو او زرهاوو داسې نورې کیسې او خاطرې په یاد لرو، چې د بل د بدلولو د کار دوزخي اتلانو، د آزادو او خپلواکو انسانانو په ژوند، آزادۍ او بالاخره د هغوی په سر او مال باندې څه راوړل!!
غزنیوال اجمل سلطاني، چې د بل بدلولو اورونو یې پلار په ځان لاهو کړی، کیسه کړې، چې غزني او اندړو کې یې ځنې کسان یوازې په دې جرم، چې جیب کې قلم ګرځاوه، د مرګ تیارو کندو ته ور وغورځول.
په هرحال د مجاهد او شهید آمان شخصي مېړانه وه، چې ټول روغ رمټ کابل ته را واوښتل او څه مهال د قومندانانو له شورا پټ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د قوماندانانو د شورا غوښنه برخه، هغه ځوانان وه، چې همزولي يې زياتره د پلرونو د عسکري او ملکي نوکريو او يا هم د مناسب کورني اقتصادي او اجتماعي حالت له مخې، د څو شپو په تمعه کابل ته کډه شول. د ارباب غريبداد په سرلشکری، د بابا له غره را کوزو شويو موش کُش او يازده ټکه ټوپکوالو وړه بلوا هسې پلمه شوه، او ټول ميدان له حکومت څخه ياغي شو.
دې سره، د تاريخ د پاڼو په اوښتلو کې، د کابل په وجود، د ای اس ای د قوماندانی د «ستراتيجيکې ژورتيا» د نخشې له مخې، يوه په بله پسې زر چړې ننوتې.
په کابل د جنګ ځنګل را تاو شو.
په کابل کې لوړې انګولا کوله.
په کابل، د الله اکبر له نعرو سره، کتار کتار سکر بيست او سکر چهل را کوزېدل او په ګناهګارو او بېګناه ښاريانو يې خولې لګولې.
په حيرتانو کې، چې د نجيب په حکومت ټک وشو، نو د حکومت د غټ جنګي ماشين صاحب صلاحيت جنرالانو يوه خوا بله خوا لارې جوړې کړې او دې سره کابل غاړه کښېښوده او خپل ماتې خوړلي، منتظر با معاش و بې معاش مدافعان يې، په ټيټو سترګو ښېر ته کليو ته ور پر ېښوول.[1] اوس نو دور بدل وه! اوس نو خدای د مرميو او بمونو په کړس او کړوس کې را لويو شويو جهادي قوماندانانو ته موقع په لاس ورکړې وه، چې د کمونستي حکومت د واک پر کلونو کې، د خپلې مرګ ژوبلې په هره پېښه کې، دغه ور په ياد شوي همزولي، چې د هغوی د خيال او تصور په دنيا کې به، ړيره خريلي او چنګ چنګ بريتونه د ټانک پر سرونو ګرځېدل، اوس په بيغمه زړه تصفيه کړي.
ددغو کابلي شويو همزولو ګناه دا وه، چې دموکراتيک نظام تر بيرغ لاندې يې زده کړې بشپړې کړې وې، مامورين او منصبداران شوي وه، له روس صفته حکومت څخه يې معاشونه او امتيازات اخيستل!
هغوی ړېرې خريلي، ښځې يې مخ لوڅې د خپلوانو ودونو او د غم او ښاديو محفلونو ته تللې راتللې، لوڼانې او زامن يې د پخو تعميرونو مکتبونو ته تلل راتلل.
او اصلي خبره داچې: د دوی کندوان او کورونه له روسي اوړو، غوړيو، زراعتي چرګانو او څه شي او څه شي ډک پک وه او کلي خوب او خوراک د ميګ الوتکو د بمونو په ډم او ډوم کې کول. او اوس يې د دوه ميليونه شهيدانو... ميليونونه معيوبانو، کونډو، رنډو تاوانونه غوښتل!!!
دا زلزله هم د مغلوبينو په سرونو او کورونو او مالونو تېره شوه! هر چا خپل کار وکاوه. څوک وژلي، څوک ټکولي، څوک يې د دوست او تربور

[1] – ددغې خبرې د سپينولو لپاره، د پاکستان د پوځي استخباراتو د رييس جنرال اختر عبدالرحمن کتاب «کابل بايد بسوزد/کابل بايد وسوځي» ولولئ

(c) ketabton.com: The Digital Library




تر مخې سپک او بې عزته کړي... خو د چا چې طالع برابرې وي، او د چا خبره عقل يې کار کاوه، نو د معاش په پس انداز يا مکروريانونو کې د خپل اپارتمان په نيمه بيعه خرڅولو سره يې ځانونه روسيې، هندوستان او تاجکستان او ځنو يې حتا آروپا او امريکا ته ورسول.
يوه دمه به واخلو!



(c) ketabton.com: The Digital Library





«له هغه څه چې لرئ يې راضي واوسئ؛
او ژوند څرنګه چې دی، جشن ونيسئ.
کله چې درک کړئ، هېڅ کمی او نقص نشته
ټوله دنيا به ستاسو وي.» لاېي تسه.

## څوارلسم ګام

«عشق يې بخښي، قدرت يې اخلي.»

لږ تر لږه دادی شاوخوا څلوېښت کلونه کېږي، چې پر افغانستان د بل بدلولو د دوزخ سور اور بل دی.
دا اور موږ خپله بل کړی.
دا اور له هغې ورځې بل شوی، چې زما ذهن کې دې فکر ځای نيولی، چې زه غوره يم بل بدل دی.
دا اور لا څکه پر موږ را ګډ دی، چې زه او زما فکر، چلند، اخلاق، رواج، دود-فرهنګ اصيل دي، د بل راته بدل او ناچله بر ښېبي.
دلته که د کارګر او بزګر سور نظام راشي، که امريکې کې روزل شوې ډموکراسي،
دلته که خلافت ټينګ شي، يا ملتپال د قدرت پر آس سپاره شي،
نو بيا هم اور بل دی، څکه چې موږ ځانونه، د خپل کړي اصولي فکر-باور، اخلاقو، فرهنګ او تمدن ځانګړي عسکر حسابو؛ نو د بل بدلول زموږ ورځنی کار او بار دی.

### لويان؛ د حقيقت کاغذي څېرې

حقيقت له ټول بشري عقل، تفکر، ايجاد او پالللو مشر او بر دی. او ماشومان د حقيقت په عمر دي. څکه يې سترګې، ليده کاته، خنداوې، منډې او لوبې، د روح

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنتي سرنوشت، د سړي مخې ته ږدي.
دا ژوندۍ الهي نښې دي او دغه خدایي نښې نه دي عادت شوي.
زموږ «ښه» د ماشوم سپین او له عقله وحشي ذهن ته لکه چرس او سره شراب داسې دي. او موږ هغوی په خپلو مقدسو چرسو، بنګو، هیروینو او شرابو معتادوو.
آه! لکه، چې ټول عقل معتاد دی!؟
موږ ماشومان په را لوېولو سره، دومره په زوره په خپلو خبرو، ویناو، نصحیتونو او رواجونو عادت کوو، چې دا یې په یوازیني فکر، باور او چال چلند واوړي.
موږ له ځانه یوه تکرار دنیا پر ېږدو.
موږ له ځانه تکرار انسانان پر ېږدو.
زموږ ښه په ګل ګل ماشومانو کې متناسخ کېږي او دې سره د «نوي» ماشوم زوکړه، بیا بیا ځنډ ته غورځي.
موږ دومره تنګ نظره یو، چې ژوند ته د یوې بلې خبرې، یوه بل فکر–باور، یوه بل اخلاق او رسم او رواج اجازه نه ورکوو. موږ خپل بچیان، او خپلوان او د خپل او ټبر نسل په خپل تکرار بدلوو.
ځکه د زړو شیانو لپاره جنګېږو!
ځکه زړې حافظې را په کې حکومت کوي،
ځکه موږ د ژوند په خوند هېڅ نه پوهېږو؛
او دا ځکه، چې:
موږ ژوند نه کوو؛ بلکې ژوند تېروو!
ځکه نو هرڅه، چې خورو، نو مالګه یې پېریانو وړې. هرڅه چې څښو نو خوند یې نشته. هرڅه چې ګورو، نو زړه مو ورسره آرام نه مومي.
موږ هرڅه ګټو. هرڅه پیدا کوو. هر هر څه زیرمه کوو. خو داړ مو له زړه او ژونده ګډه کړې!
موږ څه شي پسې سر ګردانه یو؟
یو څه به له زړه سره دمه واخلو!
ګوندې که زړونه او ذهنونه مو د حقیقت په اقیانونس کې یوه غوټه ووهي!

(c) ketabton.com: The Digital Library





مینه ژوندی نړۍ لید دی.
مینه ژوند پنځوي.
مینه د لومړي کور په لور قطعي لاره ده.

## پنځلسم ګام

می بخور مصحف بسوز آتش اندر کعبه زن
ساکن بت‌خانه باش مردم آزاری مکن»

موږ «ځان» پسې سرګردانه یو. له موږ ځان ورک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د «بل» عادت اشغال کړي یاستو.
موږ د زړو او پردیو عادتو مستعمرې یاستو.
له تاسو سره مې شریکه کړه، چې یو د پنځلسو- شپاړسو کلو سازماني ځلمکی، څرنګه یو د لمانځه په تور اکسا ته قلمداد کوي!
په دې هم سره خبر شو، چې د ذکرالله شهید د لیسې ښوونکی، فقط د کورتی د غټ چپه ګردن په خاطر، د خپل ډول صحرایي محکمې لخوا، سور کاپیر ثابتېږي او خندانه ځواني یې تر ډبرې لاندې کېږي.
او بیا د یوه مشهور جهادي تنظیم، د قومندانانو شورا، له کابله کلي ته ورغلي پخواني ړیره خریلي، په ولیو د کورتیو اچولو، و ښتانو ړمنځولو، لامبو وهلو او د پولو پر سر ګرځېدلو په تور، ځانګړې غرنی محکمې ته جلبوي.
خدای خبر څومره خدایي عاشقان به د خدای د نوم اخستلو په جرم، د نفس پرستو بنیادمانو د غضب خوراک شوي وي؟ (نه پوهېږم په دې او دې ته ورته د نورو د بدلولو په اورلنو مرکزونو کې به څومره سپېڼې آسماني څېرې خاورې ایرې شوي وي؟)
موږ په ناخبرې توګه د یوه زاړه-ښایي مړه- تعهد لپاره، د ژوند نعمت مصرفوو.
دلته، د جنت په دې ورکه ځمکنۍ څنډه باندې ذهني اګاهي- ښه ده ووایم انساني اګاهي- د ژوند سوځولو دوزخي کورې ګرځېدلي، چې هره شېبه، هره ورځ او هر وخت د «بل» په شخصي او فردي عقیده، باور، فکر، طرز، سلیقه، ډول، مورال... د قهر او غضب اورونه ور بلوي!
دلته نېږدې هر مکتب، فکر-باور د ځانپېژندنې او حقیقت سرچینې موندونکې په دعوې سره، په ځانناخبرې ډول په خودپرستۍ او باطني غرور پېښه کړې او ځکه نو له خپل ذهني چاپېریاله بهر ژوندی نړۍ، د بت- فکر پلي کولو لپاره، روغنیات یا د سونګ مواد ګڼي.

## ځار ځار له خپلوا کو ماشومانو شمه


ماشوم د انسان په لاس او عقل جوړ شوي فکرونه، اندونه-باورونه، فرهنګونه او تمدنونه، د وچ کاغذ پر مخ د مشرانو غلط کارونه ګڼي.
د ماشوم ژوندي احساسات او عواطف د حقیقت له سرچینې را بهېږي.
هغه او حقیقت سره خپل دي.
هغه له حقیقته پیدا شوی.
حقیقت یې پلار دی، مور یې دی، حقیقت یې له شودو ډک تی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقيقت يې آسمان دی. حقيقت يې پښو لاندې هواره ځمکه ده.
حقيقت يې ستر ګو کې هر موجود تصوير دی.
حقيقت يې خوب دی. حقيقت يې ويښه ده.
حقيقت يې د زړه غوښتنه ده. حقيقت يې د خولې خپلسرې خندا ده.
حقيقت يې وړيا ډوډۍ، اوبه او هر شی غوښتل دي.
هغه حقيقت د هرڅه پلار بولي.
ماشوم ته ژوند او د ژوند بېليونونه څېرې، د حقيقت ډول ډول ننداري ښکاري.
ماشوم د روا هستۍ هستوګن دی. ماشوم هرڅه حقيقي او روا بولي. دا د خالصې مينې نندارچي دی.
ماشوم ته مينه وړيا ده.
هغه هر شی ځای پر ځای غواړي او تر سره کوي! ځکه يې لوڅې ډډې، لوڅې ميتيازې، لوڅې مچې په شهوت کې نه ځايېږي!
ماشوم لوڅ او زړور خدايي مينه ګر دی.
هغه په عشق ډک دی. ځکه نو دنيا، څېرې، وګړي، څېزونه، ښايستونه، آوازونه...هر هرڅه خپله روا مينه بولي.
ځکه نو دغه خدايي مخلوق د بې قيده او شرطه مينې، بې پروا مينه ګر دی.
هغه ايډيالوجۍ، اندونه–باورونه، چې د بل د بندي کولو، تړلو، له آزادۍ محروملو، وژلو او تباه کولو په خيال کې دي، څومره خدايي دي؟؟؟
موږ ته د خپلو خولو او خيرو بوی عطر دي او د نورو ګلابي څېرې او طبيعي عطرونه راته د شيطان په ميتيازو ککړ برېښي.
موږ په ځان عادت شوي يو.
موږ د يوه رنګ زيارتونه يو؛ خپل رنګ. موږ کې خپلې زړې ذهني او عادتي خېرې زيارت شوي دي.
موږ په خپلو ماتو ګوډو افکارو، اخلاقو، عادتونو، رواجونو، رسمونو...د روسو له «ټولنيز قرارداد» لوړه بيعه ږدوو!
«که څوک تله د انصاف په لاس کې درکړي/خپل ټټو او د بل آس به برابر کړې.» حضرت رحمان بابا
يو څه به بې خبرې ځان ځان سره دمه شو!
ګوندې که را څخه ورک ماشومتوب، د زړه له کومې ګوښې آواز را وکړي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library





## شپاړسم ګام

«هېڅ بینادم، مکان او یا کوم شی کامل نه دی...خومره آسانه ده، چې د بل تفاوت ته د خطا په ستر ګه وګورو. موږ د «سم» او «ناسم» په اړه د خپلو عقایدو په بند کې اسیر یاستو.»

د بل بدلولو حاکم اخلاق، په ملي او نړیواله کچه، د زیاتو ورانیو، قتلونو، غمونو او دردونو لامل شوي دي. د بل بدلولو، د انسان شرافت داغلی دی. دې فکر شریف انسان په یوه غاصب، نیواکګر، زندۍ کوونکي، قاتل او ورانونکي حیوان بدل کړی دی.

د بل بدلول، د جګړو مور دی. له قدیمه را هیسې، بل بدلول پر ذهن حکومت کوي؛ ځکه نو ذهني-مادي مذهب هم بلل کېدلای شي.

بل بدلولو لومړی ذهنونه او فکرونه لاندې کول -او اوس یې لا بېدریغه لاندې کوي- او وروسته؛ لکه له وښو لاندې اوبه، په حکومتي مرکزونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یرغل وروړي.
دې جګړې واکمن فکرونه، مادي–ذهني مذهبونه، اخلاق، رواجونه او تمدونونه، پخپلو سړیو او وسلو سره را نسکور کړي او نړولي دي.
د بل بدلولو د هر نوی عصر په پیل کې، د وخت د زورور مادي–ذهني نابغه کوډګر، په زورورو احکامو سره، انساني اګاهي مغلوبه کړې او له دې سره یې خپل سړي او سرتیري، خپلې وسلې او ټانکونه، خپلې سرچینې او خاوره، د زاړه او له موده لوېدلي ذهني– مادي مذهب او واکمنۍ او له ښې وتو فرهنګونو پرضد ور اړولي او دې سره د نړۍ محتوا او شکل په نوي ښکیلات او زېبښاک کې وژلی ودرېدلې.
له دې مادي– ذهني اوښتون سره به راټوله شوې انساني، کلتوري، اجتماعي او حتا اقتصادي سرمایه نړېدله او ددې پر کنډوالو به د فاتح فکر او باور بېرغ ودرېده، شکل کېده او د هر څه ظاهري حالت به جوړېده.
بیا نو نوې نمانځنې رامینځته کېدې. نوي شوالیه او سرداران نمانځل کېدل. د وژل شویو لویو وینو تویونکو زیارتونه او متبرک ځایونه جوړېدل او تویې شوې وینه، د قلم له لارې، د تاریخ کتابونو ته ننوته. او اینده ماشومانو د خپل ډول کله منارونو روایت، د حماسې په نامه لوسته او په ډله ییزو ترانو کې زمزمه کاوه.
نه! نه کېږي! څه شی دي، چې افشا کېدل یې مخکې له وخته دي. دا کار لویه بیعه غواړي!
زما وجود د «قتل» بندولو چیغې وهي!
نو ورکه دې وي د مرګ رسۍ، یا چاړه، یا توره، یا توپ، ټوپک، الوتکه او هغه وژونکي واسکټونه، چې ګل مخو اوولس، اتلس او شل کلنو ته، د تویې شویو وینو په وزن، نالیدلي ناوکۍ، د بې مړي جنازې په اوله شپه، بې ټنګه او ټونګه په لاس ورکوي!
له هغې ورځې چې انسان د «مسوولیت» او «رسالت!» او «نجات!!» او څه او څه په نامه، د بل بدلول پېل کړي دي:
له هغې راهیسې یې سپین خدایي طبیعت اوښتی!
له هغې را په دې خوا یې جنتي څېره سپیره شوې!!
له هغې را وروسته، هغه د فکر غلام دی او غواړي دغه غلامي په ټوله ځمکه جاري او د تل لپاره دود وګرځوي!!!
له ټولو ذهني دلاېلو چې تېر شو،فقط ځان تر پوښتنې لاندې راولم!
راځئ، خپله یې تجربه کړو، خپلې پوښتنې ته هغه ځواب ومومو، چې زړه کې مو له سترګو او حواسو پټ دی.
آزادي او ځان موندنه مو سرنوشت اوسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوولسم ګام

«هر څه تېر بېږي...يوازې خدای دی چې بدلون نه مومي. موږ ټول مخ په يوه مقصد سفر کوو. يوازې لارې مو سره توپير لري.»
تلپاتې لار

اکبر جهاد

دې دمه کې يوه پوښتنه نه وه، بلکې پوښتنې را په کې په چيغو شوې:
که د بل د بدلولو کار او بار، چې احزابو او سياسيونو په ټيکه اخيستی، نه وه- نه وي- آيا بيا به هم وينه تويې شي؟
آيا زندان کې به څوک پاتې شي؟
آيا ځوانان به مو ځوانيمرګان شي؟
آيا کرکه به داسې د زړه ښايستونه را خوري؟
دا او دېرى داسې نورې پوښتنې د ميليونونو افغانانو پوښتنې دي. دا د نړۍ د هرې ايډيالوجۍ او د ذهني او رواني باورونو ځپلو ملکونو د ميليونونو انسانانو لپاره پوښتنې دي! دا پوښتنې هم زما او هم د هر بل انسان پوښتنې دي. او هم له ما او هم له هر انسان څخه مطرحې پوښتنې دي!
نو د پوښتنو د ځواب مرکز زما دننه دی. رښتنی ځواب زموږ هر يوه خپل ځواب دی. نو راځئ خپله دغه طلايي برخه په خبرو راولو!
زه، ته، هغه! هر يو، سره له دې چې د بل بدلولو دوزخ، ژوند او هستي را سوځولي، له دې سره سره، بيا هم په يو ډول نه يو ډول سره، د بل بدلولو، ذهني او عملي دريځ کې ښکېل ياستو!
زه که غواړم د بل بدلولو له ذهني او عملي دريځه آزاد شم؛ نو بيا د ځاني، کورني، اجتماعي، کلتوري، محيطي، قشري، حتا کاري-مسلکي خونديتوب له بيمې محرومېږم!
نو دا اکبر جهاد دی.
دا د اور له سيندونو تېرېدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د سر او مال مرګ دی.
دا ځان، مال، عزت، هویت او شخصیت په اوبو کې خوشې کول دي.
ځکه نو د ژوند د ټولو پوښتنو ژوندي او تازه ځوابونه زموږ په خپل تقدیر کې ویده دي!
زه خو دلته په دې اوږده لیک کې دادی لګیا یم؛ غواړم ځان دقیق په هینداره کې ووینم:

## انسان د خپلو تالیفاتو غلام

موږ خپلو تالیف کړو قوانینو، اخلاقو، رواجونو...تېر وېستلي یو. دا پټې وسلې دي. دا لومړنی بې غږه ټپانچې دي.
دا نه پېژندونکي زهر دي.
دا د ځان په لور وېشتل شوي توغندي او هېدروجنې، نایتروجني بمونه دي.
موږ د روا دلایلو په سپرونو او ډالونو مجهز یاستو.
موږ یوه فکر-باور اېل کړي یو.
موږ ذهني اسیران یاستو.
موږ د بل په زندی کولو، وهلو، دربولو، شړلو، وژلو او سوځولو سره، له خپلو ذهني نفسانیاتو سره له اصلي جګړې ښخه تښتو.
بیا وایم ذهني نفسانیات دغه پنځه دي: شهوت، قهر، طمع، تړلتیا او ځانپالنه!

## موږ د غم نېښیان!

موږ ارمانجن یو. موږ د پلرو پلرو زخمونه، ژړاوې، غمونه، واویلاوې، آهونه، او د زړه سوزونه ځان کې را ټول کړي. یوازې لوحه مو نشته، کنه موږ زاړه، عتیقه موزیمونه یاستو. موږ د غم په نېښه اخته یو. موږ تیت او پرک یو.
زړه مو له ذهنه تښتي!
حواس مو له بدنه منډې وهي!
عواطف مو په حرامو ښکلاو پسې خونونه کوي!
پښې او لاسونه مو د ګېډې او شهرت اورتون ته، د بل له کورونو، په سوله او په جنګ، په واسطه او چشمبندی خس او ذغال را تښتوي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د روح خو هېڅ درک نه لګېږي!
«روح» یاد ته نه راځي!
په «روح» نه د ملا، نه د عامي سر خلاصېږي!
واااااا...ی! زه روح یم که دا دوه توته، له ختهو جوړ انسان شکله زیارت؟
که زړه را سره دی، نو ژاړم به، ژاړم به، ژاړم به...تر خپله خدایه، تر خپله خدایه، تر خپله خدایه....
لویه خدایا! که د غرېدا او استدلال عادت نه وای؛ حقیقت به څومره ساده وه!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library





نه پوهېږم دغه انځور د څه شي په لاسو ما ته را ورسېد ؛ خو زه یې ونړولم.
«موريې مه ژاړه، له دي وروسته نه وایم، چې وږی یم!»
اریان یم، چې ددغه جنت مخي سترګو ته په کتو سره څرنګه لمبه نه شوم، ایره نه شوم او له خپل همزولي نسل- چې بل بدلول لوی ثواب ګڼي- بیخي ورک نه شوم؟ دا ماته جنت دی، سور سوزونکی ؛ خو مینه ناک جنت.
یوه قصاب لاس دغه ماشوم له ژونده پرې کړ ؛ خو له خدای تعالی څخه به یې څوک پرې کړي؟؟؟

## اتلسم ګام

«خدای هغه څه دی، چې ته باور ولرې. هېڅ انسان د خدای د هستی په اړه تېروتنه نه کوي؛ خو یو انسان هم په سمه توګه نه پوهېږي، چې دده پېژندنه له خدای څخه څه شی ده؟ د خدای په اړه هېڅ راز او رمز نشته؛ خو داچې هغه، هغه څه دی، چې هر روح باور لري، چې واوسي. دا د خدای معما ده، ځکه نو ټول د خدای د لویوالی او عظمت په اړه د خپلې پېژندنې پر اساس، سره په شخړه او لانجه کې دي.»

زه یم زمرررررر(...)

علم په مورړ کې ختم دی. پوهه او باور په مورړ کې ختم دي.
اخلاق او شرافت په مورړ کې ختم دي.
دنیا او اخرت په مورړ کې ختم دي.
حقیقت په مورړ کې ختم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د ټولې هستۍ او نیستۍ څېره او ننداره یم.
زه په وګړو کې شهزاده یم. زه د ټولو سلطان یم. زه واکمن او زړور او یوازینی یم.
دنیا د اغزو کرونده ده. نور وګړي اغزي دی. په فکر او باور راته زهر دي.
او زه یم زمری، پر دې دنیا تر ما اتل نشته، بل په...
زه د خپلو دروغو بت یم. دروغ ما جوړ کړل او دروغو زه جوړ کړی یمه.

## وګړي د لاس او ږدې او لنډې ګوتې

زما دویمې مورنۍ انا، چې د میدان دره کې زموږ د هستوګنې د سیمې یعنې چارېکې، د چارکلا څلورو واړو کلیو مشرانو او کشرانو به «ببو» بلله؛ په ښځتوب زړوره نارینه وه. هغې هم کور کاوه او هم یې د پټي بار پورته کاوه. هغې ته به چې چا د بل د نادودې شکایت ور وړ؛ نو وېل به یې:

«ښه وګوره! آیا دا د لاس ګوتې سره برابرې دي؟ بنیادمان داسې دي! خبر دی ته ګذشت وکړه!!»

ببو به له خپلې تمثیلي فلسفې وینا سره، د خپل لاس خلاصه پنجه او اوږدې او لنډکۍ ګوتې سرې ته خلاصې ونیولې.
د لاس په ورغوي او ګوتو یې نه د نقالو مکتبیانو په شان، د الجبر فرمولونه یا د کیمیا معادلې کښل شوې وې، او نه د سخات یا سرسایې د طریقې د ملایانو میم زورما ټوله زما...خو خلاص لاس یې هر انسان په خپل ځای کښېناوه.
ببو دغه فلسفه په خپل اویا- اتیا کلن عمر موندلې وه. خو دغې ساده تجربي فلسفې سړي ته دا ورښووله، چې انسانان په قد او په وزن او په قوم یا ژبه برابر بدلای شي؛ خو په مضمون او معنا نه!
انسانان به په مکتب او مذهب یو وي؛ خو په فکر او ذوق نه!
هغوی په یوه ځای، یوه تمدن کې ګډ ژوند کولای شي؛ خو په چلند او اخلاقو به جلا جلا وي!
انسانان به په یوه نسل کې، یوه مدرسه کې، د یوه کتاب درس ته کښېني، خو اګاهي به یې سره متفاوتې وي.
انسان ښایي له ډېرو شیانو ناخبره واوسي؛ خو زیاته ناخبري یې له ځان څخه ده.
انسان د برابرۍ په شعار ډېر آسوده کېږي؛ خو نه پوهېږي، چې هم خپل شخصي حق او هم د نورو فردي حق تر پښو لاندې کوي.
انسان هرڅه چې ده، د فردي اګاهۍ وضعیت یې دی. او دا د انسانانو د تفاوت اساسي برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ببو اصلي اشاره، دا ګاهۍ له مخې د انسانانو متفاوتو دریځونو ته وه.
انسان تر هرڅه دمخه «فرد» دی. او دغه فردیت د هغه د ګاهۍ وضعیت را منځته کړی. نو په دې اساس، د «برابرۍ» عمومي شعار دلته خپل مضمون بایلي؛ ځکه انسانان دا ګاهۍ متفاوتي سطحې دي!
د کلیوالي ببو یوې خبرې «آیا دا د لاس ګوتې سره برابرې دي؟ او بنیادمان د لاس ګوتې دي.» خروار خروار معنا زمونږ پر خوبولې، سترې او پخې انساني اګاهۍ را شیندلای شي:
«بنیادمان د لاس ګوتې دي. آیا د لاس ګوتې برابرې دي!؟ داسې هر سړی فرق کوي. څوک لږ پوهېږي، څوک ډېر پوهېږي. څوک په یوه فکر او خیال وي، څوک په بل فکر او خیال وي...!»
مونږ اعداد شمېرو. په یوه کې یوازې یو ځاېږي. یو فکر فقط یو فکر دی. یو باور فقط یو باور دی. د یوه لاس ګوتې هم داسې دي. پنځه واړه ګوتې دي. خو ګوتې دي؛ نه «ګوته»!
پنځه واړه ګوتې له غوښنو عضلو او هډوکو جوړې دي؛ خو هره ګوته جلا کار، جلا شکل او جوړښت، جلا سرنوشت، او جلا استعداد او شاید هم جلا خودا ګاهي لري. ځکه نو دا «ګوتې» دي!
وګورئ! یو مذهب فقط یو مذهب دی؛ ځکه چې یو ډول اخلاقي-عبادي اصول لري.
یوه مذهب کې مېلیونونه وګړي شامل دي؛ نو د یوه مذهب د پیروانو شمېر، د مذهب شمېر نه شي ور زیاتولای. ځکه ټول د یو ډول اوصولو تابع او فرمانبردار دي.
خو انسانان رنګ په رنګ دي. متفاوت دي. د لاس د ګوتو په شان مختلف استعدادونه، واکونه، مسوولیتونه، کارونه –او تر ټولو مهم– هر یو خپل خپل برخلیکي ذخایر له ځان سره لري.
انسانان خپلواکي اګاهۍ دي. هر انسان د خپلې فردي آزادۍ او مسوولیت خاوند دی.
ببو، چې ما به «ادې» بلله؛ ولاړه! اوس یې کالبوت د میدان درې، د خواجه اسحق ولي له زیارت ور بر، د لوړې غونډۍ په خاروینه ډډه، تر دوو ښځینه شناختو لاندې پټ دی او اروا یې د نالیدلو دنیاګانو په سفر تللې! خو د خبرې زور یې نه سره ډیالکټیک ور مات کړای شو او نه د معاصرو بنسټپالو افراطي او یا معتدل تفسیرونه او تاویلونه د هغې له ساده فلسفې زیات زړه ته تازه اوبه ور کولای شي!
دې فلسفې ته به په بله ورځ بیا راګرځو.
اوس به یو شېبه خپلې اګاهۍ سره دمه شو!
په خپله فردي ازادۍ کې شنه اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نولسم ګام

«د آزادۍ لپاره کار مه کړه؛ بلکې آزادي دې باید د هرې شېبې کار پابله واوسي.»

### وړو کی ذهن او ساده حقیقت

مرید له استاد څخه وغوښتل چې په حقیقت يې سر ور خلاص کړي!

استاد ووېل: حقیقت ساده دی.

وېل يې خومره ساده؟

ځواب يې ورکړ: دومره ساده، چې تصور يې نشي کولای!

د شاګرد ذهن زما په شان ټول عمر مادي-ذهني فلسفو ور ډک او ټنډ کړی وه؛ پوه نه شو! بیا يې استاد وپوښته:

«دا څنګه ساده دی، چې زه -حتا زه- نه ور باندې پوهېږم!؟

استاد ووېل: «ته یو کار وکړه: ځان د حقیقت له ذهني انځورونو تش کړه! هغه څه دې چې د حقیقت په نامه، ذهن کې ټول کړي؛ ټول لېري وغورځوه!! له دې سره به حقیقت ستا تجربه شي. ته به حقیقت په شخصي توګه ومومې او ووینې!

موږ اصیل او ساده حقیقت، تر یو من کاغذونو، یو خروار نظرونو، فکرونو، فلسفو لاندې پټ کړی.

حقیقت هماغه ساده او ماشومانه سپین عقل دی. هماغه بې جهته، بې تعصبه ذهني موازنه ده.

زموږ جګړې ښايي د یوه ذهني-مادي حقیقت لپاره وي! یا ښه ده ووایو، د حقیقت د ذهني شویو نښانو په خاطر وي. څکه د دین او باور، د فلسفې او بشرپالنې، د تمدن او لیبرالیزم تر بیرغ لاندې د وینو وېالې رواني دي. او بشر ورځ تر بلې عصري جنګیالی جوړېږي!

«بنیادمان د لاس اوږدې او لنډې ګوتې دي» دا زما د «ادې» د ژوند ټوله فلسفه وه. او خومره ښه وه. خو موږ او زما ورور، پلار، نیکه او کشر نسل کله دې فلسفې ته رسېدلي يو؟ موږ لګیا یو چې د لاس (چې ملت دی) ګوتې ټولې په یوه اندازه وړې یا اوږدې کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library





وګړي د بوډۍ ټال په رنګ دي. زما د فکر- باور رنګ دنیا لپاره جګړنه مدرسه ده. دنیا زما دښمنه ده. دنیا زما لپاره غم دی. دنیا د تربره سنګر دی. دنیا بل بدرنګه کړې...

بیا زه یم...

زه دنیا مغلوبوم. دنیا ځپم. نور بنیادمان:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک وژنم، څوک په لاسو، څوک په پښو ګوډوم.
څوک بندیانوم. څوک ځان سره یرغمل ساتم!
اه! څه وکړم! غم غم مو د بل بدلولو دوزخ دی.
آه، دا شر له کومه شو؟ خو اول دا چې شر څه شی دی؟؟؟
شر، د روزل شویو او دود شویو ذهني-مادي باورونو محصول دی. ځکه نو «زه» وايي:
«زه یم زمرررر...ی پر دې دنیا!...»
د بل د بدلولو دوزخ دومره توري او کلمې وسوځول، خو خبره يې اوږده ده! راځئ دلته به یو څو پوښتنو ته ور لنډ شو:
آیا رواجي او ځانپالې «انسانیت» او خودمحوره «شرافت» یې په بیعه لوړ دی که یو خاځکی وینه؟
آیا که زموږ ټولو کورونه د الماسو او سرو یاقوتو له خښتو ورغېږي، د نیازمحمد او دوست محمد او په دې لیکه څو میلیونو نورو له ژونده محرومو شویو انسانانو د ژوند بیعه به پرې کړي او په څه شي به يې پرې کړي؟ ښه ده، چې زړور شو او د بل د بدلولو دوزخ له خپل ذهن، زړه، احساساتو او عمل څخه وباسو.
موږ باید د ځان دننه، له تیارو ډکو خوندي کړو صندوکونو باندې زلزله ور ګډه کړو.
باید په لوړه مینه ګره چیغه سره ټولې کړکې، ځانغوښتنې، شهوتونه، تعصبونه، مادي-ذهني طمعې، په جعلي مفاخرو او مړو فکرونو پورې هر راز تړلتیا او د ځان تاییدولو تر پردې لاندې، خپلې رب النوعه څېرې او کانې افشا او بربنډې کړو.
لویه او په ژوند او ژوندو عاشقه خدایه!
د قتل فکر راڅخه واخلې!
د قتل احساسات او عواطف راڅخه واخلې!
د بل د بدلولو فکرونه، ایډیالوجی، اندونه او باورونه را څخه واخلې!
آه، ډېر وچغېدم، یو څه به دمه وکړو!
ګوندې که مینه ګر شو. مینه پوره ثواب ده.
ګوندې تر هغې د خپل فکر-باور دننه، د نفساني سلطنت نښې تشخيص کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library





## شلم ګام

«خو هغه چا لپاره چې د حقيقت د اور بدلو وس لري، زما يوه خبره هم معما نه پاتې کېږي. کلمې حقيقي دي او تلپاتې.»
ربازار تارز

### زه دوزخ، بل دوزخ!

کلونه وړاندې چې کابل کې، بي بي سي سره همکار وم. يوه ورځ ولسي سندرغاړی عبدالله مقری دفتر ته راغلی وه. هغه عجبه د کار خبره وکړه:

« هر يوه، يو څه کړي! نو ښه ده، چې هر يو بخښنه وغواړو!»

ښايي د سندربول مقري د وينا کلمې او جوړښت به بل ډول وه؛ خو دغه يې مفهوم وه. له هغې ورځې مياشتې او کلونه تېر شول؛ خو موږ دې بلوغ ته نه يو رسېدلي، چې له يو بل څخه عذر وغواړو.

بې ژونده فکر-باور زموږ زړونه او ذهنونه را وچ کړي.

موږ ګرځنده جادوګرو بتانو انتر منتر کړي يو.

موږ وچ او جامد او بت شوي فکر، د بل جنګ او جګړې ته را اېستلي يو.

څکه په بل په تنګېږو. بل موږ په غوسه کوي. بل را ته دوزخ دی.

بل زما دوزخ دی؛ زه د بل دوزخ يم: حساب مساوي شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل زما هېنداره دی.
زه هېنداره کې «ځان» وينم؛
خو هېنداره را ته دوزخي بڼې ښکاري.
خو هېنداره يوازې مخې ته ولاړ سړی يا شی منعکسوي!
منعکس شوی او بربنډ شوی زه يم؛ بل مازې هېنداره دی!
بل کې دوزخ وينم؛ ځکه دوزخ زه يم.
زه راته آشنا متن لوستلای شم.
يوازې را زده شويو معلوماتو باندې پوهېدلای شم.
زه يوازې له خپلو ذهني معلوماتو څخه غږېدلای شم.
زما چلند خپل ذهني معلومات را جوړوي.
نو مخکې تر دې چې زه بل «بد» ووينم، دغه «بد» مې لرل.
کله چې بل وينم، خپل بد را په زړه شي؛ بيا بل بد وينم. خپله بدو باندې تېنډ يم؛ خو چړې د بل په ګېډه ورمنډم؛ ځکه بل زما هېنداره دی.
زه په بل کې (خپله هېنداره کې) د خپلو بدرنګه، تورو او لرغونو اورونو لېدلو (سکندر، ناپليون، هټلر، چنګيز، ستالين، زئوس، ميلاسوويچ او خپل سره او شنه، او تور سپهسالاران) جوړ کړی او د شيطان کار ته ګډولی يم.
زه په ذات کې، د خپلو بدرنګيو فاتح يم، خو اوس ادرس را نه غلط شوی:
مخ په چپه روان يم. او په دې قضاوتو، محکومولو، بنديانولو او وژلو سره، شېبه په شېبه د خپل ابدي «ځان» له دروازې لېرې کېږم، لېرې کېږم، لېرې کېږم... څو چې د عشق يو ژوندی سلطان په مخه راشي، د خپل ځټ ته پرې ايښي ځان په لور را ته ډېوه شي او د نجات سندره شي!
که ځان ته سر ور دننه کړم؛ نو ښايي ټوله بدرنګي، کچه توب، او بدي ځان کې، خپل تل او ضمير کې را شنه ووينم! او پوه شم، چې اور دننه دی، جګړه دننه ده، د جګړې ميدان او ځای دننه دی. او زه عمرونه عمرونه په غلط ادرس کې، له غلطو هدفونو سره جنګېږم.

## نوی ژوند، نوی پيل

زما په موندنه او فکر دا اساسي جګړه ده. دا د ټول عمر جګړه ده او په دې جګړې سره يو وګړی پر ځان لاسبری کېږي. يو وګړی خپل اصل وجود مومي، او يو وګړی په خپل اصيل جوهر ژوند پېلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نوی ژوند دی. دا تازه پیل دی. دا د خدای تعالی په لور د ورستنېدلو ربښتینی هوډمن او ځانخبری مزل دی.
نو ځکه داسي ګنم چي که یو بل د زړه له کومي ومنو.
یو بل ته ورور شو، خور شو، پلار شو او مور شو... او دي کار سره یوه بل ته سوله شو.
بیا بل زما ښایست ګرځي، زه د بل ښایست ګرځم. بیا حساب برابر شو. بیا ټول خلقت برابر شو. بیا ټول ژوند په معنوي حرکت برابر شو.
بیا هر مزل، هره لاره، هر لاروی فقط خدای تعالی ته رسېږي.
بیا هره لاره، د هر چا استثنایي لاره، خدایي کور پوري نښتي لار ده.
بیا هره لاره خدای تعالی ته رسیږي. بیا هر یو د خپل آسماني کور لاروی دی.
بیا نو بد نشته!
بیا نو شیطان بې وطنه کېږي.
بیا نو هره وینا شعر کېږي.
بیا نو هر حرکت په ژوندی نڅاه بدلېږي.
بیا نو هر تصویر د پرښتو خدایي ښکلا بلل کېږي.
بیا نو هر نفس، هره ساه اخستل د خدای تعالی نوم ګرځي.
بیا نو هستي د سوچه، تازه، او حاضر حقیقت مقدسه ځمکه ګرځي.
بیا مور ټول سپین، ښایسته، لکه عاشق ماشومان داسي ژوند ته راوځو.
بیا مور چېري نه ځو؛ ځکه ذهن جوړ کړی دوزخ را ته دروغ شوی.
بیا مور چا پسي نه ځو، ځوک نه بدلوو، ځوک نه «ښه» کوو؛ ځکه هر څوک په خپل ذات کي «ښه» دی.
بیا له احتیاج څخه وځو، له هېچا ویره نه لرو؛ ځکه چي ویره ذهني مخلوق وه.
ویره ځکه وه، چي زه په غلط ادرس کي، له غلطو هدفونو سره جنګېدم.
ویره ځکه وه، چي زما دښمن واقعي نه وه، ذهني وه.
ویره ځکه وه، چي زه برده وم او هوسناک ذهن بادار زما په زړه پښه اېښي وه.
په همدي به سره دمه شو!
ګوندي په بل کي د ځان بخښلو هنر بېرته را زده شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوویشتم ګام

«مینه، د مینې په غوښتلو په لاس نه راځي؛ بلکې مینه د هغه چا پر لور ورځي، چې نور ته مینه ورکوي.»

### ژونده! زه عذر غواړم!

اوس وېره نشته؛ ځکه بیا څوک په خپل فکر-باور نه را جذبوم، ځکه خدای تعالی لرم او کامل «قدرت، پوهه او عشق»، له هغه سره په «اوسېدلو» کې موندل کېږي.

چې له خدای سره واوسم، څه کار به را پاتې شي؟

چې عاشق نه شم، هغه نشته!

چې پر ته له توپیره، په ژوند مینن نشم، هغه نشته!

چې له ټول ذهن، حواسو، او ټول زړه او وجود سره عاشق نشم، له هغه بل ځای یم.[1]

عشق له کلمې لوړ دی. تر بري زور دی. له ماتې بهر دی. عشق د خدایي ژبې ټول نوم دی. عشق ټول کلام دی.

د ژوندي کلام د استاد په وینا: «دې ژوندانه کې ډېره مهمه ده، چې یو څوک له ځانه ډېر را باندې ګران واوسي. څه یو انسان وي، یا یو کوږنی حیوان.»

(c) ketabton.com: The Digital Library






## زړه له جنته راوړې برخه

ربښتیا چې زړه ژوندی وي، زړه واکمن وي، زړه پاچا وي، هرڅه سپېڅلي کېږي.
دا بیا زېږون دی. دا نوی ژوند او نوی ژوندون دی. دا له سره ژوندي کېدل دي.
یوه ماشوم ته پام شئ! هغه پرېږدئ، چې د خدای تعالی په دې سپېڅلې ژوندۍ دنیا کې، سپېڅلی او ناسپېڅلی سره بېل کړي،
هغه ته حق ورکړئ، چې د وګړو او خدای تعالی ترمینځ نېږدېوالی او لېرې والی جریب کړي،
هغه پرېږدئ، چې ځمکه او آسمان سره جلا کړي!
ماشوم دا یو هم نه کوي؛ ځکه ماشوم سپېڅلی دی، دنیا یې سپېڅلې ده.
ماشوم داسې خاندي؛ لکه د خلقت په زړه کې چې وي.
ماشوم ته په مرغانو ډکه فضا آسمان دی.
هغه، ځاله کې ناست مرغه هم د آسمان په برج کېویني.

---

۱- مقري د ساده زړه خبره کوله نو زه د خپلې هرې هغې خبرې، هر هغه حرکت، هر هغه چلند، هرې هغې وینا، لیکنې، دریځ او هر هغه عمل په خاطر، چې د خدای تعالی د یوه آزاد مخلوق د فردي آزادی، شخصي قلمرو، او ګټو پر خلاف- ولو که په ناڅاهانه ډول- تر سره کړې وي، د زړه له کومې عذر غواړم!
زما په عذر او بخښنې غوښتلو سره یو، یو، یو... ژوند ژغورل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم د حقیقت ګاونډی دی. او زه هم په بیا زېږون سره حقیقت کې هستوګنه پېلوم.
ماشوم خپل جنت دی.
سترګې یې یوازې جنتي ښکلاوې، رنګونه، ښایستونه ویني.
غوږونه یې یوازې جنتي ترانې اوري.
زړه یې مخامخ د الهي عشق او رحمت له بحره اوبه څښي.
خوله یې یوازې سپین، سوچه او ژوندي احساسات وایي، وایي، وایي...
تر هغو چې مشران یې زړونه، حواس او جنتي مستی، د عقل او اخلاقو په مسلخ کې ترې را وباسي او کبرجنو کتابدارانو ته یې وسپاري،
چې مامور ملا، یا ملا مامور ترې جوړ کړي.

## مرګ د ډارنو کلتور

ژوند زړور زړه غواړي او یوازې عاشق زړه زړور دی. او د عشق قحطي عظیم ډار او هغه بیا په انتحار پښنه ږدي.
ځان وژل، ژوند نه کول، او له ژوند څخه مخ اړول، بې وسي ده.
تېښته ده او زموږ د نه پېژندلي درانه ډار لپاره پرونی دی.
ژوند د آزمېښت ډګر دی. ژوند مبارزه ده. ژوند زړورتیا ده. ژوند اتلولي ده.
د مرګ په جوړولو سره غازي کېدل څه ځواني ده!؟ زه او ته باید د ژوند غازیان شو.
د ژوند غزا مېړن زړه غواړي.
ژوند د سختیو تجربه کول دي.
ژوند په لوړه ختل دي.
ژوند د غرونو له مینځه د لعل او مرجان را وېستل دي.
ژوند کار دی، زیار دی، زده کړه ده، آزموینه ده.
ژوند درد سر دی. ژوند د نامعلومو معلومول دي.
ژوند نوې لار، نوی حرکت، نوی سفر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند آسمان زده کول، آسمان ته ختل او آسماني کېدل او اوسېدل دي.
ژوند د حقيقت شرق ته تر رسېدلو پورې، پرله پسې لوېدل او را پورته کېدل دي، لوېدل او پورته کېدل دي...
دومره به لوېږې، چې لوېدل دې تمام شي.
دومره به پورته کېږې، چې هېڅ شي پورته پاتې نشي.
دومره به ځې، چې «هغه» ته هېڅ لاره پاتې نشي.
دومره به د ځان شمع بلوې، چې يو ځاځکې ماده، ذهن، احساس او عاطفه در پاتې نشي.
په داسې «هېڅ» کې به څوک پاتې شي؟ ووايه پرته له خدايه به بل څوک پاتې شي؟
هېڅ کې هېڅ نه شته پرته له يوه هغه څخه!
او دا ټول د خدمت لپاره، د الهي عشق لپاره او د الهي سپرغی (روح) لخوا، د خپلو ذاتي الهي صفتونو د خپلولو په خاطر تر سره کېږي!
او عشق بې تعريفه دی، يوازې په «آرامتيا، هوسايی، خوشحالی، اګاهی، بې طرفی او بې غرضی...» سره تمثيلېدلای شي.
نه! عشق بې کلمې دی.
عشق بې کلمې کلمه دی.
عشق الهي سرود دی.
ټوله هستي، ټول ستوري، ټول کيهانونه، ټول آدميان، خزنده ګان، الوتونکي، غرونه، سيندونه، د باران ځاځکي، د هر شي غږونه، دغې شپېلی پو کړي.
نو:
لويه خدايه! زړونه مو ستا شول، لږ د مينې، اګاهی او آزادی باران!
يو څه ساه به واخلو!
بر کت يوسئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه ویشتم ګام

نقل دی، چې ملنګ ووېل:
هغه چېرې ولټوم؟
ويې وېل: چېرې دې ولټاوه، چې ودې نه مونده؟
تذکره الاولیا، ابوسعید ابولخیر

### انسان د نفسي ذهن په تیارو کې اسیر ګل

نشته داسې ګل چې له یو متنوع او په خپل فردیت را غوړېدلي انسان سره يې مقایسه کړم.

او د هر يوه بل فکر، باور، نظر او ژوند په شتوالي سره، دغه ټول آزاد انسانان، د خدای تعالی د ارادې په خدمتګارانو بدلېږي.

انسانان او ژوندي موجودات جلا جلا زړونه او غړونه دي او په دومره غړوره سمفونیکه دنیا کې، ژوند عجیب موسیقار جشن جوړېږي.

### د بل په بښلو سره د ځان بښل

د ژوند رود له الهي سرچینو را بهېږي.

دغه رود سپېڅلی دی. هغه پنځولی او هغه مطلق «ښه» دی؛

نو زه ولې دغه ښه رنګ نه خپلوم؟ ولې ښه په خپل فکر، باور او دریځ سره نه ځلوم؟



**دغه عکس انټرنټ په لاس راکړ. دلته موږ او تاسو يو ځوان وینو، چې د افغانستان د دولتي پولیسو یونیفارم يې پرځان دی. سرتېري، پولیس او استخباراتي کارکوونکي، وسله وال مامورين دي. خو تر دې عکس لاندې يې کښلي وه، چې یاد پولیس پنجوايي کې تر اوسه ۶۰۰ ماينونه خنثی کړي دي. پنجوايي ماينونو زه ځوانۍ کې ځپلی وم. ځکه دی را ته د ژوند يو مېړنی ښکاره شو. دی ښيي، چې له ژوند سره مينه هر څوک کولای شي. برکت دي وي د ژوند پر مېړنانو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې د «کامل»، کاملي «ګاهې، آزادۍ او قدرت» لپاره لاره، مجرا، دريڅه، او همکار نه ګرځم؟
آيا له ابدي حقيقت څخه پرته بل ښه هم شته؟ آيا ددې ارزښت نلرم، چې د حقيقت شپېلۍ او سندره شم؟
د کلمې د ژوندي استاد په خبره:
«هر فکر، کلمه او يا عمل، يا زموږ کالبوت پاکوي، يا يې ککړوي.»
نو لويه خدايه! ته مو زړونه د حقيقت د مينې ليوني کړې.
ته مو زړونه او ذهنونه د ژوند ليدلو او پاللو، مرستې او همکارۍ لپاره، د قديمي قديمي ذهني ميراثونو له خوسا خيرو او تيارو را خلاص کړې!
ته مو په ټول وجود له ژوند سره مينې کولو ته وزګار او چمتو کړې!
د ژوند او ژوندي حقيقت ښکلا او ځلا او مطلق ښه والی نشم ويلای. دا کار د ذهني ادبياتو او ساينسي معلوماتو په وس نه دی!
حقيقت د زړه ژبه غواړي او د زړه ادبيات لا د کلام ميراث خواره رب النوعه ګان، د ادبي صنايعو او فنونو شاهانه بازار ته نه ور پرېږدي.
دې بازار ته به د يوناني اسطورې له دروازې ور تېر برې.
دې بازار ته ننوتل د مخورو دروازه بانانو په اجازې سره کېږي.
دلته به يا لرګينې پښې ځان پورې تړې يا به خپلې چنار چنار پښې اره کړې غورځوې.
دلته د مړو سرودونو او کتابونو د دودونو عطر دي، چې د تخليق د ډولۍ شهزاده ګان او شهزادګۍ به ور باندې مسموم شوي، د واکمن فکر او دريځ بازار ته ننوځي.
زړه بې اجازې مېږن دی. حقيقت هم په ټولو نظمونو، سرودونو، کتيبو، لوايحو، سنګ نوشتو، کاغذي متونو، او د وينډوز په جاوګريو مشر دی.
حقيقت بې اجازې شتون درلود او بې اجازې ژوند کوي او راتلونکې هم ددغه بې اجازې حقيقت يوه ننداره ده.
حقيقت تر ټولو مشر پوه او مشر ذهن او مشر وجود دی.
حقيقت د انساني ذهن له اجازې پرته ژوندی ؤ، ژوندی دی او ژوند به تل له الهي سرچينو له حقيقته ډک او مالامال راځي او بير ته ورځي.
حقيقت بې پلاره دی، بې موره دی.
نه فکر لري او نه د يوه فکر مخالف دی. موږ په ذهني دبدبه، د حقيقت په ښکار پسې را وتي يو.
خو حقيقت ته ځان سپارل، ټوله سوله ده، ټوله فتحه ده. او حقيقت د هرڅه کمال دی.
نو د خبرو پر ځای به يو دمه حقيقت ته غوږ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





جګړه دې ومري. جګړن فکرونه–باورونه دې اوبه یوسي.
دا وګورئ. ټوپک یې څېرې دی؟ پولادي خولۍ یې څېرې ده؟
ټانک او الوتکه یې څېرې دي؟ له ده شاید خپل ټولی او کنډک هم
ورک وي ؛ خو ده یو ژوند په غېږ کې نیولی. کاش هغه ورځ راشي،
چې وسلې په وسله تون کې پټې شي. او موږ ټول د ژوند مینه ګر
خدمتګاران واوسو.

## درویشتم ګام

«د بل وګړي د آزادۍ له پېلېدلو سره، زموږ
آزادي ودرېږي؛ دې ته د مسوولیت واټ وای.»

### بت شوی حقیقت

حقیقت کې یوازې آزادي، اګاهي او قدرت اوسېدلای شي. حقیقت زموږ په فردي آزادۍ، اګاهۍ او مینې سره تمثیلېدلای شي.
موږ د حقیقت مادي–ذهني کنډولې یاستو. حقیقت زموږ د اګاهۍ د کنډولې په اندازه را سره شته.
غوږېدلې اګاهي غوږېدلی حقیقت،
او متحجره، باورمنده، بشري تالیفاتو او عادتونو جوړه کړې اګاهي،
هماسې زړه قدیمي او مړګ صفته اګاهي!
هر وګړی د فردي اګاهۍ مظهر دی. موږ خپلې فردي اګاهۍ را په ډاګه کړي یاستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اګاهي فردي انتخاب دی. ځکه نو حقیقت هم فردي دی.
وګړی حقیقت د خپلې اګاهۍ له قد څخه ویني، هغه بیانوي او په نورو تطبیقوي!
ځکه نو حقیقت د انساني اګاهۍ په خاوره، لرګیو، ژېړو، مسو او وسپنو سره بت شوی او اوس پر ځمکه باندې حکم چلوي.
مورږ ښايي د یوه بت شوي حقیقت بتخانه واوسو!
مورږ ښايي بندیخانې، زنځیرونه او زولنې، د اعدام او ګویتین رسۍ او ساطورونه د «بت حقیقت» راضي ساتلو لپاره جوړ کړي وي!
ښايي ډېری وینې توېدنې د بت شوي، یا وچ او زاړه شوي، مړه خو «تاریخي» حقیقت په خاطر رامینځ ته شوي وي!

## آزادي د فرد سرنوشت

خو: له دې ټولو ذهني –نفسي کوډو سره سره، آزادي د فرد سرنوشت دی.
آزادي دومره ډېره، ناپایه او له تصور دباندې ده، چې یو سر یې له «ما، تا، هغه» سره دی او بل سر یې د حقیقت په نو پورې تړلی. او وګړي ټول د حقیقت اولادونه دي!
آزادي د حقیقت له مدینې را پنځېږي.
آزادي خدايي ابدي کلمه ده.
«آزادي» په ټوله هستۍ کې، د خدايي کلمې په توګه لوړې ژورې وهي، تر هغو چې یو فرد د «صغیر حقیقت» یا «صغیر کیهان» په فردي اګاهۍ کې را ویښ شي.
دا نوی فرد دی. دا نه څوک بدلوي، نه څوک جوړوي، نه څوک مقدس یا ناولي کوي.
دا فرد یوازې ژوند، آزادي، اګاهي او مینه ویشي.
په داسې «نوي فرد» کېدلو سره یو انسان، یو ژوند ژغورل کېږي.
یوه فرد کې آزادي پنځېږي. او نوی فرد د آزادۍ په نا نوشته سپین کانال بدلېږي.
د فرد سرنوشت د خپلې فردي آزادۍ پوره تجربه کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انسان هومره آزاد، چې کولای شي!

انسان آزاد دی، چې مادي شي یا معنوي شي.
انسان آزاد دی، چې ځمکه خپل پایتخت جوړ کړي یا په خپله فردي او نه تجربه شوې لاره، د آسماني پایتخت په لور الوت وکړي.
انسان آزاد دی، چې د ګېډې، حواسو او ذهن د اشتهاوو لپاره ټول ژوند مصرف کړي یا ځان د ټول ژوند خدمتګار وګرځوي.
انسان آزاد دی، چې بې قید او شرطه مینه ګر شي، یا د شهرت په ګټلو کې خپل زړه له لاسه ورکړي.
انسان آزاد دی، چې د انسان سوځولو بټۍ جوړې کړي یا د زړه له دریابه نوی تاج محل راوباسي.
انسان آزاد دی، چې دنیا په ځان او «ځان» د ذهني نفسانیاتو په شیطان وخوري!
او هغه انسان هم آزاد دی، چې ځان له مادي-ذهني خوبه راپاځوي، او ځان کې ټول جهان را ویښوي او د خلقت د فلسفې په اراده، د ژوند او ژوندو او د ژوند د نغمه ګرۍ سرچینې خدمتګار ګرځي.
دادی آزاد انسان! دادی د آزادۍ ځواکمن خدمتګار، دادی د ژوند د ټولو رڼاګانو او نغمو همزولی.
دغه نوی انسان پسې به یو څه لټه وکړو؛ ګوندې زموږ دننه تیاره برخه کې خوب وړی وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library





دا سړی اینې نومېږي. د هندو اینې مذهب، نژاد او نسل له موږ ښخه توپیر لري؛ چلند یې هم توپیر لري. دلته زموږ «ژبې» څه اورونه وه، چې پر یو بل بل نه کړل!؟ خو اینې په ژبه باندې رسم باسي. هغه ژبه ښکلي کار ته وقف کړې. هغه تر دې مهال زر انځوره نقاشي کړي. اینې ثابتوي، چې موږ کولای شو، دغه ترخه ژبه همدا اوس خوږه کړو.

## څلورویشتم ګام

«ته خپله د ځان مشکل یې. باید پوه شې او مخکې تر دې چې د خدای راز درک کړې؛ پېل کې باید د خپل کوچنې «زه» راز کشف کړې. دا قانون د «ځان» دی او خدای قانون دی. څکه نو تا ته وایم، تر هغو دې چې خپل دننه پټ «زه» فتحه نه کړې، او د هغه معما دې نه ده حل کړې، د خدای په لټه مه وځه.»

### «اصل انسان»

انسان په خپل فکر، دریځ او چلند سره نوی پیدا کېږي. دا بیا زېږون دی. دا نوی او تازه انسان دی. دا شان لوړ او «اصل انسان» د بل نسکورولو د مکتب

(c) ketabton.com: The Digital Library



او باور له زولنو آزاد دی.
هغه هر بل ژوند او هر ژوندي ته د خدايي نښې په ستر ګه ګوري.
هغه ټول آزاد انسانان، د خلقت د آسماني شعر کلمې، استعارې، تشبيه ګاڼې، انځورونه او اهنګونه ګڼي.
آه! څه وکړو! دا معاصر، باشعوره، روزل شوی،
په ځيره ښوی، په جامو ښايسته، په نوم سرلوړی،
په قوم، ژبه، نژاد، باور او تاريخ او هرڅه اصيل انسان ولې د بل له سر او مال څخه لاس نه اخلي!؟
ښايي ځکه چې موږ د اپلاتوني سمڅې هغه لرغوني سړي ياستو، چې د حقيقت تت سيوري مو په خپلو انساني اګاهۍ کې حفظ کړي!
بيا مو هغه ته پټ په پټه، د رب النوعګانو او خدايګوټو جامې، خېرې، شاخ او برېت ورکړي او تر دې اوسه اوسه د هغو په خاطر، خپل او د بل سر او مال په قمار وهو.
د سمڅې د فلسفي له مخې، هر وګړی يوه شخصي اګاهي او يو شخصي حقيقت دی. له توازنه وتي حواس او ذهن، دغه شخصي حقيقت-هماغه د سمڅې په ديوال د حقيقت پروت تت انځور- په پرستش بدلوي او ددغه ذهني خدايګوټي په خاطر نه ځان آرام پرېږدي او نه بل ځوک خپل خپل فکر، دريځ او باور ته پرېږدي!

## د شخصي حقيقتونو سور ډګر

دا په جنګ سره ميدانونه،
دا په ډاګ پراته بې تنې سرونه، او بې سره جسدونه،
دا جنګ ته رنګ کړي، خموش ولاړ زغروال ټانکونه،
دا د مېګ او اف۱۵، ۱۶، ۱۷...، اواکس او ميراژ ډوله جټ الوتکې، ټول د فردي او بت ګرځولي حقيقت، په مکتوبه اراده جوړ شوي، چمتو شوي او پراخو نورو وينې تويولو او د نورو بدلولو آمر ته ولاړ دي.
حقيقت يو دی. حقيقت تازه دی، نوی دی، ژوندی دی او حقيقت همېشه او هميشنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زموږ اګاهي، چې د پلرو او نیکونو د غوره اخلاقو په دم او دعا او د اوږدو شوګیرو د قصیدو په زور را کړل شوې؛ اصلي حقیقت-ژوندی حقیقت-نهویني.

حقیقت شته؛ خو موږ یې کتابتونو او موزیمونو او د قبرونو په لوحو او د معبدونو د خدایګوټو د مینجاورانو له خولې اخلو.

زموږ اګاهی حقیقت ورک کړی، ځکه چې حقیقت په هېڅ راز حواسو او ذهن کې نه ځایږي، ځکه نو حقیقت د زړو نښو په بڼه، موږ کې زیارت شوی.

هغه د ستر «رومي» د انګور، عنب... کیسه به مو اورېدلې وي!

ټولو انګور یاداوه، خو نومونه یې مختلف ورته کارول! او څو انسانان، په بېلابېلو ژبو کې د انګورو بېلابېلو نومونو سره په جنګ کړل.

څه ښه خبره ده: «خدای هغه څه دی، چې ته باور پرې لرې. هېڅ انسان د خدای د هستی په اړه تېروتنه نه کوي؛ خو یو انسان هم په سمه توګه نه پوهېږي، چې دده پېژندنه له خدای څخه څه شی ده؟»

## دانګورو د نوم پر سر جنګ

انساني اګاهی حقیقت محدودوي. انساني اګاهی حقیقت لکه غوږ، پزه، ژبه داسې له اصلي سرچینې را پرې کوي.

زموږ حقیقت، د «حقیقت» یوه څېره ده. حقیقت په بېلیونونو څېرو وېشل شوی دی. هر وګړی یو فردي حقیقت دی؛ خو «کامل حقیقت» نه دی.

کامل حقیقت د ذهني-حسي اګاهی له محدودو بهر او آزاد دی، ځکه نو پر ځمکه د حقیقت ګلیکانې دروغجنې دي.

یو څه دمه، یو څه به ورو شو!

اخر ټول حقیقت ته په مزل کې یو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځه ویشتم ګام

«د رستګارۍ ادعا مه کوه؛ تر هغو چې آوازې ستا پاملرنه ورجلبوي؛ تر هغې ورځې چې د بل ملامتیا،
له خپلې هغې زیات ستا د اندېښنې وړ ګرځي، تر هغې د خپل «زه» پر مشکل لاسبرۍ شوی نه یې.»

### حقیقت د جنګ مدرسه!

حقیقت ژوندی دی او په هر لور روان دی؛ ځکه چې هېڅ لور ته پر ته له حقیقت څخه هېڅ شی نشته.
خو حقیقت چې وچ شو، بیا نو مړی دی؛ لکه بې روحه انسان چې مړی دی.
ژوند د حقیقت ټاټوبی دی. هستي د حقیقت ننداره ده. نیستي د حقیقت نه پېژندلې هستي ده.
حقیقت یوازې په ټول حقیقت کې ځایږي، لکه کائنات، لکه ځمکه، لکه آسمان، لکه ستوري، لکه د خداي تعالی ټوله خدایي چې د ژوندي حقیقت ځلېدلي حقایق دي.
لکه خدای تعالی چې په هېڅ شي نه بیانیږي، حقیقت داسې تر هر ډول ذهني بیان او عقلي تفسیر او استدلالي جادوګریو لوړ او بهر ودرېږي.
انساني اګاهی حقیقت برخه برخه غلا کړی او دومره مهال انساني ټبر د حقیقت په وچو، بې ساه او بې ژونده نښو، د تقدیس لوحې لګولي او د خپل ډول کشیشان خپل کار وبار کوي.

### جنګ د انساني اګاهی تولید

جنګ د نفس اولاد دی.
یاغي، له کنټروله وتلو ذهني نفسانیاتو (قهر، شهوت، مادي ذهني تړلتیا، طمعې او ځانپالنې) حقیقت په شنه اور بدل کړی! په دا ډول فضا

(c) ketabton.com: The Digital Library




**اعتزاز مي پر انټرنټ وموندہ. له عکس سره يې کېنبل شوي ؤ، چې د پښتنو پر يوه غرنۍ مېنه يې د ښوونځي پاسباني کوله. اعتزاز ځان هغې غېږ ته ور واچاوه، چې واسکټ سره د ګلځېرو ماشومانو ټولګي ته ور ننوت.**

کې، حقيقت د جنګ مدرسه ده!
انساني منظمو او متمدنو ټولنو، حقيقت مکتبي کړی او ددغه مکتب طلبه، د ژوند پر ضد جنګ ته په ډول او په باجه روان دي.
ژوند خدای تعالی پيدا کړی، خو معاصر باورمند او روزل شوی انسان، ژوند په کاڼو ولي.
خدای تعالی ژوند په بيليونونو او تريليونونو او...خيرو او نژادو او رنګونو کې پنځولی، خو انساني اګاهی بل رنګ، بل فکر، بل باور، بل دريځ...نه مني.
انسان ته «بل» دوزخ دی!
د «روا» او «ناروا» پولې انساني اګاهی جوړې کړې.
انساني ذهن په دې مېښ دی، چې هر شی- حتا حقيقت- د شي په بڼه ووينې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهن له زړه سره ضد کړی، چې خامخا به حقیقت په شکل، جسم، زمان او مکان کې خپل اوج څرګندوي.
انسان دومره مهال لګیا دی، چې «حقیقت» د شي په بڼه تر لاسه او د خپلې خپلخانې، قبېلې لپاره یې ثواب ګټونکی میراث پاتې شي.
دغه د(قهر، شهوت، تړلتیا (وابستګۍ)، طمعې او ځانپالنې) په وحشي اژدهاوو ډک انسان، حقیقت- د حقیقت سیوری- خپل ملکیت ګرځولی.
دغه انسان، په ذهني- نفسي اسارت کې، بل فکر- باور او دریځ ناروا ګرځولی.
دغه باورمند موجود، ځمکه په «خپل» او «پردي» وېشلې ده. او پردي ته زین کړي آسان ساتي، چې د لوی قهر په یوه جګړه کې یې له ځمکې ورک کړي.

## د اخلاقو کتاب!

انسان سره له دې، چې غاښونه یې د سبو او میو خوړلو ته جوړ دي، خو غوښه خور را لوېږي.
هغه پر ژوندي ستوني تیره تیغ را کشول، د اخلاقو په معتبره کتاب کې ځای کړي.
حیوانات د خپل فطرت او طبیعي اړتیا له مخې، د یو بل غوښې خوري؛ خو انسان، چې عقل یې، په کاغذونو کې ثبت شوې؛ د کلونو، قرنونو او زرګونو کلونو زړو تجربو، پوهو، احکامو او اخلاقو پړسولای اُو ډک کړی دی. همدغه ډول انسان د بل آزادي، ژوند او مال هدف نیسي او خپل یرغلونه، نیواکګری او غوبلونه، په جشنونو کې نمانځي.
انسان ولې سولې باندې د جنګ اور را کوز کړی؟
دا څه شی دي، چې له سپینو شودو را لوی شوی انسان، په قتل باندې پښه ږدي او قتل خپل لرغونی سرنوشت پېژني؟

## ځانپالی ذهن قاتل دوزخ!

د بل په ژوند، مال او حیثیت باندې تېری، په انساني اګاهۍ کې زوکړه کوي. ځانپالی ذهن قاتل دوزخ دی.
د انسان ټول کرکجن کارونه ذهن نقشه کړي، ذهن په ځان کې پاخه کړي او بالاخره ذهن د انسان په اراده او عمل باندې بدل کړي.
ذهن کوډګره بلا ده. د ذهن لومړی قرباني هغه وجود دی، چې مکتبی او مدون ذهن یې په زړه، اګاهۍ، حواسو، عواطفو اُو ناخوداګاه کې د قتل هګۍ اچولې.
های های، له انساني ځانپرستې اګاهۍ څه مړ، خوسا، عتیقه او قدیمي بوی خېژي!
دمه به شو، کنه دا لوړې چیغې به په ځان کې لمبه شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library





ماشوم په حقيقت ډک دی، ځکه د حقيقت لټه نه کوي. د حقيقت لټه غټان، سرېيان او مشران کوي. ماشوم يو پل هم په حقيقت پسې نه اخلي.

## شپږويشتم ګام

«له تا سره بيا د معما په ژبه خبرې کوم. خو د هغه چا لپاره، چې د حقيقت د اور بدلو وس لري،
زما يوه خبره هم معما نه ده. کلمې حقيقي دي او نه فناکېدونکې...
ځکه نو وايم: هر کلام چې د خدای په نامه ادا شي، د خدايي علت پيغام برسېره کوي. ځکه نو
غوږ کښېږده او پوه شه.»

### انساني اګاهي او د قتل او غلا سواد

ماشوم له دې انساني غمه بيغمه دی. وګړي د خوسا فکر ککړتياو داسې په خونړی رنګ اړولي.
څه به يې کړې، چې فکر وي، خو د چا د وژلو، بندولو، لوټلو او نفرينولو!
ولې د ماشوم خندا زمونږ له مدونو، اصولي، او مهر و موم شويو فکرونو، مانېفستونو او مکتبونو لوړه ښکلا وېشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم خدايي دی. هغه د قتل او غلا سواد نه لري.
ماشوم ساده دی، کټ مټ د حقيقت په شان، نه چا ته بادار دی او نه غلام ته لاس د مچولو لپاره ور کوي.
ماشوم نه سر ټيټوي، او نه سر ټيټي سړي ته ګوري.
ماشوم فقط ستر ګو ته ګوري.
ماشوم د ستر ګو له لارې خپل ساده خدای ته رسېږي.
ماشوم نه چا ته صاحب وايي او نه د صاحب کارونه کوي.
د ماشوم ژبه يوه بې پروا خندنۍ سندره ده.
هغه د هېچا نوم نه پېژني. خو د هر چا په ستر ګو کې يو څه شی پېژني، چې له آسماني کوره يې په يادېږي.
ماشوم آسماني راه بلد دی. هغه په خدای خبر دی. هغه له خدايه ډاډه دی. هغه له هېچا وېره نه لري، حتا له خپل څښتن سره داسې بې پروا او آسانه اوسېږي، چې ته به وايې د لمر په غېږ کې پروت دی، د جنت ونو ورباندې سيوری جوړ کړی، پرښتې ورته په ګډا دي او د ځمکنيو پاچاهانو، خرمسته آسان يې له مخې نشي تېر بدلای.
ماشوم د پرښتو په درجه دی، د لمر په اندازه دی، د جنت برابر يې زړه دی، او کور ګی يې د خپل خدای په لوی کور کې امن دی.
ماشوم نه درجه دار جنرال دی، نه د هندوانو د ټيټې طبقې رټلې انسان شکله حيوان!
ماشوم ته يوازې خپل خدای لوی ښکاري او بل هېڅ شی لوی نهويني!
خدای يې دومره لوی دی، څومره يې چې زړه غواړي.
ماشوم د خپل زړه موټر ک دی.
ماشوم د خپل زړه په «زړه» ځغلي.
زړه يې سلطان دی او دی يې ټول سلطنتي هيواد په خپل زړه، ذهن، حواسو، روح او ټول ځان کې، د خدايي ښار او کلي په لور وړي.
ځکه نو خپله يوه شېبه خوښي د احمد او د محمود په پاچاهۍ نه ور کوي.

## زموږ غټانو ډک ذهن او پوچ حقيقت

ماشوم په حقيقت ډک دی، ځکه د حقيقت لټه نه کوي. د حقيقت لټه غټان، سرپيان او مشران کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم یو پل هم په حقیقت پسې نه اخلي.
ماشوم په خپل حقیقت کې مېشت دی، ځکه د پلرونو او نیکونو نیک کارونه، حتا لمونځونه، روژې او نور عبادتونه په خوله ور زده کېږي.
دا پوهه ماشومان اخلي او داسې یې انساني اګاهي قد باسي.
خپله رښتیا به در سره شریکه کړم:
هغسې چې لازمه ده، لا د بل بدلولو، موږ خپله جوړ کړي دوزخ پوره انځور نه جوړ بېږي!
حقیقت زموږ پر ټولو معلوماتو، فکرونو، اندونو، باورونو، قضاوتونو او وېښنو مشر دی.
حقیقت زړه غواړي او زړه چې د فکر مېاشو او مچانو په خپلو هګیو ډک کړی وي، حقیقت ته مخ نه لري.

## وېره او شرم د ذهني معبد ځښتې او لرګي

زموږ ذهنونه، حواس، غرایز، حتا زړه مونث حالت لري.
زموږ مشرانو په ډار کې را غټې شوي زړونه، حقیقت ته د ورتګ نه دي.
ډارن زړونه له حقیقت څخه شرمېږي او وېر بېږي.
حقیقت زړور دی.
دغه سودایي ذهن د حقیقت زړه نشي کولای؛ ځکه وېرېږي. ځکه نو زموږ مشرانو سودایي ذهن وېره وایي، وېره روزي، وېره ترویجوي، وېره زیاتوي، او وېره لمانځي.
ذهن د انساني اګاهي یو کمپیوټر ډوله ماشین دی. دلته د وېرې معبد جوړ دی.
ذهن د بل د آزادي، ژوند او مال غل دی، ځکه نو وېره د ذهن سرنوشت دی، ځکه چې ذهن هماغه قاتله شیشکه ده، چې موږ یې له خواږه ماشومتوبه راپاڅولي او په وېره وېره کې د مخ او څټ، سر او صورت په وېښتانو ببر مبر کړي یاستو.
شیشکه نشته! شیشکه زموږ پټه او ژوره څېره ده، چې په شپه او تیاره کې ځان را ښیي.
موږ له تیارو، له یوازیتوبه، له نابلده ځایونو تښتو. موږ یوازې خپل ذهن ته آشنا ځایونو، ځیرو او ځیزونو سره خوري او وروري کولای شو.
موږ د لوخ حقیقت نه یاستو.
موږ له سمندرونو ژور، له لمر او کهکشانونو لوړ، له امیب وړوکي، له غره، لیوه، تندر، دوزخ او جنت څخه د لوی حقیقت نه یاستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د حقیقت ننبو پسې چراغ را اخیستی.
موږ د حقیقت پټ مخ ستایو.
موږ یوه تور افریقایي، یا هندو، یا بل جادوګر په شپه کې د «فیل» ننداري ته ور وبستلي یاستو. موږ د تېلو او غوړو د دوړو وهلي لرغوني شمعدان په نیمه رڼا- نیمه تیاره کې، د فیل د غوږ یا خرطوم یا د میتازو کړلو د الې عکس، د فزیکي حواسو له لارې لیدلی، او بېرته د جادوګر په یوه قیو سره خپل ملک کې را ویښ شوي یو.
زموږ وېره له حقیقت څخه ده.
موږ ته حقیقت تر ټولو زوروره وېره ده.
موږ د حقیقت لیدل او اوسېدل او پوهېدل مخصوص سړي ته پرې ایښي.
موږ د پټ مخي حقیقت خلک یاستو. موږ یوازې د پردې مریدان یاستو.
موږ په دیوال او دروازه عادت یاستو.
موږ حقیقت د خپل وخت نه فتحه کیدونکي دیوال څټ ته بندي کړی، دروازه مو ور تړلې او د قصیدو استاد جادوګر ته غلا کړی د چرګ هګۍ، نذرانه ور وړو، چې دروازه په خپل کنترول او حکم کې وساتي.
موږ د فلج، ولاړ، بې ساه حقیقت خاورې له شودو سره ګډوو او خپلې ویرې ور باندې نښه کوو.
زموږ په اګاهۍ کې، د حقیقت مخته ولاړه دروازه ورځ په ورځ لویېږي، ډبلیږي، او په مرموزو کولپونو تړل کېږي.
زموږ دوام، د دروازې، کولپ، وېرې دوام دی.
ځکه یو بل په لاسو، په پښو، په خولو سره شکوو.
آه، څومره ضرورت دی، ځان سره یوې دمې ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه ویشتم ګام

«زه د هېڅ لارې درس نه ورکوم؛ ځکه نو تاسو نشی کولای ادعا وکړئ،
چې زما لاره تر ټولو غوره لاره ده.»

هر هغه زړه چې د ذهن اعلامیې اوري؛ نو ذهن یې حقیقت دی او ذهن ور باندې مفتش راهب مقرر شوی.
داسې زړه، یوازې د تورو کارغانو او کجیرانو غر او ځنګل، وچه دره او سوزنده ډاګ دی.
په داسې شوره زار باندې د ذهن روزل شوي عسکر، لکه اتیلا، لکه تیموچین، لکه سکندر، کله هم لکه ناپلیون او بل ځل د هېټلر په کالبوت کې را لوېدلي،
د غم په اوښکو را ټوکېدلی نوبهار یې لوټلی،
هوسۍ یې وړې، بازان یې ړانده کړي
او پر ځای یې د غم او لوږې، کرکې، او د عاجزۍ تر شعار لاندې لیونۍ ځانغوښتنه-ځانپالنه، د شنډې (بنده ګۍ) د کمیس او پرتاګه، پکول او لنګوټې په پرده کې، نمایش ته راوېستلې.
دا شان زړه دومره فقیر دی، چې ټول عمر په سوال تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښایسته افغانستان په سپېڅلي لمن داسي ډېر «سترګ وړي» (یا ستروړي) شته، چې د شتو او پیسو حساب یې یوازې د پیسو په ماشین او کمپیوټر کې کېږي، خو دوی د ولس پر ژوند او سرنوشت له واکمني باوري فضا څخه د هغوی د لازیات لوټلو له کاره شپېه نه وزګارېږي. هغوی پیسې راټولوي، او له وطن څخه یې باسي او د نړیوال آزاد بازار په ماشینونو کې یې وینځي او ځانته د مشروعې پانګې بې حسابه زېرمې جوړوي.

## د هستۍ اخلاق

له ټولنیز وجدان، قانون، قضا او قانون پلي کوونکو تېښته آسانه ده؛ خو له «ځان» څخه تېښته غیر فطري ده. هر څوک ځانته ور له غاړې دی. حساب نغد دی. دنیا او د دنیا کار و بار پر انعکاس ولاړ دی. هر چا ته خپل افکار، خپل عمل او خپل دریځ بېرته راګرځي. هر کښت خپل محصول لري. د هستۍ اخلاق دادي، چې هر وګړي ته خپل افکار، او کارونه ور ګرځوي.
له دې نصحیته به تیر شم. پر بېرده، چې هر وګړی په خپله تجربه د هستۍ د اخلاقو خوند وڅکي.
لویه خدایه! زموږ کرکې، ځانغوښتنې، خودپرستۍ او د بل د بدلولو نیتونه په خپله بې قید او شرطه مینه کې ډوب کړې او ټولې ځانپرستۍ مو د تل لپاره نیست کړې!

## د عقل بدلول حرام دي

لویه خدایه! موږ مینه ګر کړې!
موږ د مینې قحطۍ وهلي په مینه ماړه کړې.
ته مو د خپل عشق او رحمت په اقیانوس کې ډوب کړې.
له موږ څخه د روزل شویو او دود پاتې شویو فکرونو او اندونو اعتیاد واخلې.
ته مو جام له خپلې بې قیده او شرطه مینې داسې را ډک کړې، چې په هره خبره، هر ګام، هر حرکت او فعالیت کې مینه را څخه وړانګې وکړي.
شراب حرام دي. چرس، هیرویین، کوکایین، مورفین او تریاک حرام دي. هر هغه څه چې زموږ عقل بدلوي؛ حرام دي.
او هر هغه څه چې د بل عقل ور بدلوي حرام دي. نو ته مو زړونه داسې را ویښ کړې، چې د بل بدلول پر ځان حرام کړو او پوره حلال



(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند وکړو.
لويه خدايه! ته مو لوی کړې؛ خو لوی مينه ګرا!
ته مورِ، ته ژوند را زده کړې، ته مو د ژوند د ژبې ملا او معلم کړې. ته مو د ژوند باسواده کړې.
ته مو ژوند د کيسې په ډول، له «تيرولو» را ازاد کړې.
ته مورِ سپين سپين زړونه او ذهنونه او عاشقې اروواې کړې!
ته مو په خپل اذلي «ځان» راويښ او د «بل» د بدلولو له حرامو خلاص او تل آزاد کړې.
اوس به سکوت وکړو، ګوندې زړه کې مو څوک ناست وي، څوک غږ بړي: غوړ اينبوول د باسوادی لاره ده!

**جاويد زيرک د سالنګ په اوبو سر کښېښوده. دومره زړه بل چا سره نشته. زابلی د سالنګ سين ځان سره کوز کړ ؛ خو دغه بيباکه مينه ګر ځان ور پسې وغورځاوه. آفرين شه پر داسې زړور انسان. لويه خدايه! ته مو د جاويد زيرک په شان د زړه جام له خپلې بې قيده او شرطه مينې داسې را ډک کړې، چې په هره خبره، هر ګام، هر حرکت او فعاليت کې مينه را څخه وړانګې وکړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**ځمکه سپېڅلې ده. دا د الهي عشق او خدمت مدرسه ده. ارواډلته پرځان خبرېږي او پر خدای تعالی خبرېږي.**

## اته ویشتم ګام

«یو شمېر داسې وګړي شته، چې تل یې هڅه کړې، یوه مشخصه الګو پر خلکو ور تحمیل کړي، هغوی ماشین غواړي نه انسان.»

### هر یو په خپل ګام کې دی

هر څوک په هغه ګام کې دی، چې دغه شېبه یې د خدای تعالی لپاره اخیستلای شي.

هر یو د خپلې اګاهۍ حاضر ګام دی. لکه زه، ته، هغه چې دی.

څکه زیات څه نشم ویلای، څکه په دغو کلمو کې رغېږم را رغېږم، چې بېسوادي را څخه تویېږي شي، بېسوادي مې وسوزي او زه د سوچه غږ یوه ځانخبرې وړانګه او د هستۍ یو ویښ اتم شم.

هر یو د خپلې اګاهۍ –خوداګاهۍ– په اندازه ګام پورته کوي او یوازې دومره کار کولای شي.

هر یو په خپله پوړۍ کې دی او سرنوشت یې دادی، چې خپل ځښتن پیدا کړي، ویې ویني، وایې وري او وربانديې خوداګاه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرد که ټیټ شي یا چنار قد ودر یږي، خپل خدای لري، همدغه یې ټول حقیقت دی.
هر فرد د حقیقت په اړه معینه اګاهي ده. دغه اګاهي د «حقیقت د اګاهۍ» معین سیوری دی.
هر څوک حقیقت د خپل خیال د کړکۍ له لارې تجربه کوي، او د خپلې انساني اګاهۍ په اندازه حقیقت په کې ځایېږي، او پراخېږي او غوړیږي.
هر وګړی، خپل موجود حقیقت نمایش ته را باسي.
هر وګړی خپل شته حقیقت لمانځي، او نورو ته د زده کړې، تقلید او رواجولو لپاره وړاندې کوي.
هر څوک خپل حقیقت په سپېڅلې کتیبه او سروده بدلوي او په کتلوي اخلاقو او تمدن د بدلولو لپاره یې د پیروانو ډلې، راهبان، کشیشان او سرکشیشان په دنده ګماري.
موږ د حقیقت د وچو باغچو په چاردیوالۍ کې په بنده ګۍ یاستو. دباندې هم نالیدلې سره، شنه، تور او بې رنګه اورونه دي، چې مقدسې اخلاقي درسنامې یې، د هندسې له شکلو او اندازو ارت او د حساب د کتاب له شمېرو پورته، زورور ټینګ او درانه اورونه ښیي.
خو د کاغذ پر مخ په وچو شویو کلمو کې، د لویو طالعبینانو، د بختور عقل له سنګګ شویو وینو سره سره، هر انسان د خپلې انساني اګاهۍ په سطح حقیقت پېژني او د حقیقت پالنه او نمانځنه کوي.
د هر چا فکر او اګاهي د «کامل فکر او اګاهۍ» معین انعکاس دی.
یوازې خدای تعالی کامل او پوره دی او موږ د اګاهۍ د ستر سمندر هغه واړه واړه څاڅکي یو، چې د خپلو له کنترول وتیو ذهني نفسانیاتو (شهوت، قهر، طمع، تړلتیا، او خودپرستۍ) په جادو کې، «حقیقت پلار» را څخه ورک شو او په څمکه کې په نیمه شپه، نیمه ورځ واوښتو. او الهي مینه او کر که سره نه بېلېدونکې نوک او ووری ګڼو.

## د حقیقت ورک اولادونه

خدای تعالی خبر، زه چېرې او حقیقت چېرې!؟
حقیقت بې زمانه دی، خو زما ذهن او ذهني اګاهي زماني دي.
حقیقت بې نومه دی، نوم زما اګاهۍ-انساني اګاهۍ- ورکړی، ځکه په نوم اخیستلو سره مې بې زمانه او بې نومه حقیقت هیر شوی.
حقیقت شته.
حقیقت ژوندی او حاضر دی.
«هغه» شته! خو ما ورک کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نه یم ورک شوی، خو انساني اګاهي، یوازې ذهني نفسانیاتو ته ښکلي او منلي شیان او سرېیان پېژني او مني او همدا یې بتان دي.

## قطره مست

زه- د اګاهۍ فردي وضعیت- د حقیقت هیره زمانه یم.
مور د اګاهۍ یوه څاڅکي، دومره نېشه او خمار کړي یاستو، چې ټوله دنیا، ټول وګړي راته جاهل او نادان برېښي.
مور ته خپل ذهني-نفسي حقیقت دښمن، جګړه او برخلیکپانه جوړه کړې.
زه د بت شوي حقیقت په خاطر توري وهم.
ما د خټو، لرګو، مسو، برنزو، طلاو، الماسو او
ذهني خدایګوټو- بتانو په خاطر وژنې کړي. قتل د بتپالنې زور ښیي.
اخ! قتل دې ومري! که قتل ونه کړو، څومره ژر به څښتن تعالی سره خپل شو!
د کلام او غږ مسافر ځي او راځي او مور له زړو زړو بتانو خلاصوي.
اوس خاورین، ډبرین او مسین بتان نه نمانځو؛ خو ذهن ته منلی د حقیقت سیوری، اوس په باور-اخلاقو بدل شوی.
د ماشومانو لخوا له خاورو شګو د سړو، څیرو او کورګیو جوړولو او بیرته ړنګولو ته په کتو سره، له خاورو او شګو جوړ بتان را ته دروغجن وختل؛ خو اوس بت دننه ولاړ دی.
بت هماغه د حقیقت وچه وینه ده. هماغه لومړنی شپون قهرمان، چې د ټولې رمې غلاوې، شرمونه، او ظلمونه یې د خپلې وینې په بیعه اخستي.
د حقیقت هماغه اپلاتوني سیوری بت شوی.
دغه سیوري ذهن خپل کړی.
د حقیقت سیوری باور شوی، اخلاق د هغه د وژل شوي غږ مړه وینه ده.
د کابل سین ته «څمڅه مست» وایي؛ خو دغه سین زما لپاره خپله هېنداره ده. زه د اګاهۍ په یوه قدیمي څاڅکي مست شوی یم او دنیا په خپلو چیغو وژنم:
«ما حقیقت راوړی. زه د حقیقت سوداګر یم. زه حقیقت را استولی یم...
لرې له ما آزاد شئ!
بل ګام په مخکې دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library





**زه پر ژوند مينې يم.**
**زه هغه يم، چې اوسم.»**

## نهه ويشتم ګام

«زه رڼا يم. هغه نور چې ستا دننه پرک وهي. هغه نور چې
تهوله دنيا يې رڼا کړې. ټول ځېږونه، ټول وجودونه، ټول
کائنات له ما را تو کېږي.»

«زه هغه غږ يم؛ هغه ستا دننه کلام. هغه غږ په ټوله دنيا کې
تيت دی او ټول کيهانونه ژوندي ساتي.»

### «نو» مو ووت د کاغذي حقيقت په دفاع کې

زه ددغه «تاريخي حقيقت» مخالفان يا په ژبه، يا په لاس، يا په ولچک او زولانه، يا
په پانسی او د برقي وژنی په اتومات څوکی باندې اصلاح کوم!
که په اخلاقي کتاب او د اخلاقي معلم په فشار نه شوه؛ بيا يې وژنم او په ټوله ځمکه
باندې، د اخلاقو د طومار مرخېړي او ثوابي خرما کرم.
«زه» کاغذي حقيقت په خوراک او څښاک بدلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاغذي حقیقت د ټول نسل سرنوشت ګرځوم.
موږ د افلاطون د فلسفي سمڅې سرپیان یاستو. موږ د لمر تت سیورى لیدلى او د یوه تیاره او تت سیوري په نامه، لښکرې جوړو، وینې بهو، او د ځمکې له مخ څخه د ژوند رنګین فصل ریبو!!!
«څومره تفاوت دی په انسان کې د معنا په لحاظ...»
خدای تعالی ژوند پیدا کوي، ژوند آزاد خوشې کوي، ژوند پالي، لویوي، ژوند د ځان په لور ور بولي!
خو زه ژوند وژنم.
زه ژوند د اخلاقو محکمې ته را کاږم.
زه ژوند په ناروا او روا باندې وېشم.
زه ژوند د ذهن مریی ګرځوم.
زه د ژوند په غوږو کې اخلاقي ګوشوارې اچوم.
ژوند ته کالي جوړوم. ژوند ته ټرافیکي لوحې او لارښوونې ودروم.
زه ژوند ته اخلاقي نظامنامې جوړوم. زه ژوند ته قوانین جوړوم.
ژوند مکتب ته اچوم. ژوند ته خدایي رحم او قهر ور زده کوم.
زه ژوند باسواده ښتن ته ور روانه وم.
زه د ژوند مخې ته له تورې او توپ سره ودرېږم، چې زما د ذهني حقیقت- د اپلاتوني سوړې د یوه سیوري- غلامي، بنده ګي او سربازي ومني.
زه لوی او ناتمامه حقیقت، د حقیقت په زړو او نویو سیوریو کې را کلابندوم. زه کاغذي حقیقت په معبد او په زیارت او آسماني خونو کې محفظوم.
داسې «زه» خپل زړه او روح د ذهني خوبنیو لپاره لیلام ته را وېستلي.
زه د «قدرت او شهرت» په معنوي سرطان اخته یم.
دا معنوي سرطان دی، چې نه د غاښو د ډاکتر په امبور راوځي، نه د روانشناس او هیپنوتراپ په جادوګریو او نه هم د زړو کبرونو د خاورو وس وربانډې رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مشره دا سره زر دي!؟

د شلمې پېړۍ په وروستيو ورځو شپو کې، د ژوند سېلاب او توپان په مخه کړم او آن تر پېښوره پورې ورسېدم.
يو مهال ماښام وه، زه په «نوې اډه» کې روان وم، چې ناڅاپه يو پېښوري پښتون مخې ته را ولوېد:
«مشره دا سره زر دي؟»
ما ټکان وخوړ، ځکه خلکو د پېښور د پوليسو ډېرې کيسې را ته کړې وې! خو دغه ړېره خرېلي خوله را ته جينګه نيولې وه او زما ځواب او عکس العمل ته يې سخت زړه تنګ ؤ!
د هغه په ګرميو او بازاري خيرو سوځولي ورغوي کې، سره سکه ځلېده. سکه مې وپېژندله:
«نه! دا پاکستانی روپۍ ده!»
هغه مې لکه پيرى له مخې والوت او ما هم ځان ليني بس ته ور برابر کړ، چې ځان فيز ترې کې، د پلار خورزې او د هغې د منځوي زوی زما همزولي، ډګروال عنايت الله خان کور ته ورسوم.
اوس نو د بس په سېټ کې ناست يم. پوليسو هم نه يم ودرولی، غلو هم نه يم شکولای؛ خو زړه ته را ولوېدل، چې هغه انسان ورور غوښتل ما غوندې تازه ورغلي «کابلي» او «مهاجر» باندې پاکستانی روپۍ، د سرو زرو په قيمت تېره کړي!
خندا راغله، درد هم راغی، خو ښه و، ښېړاو ته مې زړه ونه شو.
زه ډارن دی. د حقيقت شخصي، او فردي او عملي تجربه نشي کولای!
زه په حقيقت پسې د وتلو نه دی.
زه ته انساني اګاهی جوړ کړی د ژوند فصل حقيقت شوی.
زه په خپل مخلوق حقيقت کې نمانځنې کوي او د قربانۍ مراسم ادا کوي.
اوس زړه ته را لوېږي، چې خدای خبر د معنويت پيريانو به، د حقيقت سيوري، پر موږ ځو ځو ځله، د «سرو زرو حقيقت» په نامه خرڅ کړي او تاوان کړي وي؟
غمي لا پاتې دي، پاتې به په بله را سپړو!
که خدای تعالی غوښتی وه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیرشم ګام

«عشق هر څه دی. بې له هغه هېڅ نشته، زه عشق یم او عشق زما «خپل» دی، زه پر ژوند میېن یم، زه هغه یم، چې اوسم.»

### د کاغذي حقیقت نمائنه

مور، حقیقت په خپله ژبه بدل کړی- ښه ده وواېو: پخپله ژبه اړولی.
مور، حقیقت ټوټه کړې لکه دغه پنځه توري «ح ق ی ق ت»!
مور، حقیقت کاغذي کړی.
حافظه په کاغذي حقیقت میېنه ده. له هغه سره یې نکاح کړې، له هغه بچي او لونې راوړي.
دغه له بدویو معصومي لونې او اشراف زامن، له ښکاره او پټو ناروغیو د معافیت په تصدیقپاڼو باندې قومونه، ښارونه، کلي، هیوادونه، ملتونه او نژادونه را نیسي؛ څکه نو په ژوند او مړینه یې خزانو او زیارتونو ته د سرو او سپینو قافلې را رواني وي. (مور، یو د قارون نوم اور بدلې! ښايي قارون ژوندی وي، قارون زمور، خپل وي، او قارون دننه را په کې پټ وي.؟)
او دغه حقیقت تر هغو پاکستاني زراعتي چرګانو ډېر غیر طبیعي دی، چې مور، په هغو باندې، په ارزانه طریقه سره، د ودونو او مېلمستیاو بار اوچتوو!
حقیقت په لومړي او اصلي او ژوندي وضعیت کې دی.
څکه حقیقت بې ژونده نه کېږي.
حقیقت فقط همدا شېبه حاضر حقیقت دی.

### زما سوې کو کارې!

لویه خدایه!
قلم مې د ژوند سندرغاړی کړې.
دغه پر وجودي هسته (اروا) را چاپېر د ذهن، حواسو، عواطفو، غرایزو او روان کالبونه؛ ټول د ژوند په خدمت کې کړې!

(c) ketabton





**دا اجمل او دا يې د ژوند پاک لمنې ملګرې: ټوله دنيا چې يو ځای شي، دغې خور ته خوښي را ستنولای شي؟؟؟ د پېښې موقعيت د کنړ د پيچ دره. ښه ده له دې انځور سره په دمې نيولو، يو ځل بيا د ژوند او ژوندو او د ژوندي حقيقت په احترام ودرېږو او د ټولو انقلاب، ايډيالوجۍ او بل بدلولو دوزخ ځپلو څخه بخښنه وغواړو او دغو ټولو قربانيو ته د درنښت سرونه ټيټ کړو.**

له ما يو ځيرې ګريوان عاشق خدمتګار جوړ کړې.
لويه خدايه!
ته مې ذهن، حواس، شعور، روان...ټول وجود د حقيقت په سپين اور کې سپينه ډيوه کړې.
ته مې ورته سندرماره شپېلۍ کړې،
ته مې دومره له ځان- من- څخه تش کړې، چې يوازې حقيقت پاتې شي.
ته مې دومره چوپ او ساکت کړې، چې يوازې حقيقت واوربدل شي.
ته مې دومره بې قدرته او بې شهرته کړې، چې يوازې د مشهور حقيقت قدرت وليدل شي.
لويه خدايه!
ته مې په ټول ژوند او ټولو ژوندو ور ميين کړې.
ته مې په يوه يوه ژوند کې،
ته مې په ټول ژوندانه کې،
د حقيقت په شاهدۍ را وينښ او را زړور کړې.
لويه خدايه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې د ټول ژوند له تنوع او له عطرو ډک کړې.
لويه خدايه!
ته د هر ژوند او هر ژوندي د ښېرې په ګانه کې خپله ننداره را باندې وکړې.
ته د ژوندۍ کلمې ناچاپه تصوير راباندې ووينې! ته مې د ژوندۍ کلمې هېنداره او دريڅه کړې.
لويه خدايه!
ته مې د ټولو ژوندو،
د ټولو تفاوتونو
د منلو، پوهېدلو او درناوي کولو په اندازه زړه را لوی او بيباکه کړې.
لويه خدايه!
ته مې د ټولې پوهې په لور پرانستې ولرې.
ټوله پوهه له تا سره ده،
او ټول دا بېليونونه ارواوې، وجودونه، انسانان، بنيادمان دي،
چې په تورو، سپينو، ژېړو او سرو رنګونو- نژادونو،
دوه درې زره ژبو،
لسګونو مکتبونو- مذهبونو کې ستا په لور مزل وهي.
او هر يو ستا په لور مزل وهي؛ ځکه ټول زړونه ستا د مينې له رنګه نقاشي شوي.

## لېږ.خپل ګريوانه ته سر ور کښته کړو!

آه، وخت څومره تېر شو؛ خو زه د «د بل بدلولو دوزخ» له کاره نه يم خلاص شوی!
راځئ د غږ په سپينه لمبه کې، د بل د بدلولو دوزخ ذهن، اوبه کړو!
نو لويه خدايه!
د ژوند او ژوندو خدمت مې مسلک کړې، مسلک کړې، مسلک کړې...
بل ګام ته به يوه دمه ونيسو!

(c) ketabton.com: The Digital Library





## یودیرشم ګام

«هر څه باید ستا له نېښ وهلو په آمان وي. خو تل د خپل زړه دننه هغه عشق ولره، چې خدای تعالی یې د خپل هر مخلوق لپاره لري، هغه وخت هغوی ته هېڅ زیان نشي رسېدلای. د خپلو همنوعانو او نورو مخلوقاتو حرمت وساته؛ د زړه له تله.»

پنځوسمه لسیزه وه، چې له یوې خوا د اکتوبر د مادي مساوات سور شمال او له بلې خوا د دویمې نړیوالې جګړې په پایله کې، په غربت او تحقیر ځپلې اسیا او افریقا کې، د ملتپالنې را پارېدلې هیجانات، او له بلې خوا له مصر څخه راپورته شوې د مکتبې دینپالنې فکرونه او سیاسې ایډیالوجې په افغانستان را چاپېر شول او د جګړن قوم د ځوان نسل ذهن او حواس یې چا د «کور، ډوډۍ، کالي»، چا د«تاریخي عظمت او شرافت» او چا هم د «دنیا او مافیها رستګاري» په شعارونو سره فتحه کړل.

**څه به پېښ شوي وای، که هغه لومړني لاس، چې د بل بدلولو لپاره یې په لومړي ځل ماشه را ښکله، ډډه کړې وای. خپل سیاسي مسلک او باور یې پرې اینښی وای، او ددغو سپیڅلو لاسونو په څېر تنهاکې تنهاکې زاړه شوي وای، اوس به زموږ کورونه او کلي پر ژوندو ډک وه، نه پر هدیرو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال د ماشومتوب له سپين جنته د «لويې» دوزخ ته په کډه کولو وم. هغه مهال زما سپين او بې طرفه ذهن، حواس، او سپين سترګې زړه، د پلار په امر او د سوتې په زور، د اخلاقو په چهارچوکاټ کې، د ماشومتوب له ساده بې پروايۍ او بېباکۍ څخه، د تعليم انضباطي چوکاټ ته په انتقال کې وو.

هغه مهال د زمانو کوډو را ايسار کړي او خوبولي ولس کور کور، لس دولس بچيان راوړل. بچيان څه د شړوبو په ويټامينو، څه د پير او ملا په تعويذونو را لوېدل او د چا چې ژوند قسمت نه وه، سپين سپين ماشومان د کبر خاورينو کور ګيو کې کرل کېدل، چې په خپلو تقديري جنتونو، برزخونو او دوزخونو کې بيا بيا را شنه شي.

لکه تر وښو لاندې اوبه، همداسې په خپه کې، د مادي، اجتماعي او کلتوري فقر په کړليچو او ګړنګونو کې سترې او پکو ځوانان، د ايډيالوجيکو بيرغونو آرمانګرو صفونو ته ورلوېدل. ښه استاذۍ ته رسېدلي ايډيالوجيک جنګيالي نطاقان، ددغو بيرغونو تر سيوريو لاندې، د ژبې په جادو سره، د فيلسوفانو او «ناجيانو» په کاغذ ضبط شوي الهامات او آرماني ايتوپيا ګانې تفسيرولې. او د ايډيالوجۍ د واکسين په سره تبه اخته شنه زلميان، د ماهرو نطاقانو، د ويناوو له هياهو سره اوښتل را اوښتل.

بله ورځ چې له ښوونځي کور ته را ورسېدم، پلار راغلی وه! په لومړي ځل وه، چې پلار د هفتې د رسمياتو په يوه ورځ کې، کلي ته راغلی وه! ډوډۍ مې لا له ستوني تېره شوې نه وه، چې آبا وويل: «انوره! ډوډۍ دې ژر خلاصه کړه، کابل ته ولاړ شه، د يوسف احوال راوړه!»

خدای خبر لاسونه مې په لمنه، که د شکور په څنډه او که بل شي پاک کړل. آبو جامې را ته ايښې وې. دادی اوس زه د استاذ ويس الدين سرويس موټر ته ور پورته شوی يم. اوس مې سترګې سيخې نيولې دي، چې څه وخت به د سيلو د ژړې او لوړې ودانۍ په لوړ برج لګيږي.

او بيا به دغه داودخاني شعار لولم:

«ژوندی دې وي افغانستان

تـــل دې وي جمهوريت»

## ځو روپۍ په بازار پور کړه، خپل زوی په کابل لوی کړه!

زما پلار سر کاتب محمد اکبر امرخېل غوښتل، چې مشر زوی يې اول نمره شي. اول نمره له مکتبه خلاص او په جګو سترګو د کانکور له آزموينې تېر شي. زوی يې د طب يا انجنيري يا زراعت فاکولته کې داخل شي!

واه واه که د امريکې يا جرمني يا فرانسې په بورس ولاړ شي او بله ورځ ډاکتر يا انجنير وطن ته را ستون شي او نيکه «خزاندار عيسی خان» او غور نيکه، ملک «نظامو» د شملې نوم بيا را تازه او د اکبرخان شمله ورجګه کړي.

لږ به دمه شو، يو غړپ د اوبو يا چای به وکړو؛ ګوندې که تازه تازه ګامونه واخلو!

(c) ketabton.com: The Digital Library





## دوه دیرشم ګام

«ای بشره! ته خپل سرنوشت ته وګوره! ته د باد په وړاندې یوه شمعه یې...»

زما بیا له ښوونځي څخه توبه وه! «ابو» به خپل تروږزي ته په لاس ور کړم، چې د مکتب چپړاسیانو ته مې تسلیم کړي!
زما د مور ترورزی عزیزالله ماما، چې د ټولو خولو توېولو او تنباکو لاسونو اجر به یې یو شینکی «شړومبې» او نیمه د باقولو او غنمو ګډوله ډوډۍ وه، لښته راپسې پورته کړه:
«اورمېږ دې مات شه! مکتب خنګه نه وایې!؟ د ما او د «رفیق» ماما حال دې نه ګورې! که مکتب مو وېلای وای، اوس به «اکبرجان» غوندې چېرته مامور سر مامور وای. اوس به مو هر ځای او په هر چا امر چلېدلای...ته بل ځل له مکتبه را وتښته چې زه دې پوستکی له وښو در ډکوم که نه؟»

> د بل بدلولو د دوزخ د لومړي دور په پیل کې، زه نېږدې ددغو ماشومانو په عمر وم. زما د همزولي نسل ونه، د انقلاب په دوزخي اور کې لغړه شوه. زموږ یوازنی کار مینه ګر کېدل دي.

### مکتبونه د «مکتبونو» په لمبو کې

معارف د ایډیالوجۍ په واکسین اخته شوی وه. دا واکسین ډېر خوږ وه؛ ځکه نو چا د لینین فارسي شوې بیوګرافي په ګنډه کې پټوله، چا د دین د احیا لپاره له مصره را صادرې شوې نوې سیاسي سیپارې په ګوښه او په تیارو کې، لوستلې او ضبطولې او په پټه په مکتبیانو باندې وېشلې او چا د امېر کروړ په نامه شعر باندې بربېت تاوول.
له دې وضعیت سره د هغو بزګرانو بچیان، چې شاهي قانون ښوونځي کې زده کړه وربانديې فرض کړې وه، د شاهي او خانداني نظام پرضد په مظاهرو او لاریونونو شول. نور پټ او ښکاره ګوندونه هم لاریونونو او مظاهرو ته راووتل. پټې تپانچې او چړې هم د ځوانانو، په تېره بیا پوهنتون او پولیتخنیک محصلانو مینځ کې رواج شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





چا د بزګرو او کرګرو د کتاتورۍ په سیوري کې خلکو ته د ځمکې، کور، ډوډۍ او جامو د مساوات زیرۍ ورکاوه، او چا ځمکني برجونه ورانول او نقش او نګار بیرغونه یې سوځول، چې که د وعده شویو روا شرابو او ګلمخو تصوري «ایتوپیا» بنده دروازه خلاصه شي.

هې هې! د ډوډۍ شعارونه هم ولاړل!، د ژغورنې او خلاصون لوظونه هم ولاړل!! دا دومره د بل د بدلولو له اوره ډک ګلځېره ځوانان هم ولاړل!!!

اه، کابل ته د راتللو کیسه پاتې شوه!

زه کابل ته ورسېدم. له کوټې سنګي په منډه د ژېړې سیلو مخې ته په نبنه کړې نمره یې کوڅه ته ور تاو شوم. که ګورم، چې زما د تره، جګړن محمد یوسف پیلوټ کرایي کور مخې ته عسکري رنګې والګا ولاړه ده! کور ته چې ننوتم، پیلوټ ټولو معاون صاحب بوله.

اخر روسي جټ الوتکو او زغروالو ټانکونو کار کړی وه. نور نه د داود خان وهم د چا په زړه کې پاتې وه، نه یې د جمهوریت شعار چلېده، نه یې د سردارۍ دبدبه چې په خپل ملي غورځنګ سره د لوی افغانستان تعهد پوره کړي!

## دا سره، شنه او سپین خوني بیرغونه


اعلان د مساوات شوی وه. د بزګرانو په دسترخوان کې د غنمینې ډوډۍ پیدا کېدلو لپاره، انقلابي فرمانونه لکه سرې ګولۍ، داسې په کلیوالو خانانو، ملکانو، فیوډالانو را اوربدل. د واده لپاره یوازې د دوو ځوانانو موافقه په کاره وه؛ نور کار دولتي قاضیانو بې رشوته ترسره کاوه.

نور نر ښوک وه، چې له چا د سود ګټه وغواړي! زما پلار له کلي بره، په قول کې ځمکه ګرو کړې وه. له ځوانو انقلابي افسرانو او معلمانو د جوړې «انقلابي شورا» له فرمان سره سم، پلار د ګروي ګټه او پیسې هېرې کړې. خو د ګرو شوې ځمکې خاوند پیسې راوړې او د پلار په جیب کې یې پخپله اراده ور کښېښودې:

«مدیر صاحب زه خپله غاړه نشم بندولای، دا پر ما حرامې دي، پیسې دې واخله!»

(c) ketabton.com: The Digital Library





## دري دېرشم ګام

«د تلپاتې نیکمرغۍ سرچینه، په ټولو کې د ځان لیدل دي.»

پلار بامیانو ته ښاروال ولاړ. خو مباشت دوې به یې تېرې نه وې، چې د ښاروالۍ دبدبه یې پرېښوه او ځانته یې کابل کې، د ټیټې رتبې یو ملکي بست موافقه واخسته. هغه خپل لمونځونه کول، توبې یې وښکلې او د پاچاهۍ راتګ ته یې لارې څارلې!

خو ما ځانته بله دنیا جوړوله. زه ځوانۍ ته شوق نیولی وم. په پټه به مې په مخ د پلار د رېږې خرېلو زړې پلې را کشولې، چې بربېت ژر راووځي او زه هم خلکو ته د بیانیې ورکولو-هغوی پوهولو، شم... اوس به زه او زما نور همزولي؛ لکه بسم الله، سیداجان، د شیرین زوی انور او نور چې اوس یې نومونه یاد ته نه راځي؛ په مکتب پهره ګرځېدو؛ خو خبره بل شی شوه!

بزګران ځرو ته شول. خانان او ملکان او خانداني ملایان یو خوا، بل خوا له نظره لېرې شول.

ورځ د انقلابي شورا د فرمانونو داجرا کېدلو وه او شپه به کله یوه ګوښه کې، کله بله ګوښه کې، له مکتبه اورونه او دودونه پورته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دې وخت کې د «ارتجاع، امپریالیزم، فیوډالیزم او اشرارو...» اصطلاحات د رسمیاتو په ژبه کې شامل شول. د ګوند او خلکو رهبر وویل:
«غویي مو حلال کړی، یوازې وروستی ساه یې پاتې ده.»
دې سره مبارزو معلمانو کلاشینکفونه او پیپشې ماشینګنې غاړو ته واچول، چې د خان او د بزګر تر مینځ د ځمکې او اوبو مساوي ویش پاتې کار ژر تکمیل کړي.
مېدان درې خپلو سرو او سپینو بچو باندې خاموشې چیغې وهلې، چې هر څه ښه دي. هر څه خدایي دي. هر ځوک پوه شه او کار یې پوه شه!
د افغانستان د هرې بلې درې او مېرې په شان، د میدان درې چیغې دومره چوپې وې، چې حتا د یوه بچي خوب یې حرام نه شي. اخر جګړه خو له خولې پېلېږي، ځکه ژوند او طبیعت په چوپه خوله سوله را باندې تنفس کوله، خو دا چوپتیا د ګرم راغلو ځوانانو له انقلابي فکرونو-باورونو سره په مقابله کې وه.
حالات اوښتي وه. نور چا په سره کمیس او سره نښان سره خان، ملک، او ملا او خانزاده یا ملکزاده، یا ملازاده ګڼانو ته زور نه شو ښوولای.
میدان ذکرالله شهید لیسه یې په روسي ټې پنجاو دو ټانک ساتله. زموږ لغمانوال سرمعلم چې دلته یې «ګنډېری» نوموم، له یوولس ډزي سه صد سه بورد سره مکتب ته ته او راته.
بله ورځ ټانک له لیسې ووت. په شپه یې خلک راغلل، چپړاسیان یې وتړل او له سپینو مرمرو جوړه لیسه یې، د تیلو په زور سره لمبه کړه او موږ له لیسې خلاص شو. نور د کابل شوم.
داسې ورو ورو ښارونه ځوانو معلمانو په خپل زور ټینګ کړل او کلي د هغو جنګیالو بزګرانو شول، چې د پدري ملایانو په فتوا سره یې، د خوراک، پوښاک او هستوګنې د رسمي وېش له فرمانونو څخه خوا ګرځولې وه.

## یوه هفته کابل ته را کډه کېدل

پلار په موږ پسې کلي ته راغی. وېل یې هزاره را پورته شوي او مخ په میدان روان دي. ارباب فتح یې قومندان دی او موږ باید سر او عزت خوندي کړو؛ اوس له کلي وځو.
له دې سره موږ د خزاندار عیسی خان له پخې برجورې کلا- صرف د یوې هفتې لپاره- کابل ته را کډه شو؛ خو خبر نه چې کابل به د موږ شپاړس اوولس کلنو هلکانو د سر وېښتان را سپین کړي!؟
دلته به یو څه د بل بدلولو له اورونو دمه شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library





**ګوډۍ! مه ګوره! مه ګوره!! غټان لیونیان شوي.**
**غټان یو بل الالوي (حلالوي). غټان سړی خوري.**

## څلوردېرشم ګام

«پرون ولاړه، په سبا باور نشي کېدای، شېبه ومومه، چې تېرېږي.»
خواجه عبدالله انصاري.

### هفته که قرن؟

لس، دولس کاله د یو بل بدلولو اورونه بل وه؛ خو دومره مو جسمونه، حواس، عواطف، ذهنونه، روانونه او ارواوې را وسوځېدی، چې اوس هر یو له قرن قرن غم او رنځ سره ولاړ یو؛ خو د بل بدلولو عادت مو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ذهن، حواسو، دریځ او زړه ته کولپونه را اچولي.
دغه اور دومره وخوټولو، دومره یې واېشولو، دومره یې سره او شنه او تور کړو، دومره یې مات ګوډ او کاږه واږه کړو؛ چې اوس هر یو د معیوبو او سوځېدلو احساساتو، عواطفو، افکارو لوی دیوان په قهر او غوسې سره چیغې وهو او له فردي مسوولیتونو غاړه غړو.
له موږ هر یوه، کتاب جوړ دی، دفتر جوړ دی، داستان او رومان جوړ دی.
دلته تراجیدي له سره کر کړې.
دلته د جنګ ناروا خدایانو بیا بیا د خپل ډول بنده ګي دود کړې او انسان یې د انسان د آزادي، ژوند او ګټو پرضد جنګولی.

## دا مړه دلایل

دلته انسان وسیله ګرځېدلی.
دلته انسان توره، ټوپک، بم، ټانک او طیاره ګرځېدلی.
دلته انسان سور اور شوی او ددې اور منبع فقط دود شوي فکرونه، اندونه، اخلاق او رواجونه وه او دي.
فکر، باور، اند او اخلاق د دلیل په غلاف کې پټ دي او د دلیل تریاک هر ساده وګړی نیشه کوي او تسلیموي.
هغه مهال داسې وه: هرې غاړې خپل دلایل د عوامو د قناعت لپاره، د ذهنیت سازي د ماشینونو له لارې، د خلکو په سترګو او غوږونو ورمنډل.
خو دلایل مړه دي، بې ژونده دي.
دې مینځ کې چا د کارګري وروولي په نامه او چا د دیني او فرهنګي وروولي په نامه، او چا هم د څه شي او څه شي په نامه، دلته تورې او ټوپک ووېشل. او ټوپک د شرافت نښه شو. وژل د ثواب ګټلو نغد نوټونه شول.

## زموږ د بې مسوولیتي ناروغي

زموږ د غوښو او زړونو سوداګرو ټوپک او توپونه، راکټونه او الوتکې، بمونه او ځانختمولو واسکټونه را برابر او را په غاړه کړل؛
خو ډز له خپل سړي شوی.
نښه خپل سړي نیولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاړه خپل سرې کش کړې.
او ذهنونه-ښايي زړونه هم- لاهم د غچ له نه افشا شويو ليستونو ډک پک د تازه غچ لپاره موقع ګوري.
د وژلو لپاره يو يو نوم موږ غوره کړی.
ضرورت، دليل او روايښت يې موږ جوړ کړی او موږ تصديق کړی.
يو تازه، بې جوړې انسان موږ له پښو غورځولی.
موږ خښ کړی، موږ د شهيد بيرغ ور باندې رپولې.
موږ يې غم نيولی، موږ يې يتيم ته د پلار غچ ور زده کړی.
داسې د دوه درې ميليونه مړو نومونه موږ کښلي او پټ ليستونه مو لا ذهن او زړه کې په پوره حرص سره ساتلي!
او ددغه دوزخي جنګ کيسه لا روانه ده!
د ما مشر ماما، د شاهي دورې ژاندارمه پوليس، ضابط محمد علي به د ځوانو ټانکستانو او پيلوټانو د انقلاب په وختونو کې وېل: کار کار دی خارجيانو دی: «پسونه!» يې شنه او سره او ژېړ رنګ کړي، او يو بل سره په جنګ خوشې کړي!
دې خبرې سره يوه لنډه ساه واخلو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځه دیرشم ګام

«هرڅوک په خپل ځای کې او له خپلې پوهې سره په مطابقت کې دي.»

### پوهه، واک، آزادي

دا هغه الهي صفات دي، چې ځانخبرې ارواوې يې ځلولای شي. هغه ښه پوهېږي، دقيق پوهېږي، او په هرڅه؛ تر ټولو کامل پوهېږي!
نو سرنوشت مو ښکلی دی. ځکه بل کار نشته؛ «حقيقت» کامل دی. ښه کار، رښتينی خدمت د حقيقت ځلول دي، په وينا کې، په فکر کې، په دريځ او په عمل کې.
د کامل حقيقت په هستی کې هېڅ کار ته-ولو که د بل اصلاح کول هم وي- ځای او اړتيا نشته.
ځکه چې کامل «کامل» دی.
وچ به سين ته څرنګه اوبه ورکړې!؟

### هينداره د حقيقت جنګ ته راوتلې

له تيلو، يا غازو، يا د اوبو، باد او لمرينې بربښنا غوښن سولرونه به څرنګه لمر ته رڼا ورکړې!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





دې انځور ته په دقت
ګورو: د بل بدلول-اصلاح
کول- دوزخ نه دي ؛ نو څه
دي؟؟؟
دلته بیا هم زه له هر هغه ورور
انسان او انساني خور څخه
په ټول ځان عذر غواړم، که
دلته راغلې اندونه، نظرونه د
خپل فکر، باور او دریځ خلاف
انګیري.
باور وکړئ، موږ ټول دوزخ
سوي یو. موږ ټول د غږ او رڼا
په ستر سمندر کې د لامبلو او
معنوي غسل تازه کولو وږي
او تږي یو.

سیند او لمر، غر او جهان، او آسمانونه او هستي او نیستي پوره دي. دا د ستر کیهان لاسونه او پښې، ستر ګې او غوږونه، مغزونه او اعصاب دي.
له مادي-زماني فکټورونو جوړ انسانان، چې ذهني اګاهي یې د څلورو عناصرو له ویتامینو او پروتینو را شنه شوې، د «کامل حقیقت»
وړوکې شوې څېرې او سیورې پر موږ کې بت شوې ودروي!
دغه وړوکی په خپل فکر، دلیل، حکم او فیصلو سره فقط د حقیقت جنګ ته راوتلی.
دغه وړوکی کیهان تر هغو، چې د خپل کوچنیوالي حقیقت تجربه نه کړي، د لوی پر مخ یې لارې بندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامل نه فضا ده، چې ډکه شي، نه زمانه ده، چې څوک يې انتظار شي، او نه شکل او ماده ده، چې تر لاسه او اشغال شي.
کامل فقط شته. هغه کامل دی، او بل هېڅ کار نه لري، پرته له ميني کولو.
هغه فقط مينه کوي. او موږ لومړي درجه سوي به څوک له هغه کامل حقيقت څخه لېرې وغورځوي!
ټول تبعيد، ټوله فاصله او ټول ټيټوالی يا لوړوالی، فقط انساني اګاهی جوړ کړی.
موږ د حقيقت باران مست کړي يو.
موږ خمڅه مست سيندونه يو.
موږ د حقيقت يو تت تصور ځانپاله کړي يو.
موږ ځانپالنه د حقيقتپالنې په نوم زوروړو مانيفستونو او کتيبو کې، نسلونه نسلونه محفوظه ساتلې.

## يو پټی رشقه يې وڅوړه ته يې لا مړه بولې!

د ايډيالوجی بلا، انسان د خدايي سولې، ارامتيا او بسياينې له مورنی غېږې تښتولی او د شر جغرافيې کې ايسار کړی.
د بل بدلولو فکر، باور او دريځ هغه لومړنی سپين او خدايي انسان قاتل کړی. انسان يې انسان ته اور کړی. او لګيا دی، چې د ژوند په رشقه نور هم ورمېږ وکړي او لم واچوي!
خدايي انسان، له ژوند او هر ژوندي سره يو ځای د الهي شکر نغمه غږوي؛
خو ذهني شوی او ذهني اشتهاګانو په مخه کړی انسان، د «قدرت او شهرت» په لوړه اخته شوی.
د انسان جګړه په خبره پيلېږي،
خبره ذهن کې توليدېږي،
او ذهن په مادي حواسو حقيقت پېژني
او د خپلې پېژندنې تجربه د فکر، باور، اخلاقو او رسم او رواجونو په اساسي تومنه بدلوي.
ځکه نو انسان د ځان قرباني دی.
انسان خپلو مادي-ذهني استعدادونو خراب کړی.
انسان د ځان په زيارت مينجاور شوی.
آه، ځار مو له حوصلې او شريفو زړونو شم؛ لږ را څخه دمه شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږدېرشم ګام

«ټول د خدای تعالی په لور په سفر کې دي.»

موږ باید واقعي او ناواقعي سره جلا کړو.
یوازې خدای تعالی واقعي دی.
واقعي ته له ورتللو څخه پرته بل هدف نشته.
نو هره لاره پر هغه ور روانه ده.
خو د قدرت او شهرت لوره، آزادي خوري.
دغه لوره جنګي ذهن، جنګي افکار-باورونه او دریځونه زده کوي!
بیا یې په طریقه او روش بدلوې!
بیا یې په آرامه او په شخړه ترویجوې
او د مرګ تر شېبې پورې آزاد ژوند تر قضاوت لاندې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدرت او شهرت لوږه، زړه او پخوانی لوږه ده. دغه لوږه هغه وخت خطرناکه ده، چې فکر - باور، اخلاق او رواج یې بهانه وګرځي. اندېښنه شته، چې په دومره اورونو بار کلمې یو دم را چپه نشي! بس څه چې خدای تعالی غوښتي وي. څه چې خدای تعالی غوښتي وي، وړاندې به خپل انسان تل ته سر ور ښکاره کړو:



امریکایان ژاړي! خو موږ لا دومره زړور نه یو، چې زموږ پر ژوند، روزګار، سرنوشت او راتلونکې باندې ددغې یوې لوېشتې توپې شوې ویني په خاطر، یوه مینه ګره اوښکه توپې کړو.

## مکتبونه دایډیالوجیو په رنګینو لمبو کې

معارف د ایډیالوجی په واکسین اخته شوی وه. (دري ځلور لسیزې څټ ته پاتې خاطرې یو ځل بیا راویښوم) دا واکسین ډېر خوږ وه؛ ځکه نو چا د لینین فارسي شوی کتاب په ګنډه کې پټاوه، چا د دین داحیا لپاره له مصره را صادرې شوې نوې سیاسي سیپارې په ګوښه کې، او په پټه د ثواب په خاطر په مکتبیانو باندې وېشلې.
او شاهي یا جمهوري ارګنشینان، د خپلو خانداني مړو په زور چلېدل! د هغوی په خانداني ګډ تقدیر کې حکم کول او پر دغه ملت شپني کول لیکل شوې وه! خو دا وخت د هغو بزګرانو بچیان، چې شاهي قانون ښوونځي کې زده کړه ورباندې جبري کړې وه، د شاهي او خانداني نظام پرضد په مظاهرو او لاریونونو شول.
نور هم په لاریونونو او مظاهرو شول. چا خلکو ته ځمکه د مساوات هندسه جوړوله، او چا ځمکنې برجونه ورانول او نقش او نګار بیرغونه یې سوځول، چې که د وعده شوې «ایتوپیا» ورکه دروازه، په ذهني ذکر او د اوږدو شپو قصیده پخولو په اجر کې را ښکاره او را خلاصه شي. هی هی! د ډوډۍ شعارونه هم ولاړل!، د خلاصون لوظونه هم په مرګ ویده شول!! دا ټول د بل د بدلولو له اوره ډک ګلځېره ځوانان هم د انقلاب او انقلاب ضد په کبرونو کې خاورې ایرې شول!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په وينو ککړ سره، شنه او سپين بيرغونه

مړي دومره ډېر شول، چې چا ته ګور او کفن نه رسېده. ويني دومره تويي شوې، چې نه يې سره او نه يې شنه او نه يې سپين بيرغونه په پاکولو او وچولو پسې رسېدل. اوس يې نړيوال را غوښتي. د «روبسپير» او جورج واشنګتن د تصنيف شويو سياسي ارزوګانو، په اکاډميک غرور سنبال اته ځلو ښت هيوادونه په ښکاره او ګاونډيان په پټه، له مور ځخه «نفر کشي» کوي!

د رنسانسي او ولسواک عقل مشعلداران، په زغره والو جامو کې، دلته د خپلو ګرځنده لېټابونو له حافظي څخه چادري پوښه ښځو او زده کړيالو نجونو، کونډو رنډو ته د سوداګرۍ، او قانوني او شورايي ادارو ته ودر بدلو لپاره ورتيا مونډلو درسونه را باسي. او رسنۍ وايي، چې مدني ټولنه، له افغانستان څخه د نړيوالو ځواکونو له وتلو وروسته، د تاوتريخوالي د زياتېدلو له امله انديښمنه ده!

اخر ولې معلوليت؟ ولې منفعل سرنوشت خپلوو؟ ولې مور ټول يو مجبور نفوس ياستو؟؟؟



## واجب الاحترام او غير مسوول نفوس

د جنګ جادوګر، زمور دنګ دنګ بدنونه، د ايډيالوجيو په يکشنبه بازار کې دستچين کوي او ذهن او زړه مو د جنګ د شرابو په اعتياد اخته کوي او ځکه بې اختياره خپل سري را څخه وژل کېږي.

ځکه وران افغانستان د روس او امريکې، ايران او پاکستان کارنامه ګڼل کېږي.

ځکه د نامدارو او بې نومه شهيدانو له ياد او خاطرې نه شرمېږو.

ځکه شکايت، او قضاوت او د نورو يو مخ ورک کول را ته مسلک ګرځېدلي.

زمور پر اورمېږ خپله توره را خښه ده.

مور پر ځان ماشه را ښکلي.

مور د خپل ذهن له جام څخه د «شکران جامونه» څښلي.

له دغو اوږدو خبرو سره به يوه بله دمه هم واخلو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه دیرشم ګام

«یوازې خدای تعالی واقعي دی، پر ته له هغه هېڅ شی واقعي نه دي.»

مورږ په جنګ پیدا یو. مورږ یې جنګي را لوی کړي یاستو.
مورږ مجبور سربازان او مجبور وژونکي یاستو!
زما د ماشومتوب چیغې د ټوپک له چیغو ټیټې وې!
او تر اوسه پورې زما غږ، زما خبره، زما د زړه وینا،
د ټوپک له غږه ټیټه او وروسته پاتې شوې؛
ځکه د ټوپک چیغه لومړی جایزه اخلي او د معصوم غږ په زرینو اشارو او نښانو کې پټه نوې وینا،
د فکر او فتوا د ګمرک د قاضیانو او مفتیانو، تر قلم لاندې چلیپا خوري!
او ددې خطر شته، چې قواله دار مفتیان، د سرنوشت په پاڼه، ټوپک ورته رسم کړي!!!
ښه څه چې خدای تعالی غوښتي وي!
پر ته له خدایه هېڅ «قدرت، پوهه او آزادي» نشته.
مورږ وژل په ماشومانه لوبو کې زده کوو.
مورږ ته یې جنګ د غیرت په ټاوکی کې پټ کړی.
دلته نظم د وژلو پړونی او دستار شوی.
دلته ننګ او غیرت د ژوند وینه خوري.
دلته هم په ادب او هم په عرف کې بل کچه، ناچله، او بیګانه معرفي شوی.




دا انځور مې هم له انترنت څخه
را کښته کړ. اوس وخت زمری د
ژوبڼونو یو هستوګن دی. او موږ
وایو، ټول زمریان یاستو! ښایي له
دې کبله نړۍ خپل ټانکونه او طیارې
را باندې ګرد را چاپېر کړي وي.
پر ته له محدود شمېر افغانانو-دو
پاسپورته وو- نر څوک دی، چې له
دې اورلنې جغرافیې نړۍ ته پښه ور
کښېږدي! آیا نه غواړو له انسانیت
سره، له ژوند سره، له مدنیت سره
آشنا شو؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته «بل» دوزخ دی، دوزخ دی، دوزخ دی!!!
دلته جنګ د کورنیو ورځنی درس دی.
دلته توره او ټوپک، لاسي بم او واسکټ د کورونو دیوالونه، تاخچې او نور ځایونه ښایسته کړي.
دلته جنګ په فرهنګ اوښتی.
دلته ماشوم د مور له تیو سره د لاسونو حرکات زده کوي؛ خو د اختر په ورځ، چې کوڅې ته راووت، د پاکستاني پټاقیو او پلاستیکي ټوپکونو په ذوق او شوق اخته کېږي.
بله ورځ، د یوه ځانګړي فکري-باوري دریځ په خپلولو سره، په خوله او په کوتک، په توره او په ساطور، په ټوپک او په واسکټ او په څه شي او څه شي سره، د بل بدلولو په لښکر کې . ټولعمره عسکر کېږي.
زموږ کورونو کې یوازې د «شهیدانو» عکسونه مجاز ګڼل کېږي.
شیهدان مو په وسله او چانټه، لاسي بم یا اریې جي راکټ انداز شانداره ښکارېږي.
د شهید څېرې، بربټ او ږېرې، ادا او د سترګو تور و بربڼ، زموږ حواس، ذهن او حافظه په جګړه تغذیه کوي. موږ کې جنګي کلام، جنګي فرمان، جنګي نغارې بغس کوي.
جنګ د «زئوس» او «هلاکو» کار دی.
جنګ د نفس بچی دی او موږ خپل څنګ سره ودرولی او په خپله ککره «خان» کړی.
جنګ د قدرت لوږې اختراع کړی.
د جنګ میدان کې د سړي شهرت پیدا کېږي.
او په څېره معاصر او نازک؛ خو په زړه وچ، زوړ او تیره ګرځېدلی انسان جنګ -د بل بدلولو جنګ- یوازې او یوازې د «قدرت او شهرت» د نفساني اشتها لپاره اختیار کړی.
اخر څه وکړو، جنګ را ته د ژوند مالګه جوړه شوې!
نوم یې توریالی را باندې ایښی.
تاریخ مو جنګیالی ډرامه ده.
د مکتب د کتاب شعري برخه هم ماته قسم را کوي:
«که په میوند کې شهید نه شوې...»
مزل اوږد شو، لږه دمه به واخلو!

(c) ketabton.com: The Digital Library






«ښادي يوازې په ابدي کور کې موندل کېږي.
او تر هغې ورځې، چې حقيقي «زه» پر ته له خدايه
د بل څه لټه کوي، د خدای د اقليم په لور به سفر
ونشي کړای ؛ بلکې ددې خاورينې دنيا په زنځيرونو
کې به زنداني وي.»
«ته څه غواړې؟ په آزادۍ کې ژوند او له خدای
سره، که په زمکني زندان کې د وخت تېرول؟»

## اته ديرشم ګام

د قدرت او شهرت لوږه

اعتراف کوم، چې موږ ټول دوزخ سوزولي ياستو.
حقيقت لري، چې موږ ټول د غرور او رنځ په ستر سمندر کې د لامبلو او معنوي غسل تازه کولو وږي او تږي ياستو.
خو دغه انسانخوره «جنګ دوزخونه» مو پخپله په خپلو کورونو را ننو ېستل!
راځئ له ځانه وپوښتو:
«له نني انسان څخه آزادي کومو ديوانو غلا کړې؟»
«جګړه ولې را پيښه ده؟»
«موږ خدای تعالی پيدا کړي ولې ويرجن، ژړندوکي، نامراده او په قاتل او مقتول بدلېږو؟»
«که «زه» د ژوند او آزادۍ غل ونه اوسي؛ څوک به قتل وکړي، څوک به په بند او زولنو کې ولويېږي؟؟؟»
که لږ ګريوانه ته سر ور کښته کړو، نو ښايي خپل قاتل را ته ژوندی مقتول جوړ شي.
ښايي يو مقتول را ته وژل شوی قاتل ښکاره شي او په دې توګه يو مخ معتبره انساني څيره راته تر ټولو لرغونی؛ خو پټ او ناپېژندلی شرم

(c) ketabton.com: The Digital Library





جوړ شي.
د هر قتل په خاطر، د انسان هویت داغ خوري.
په هر قتل سره، «شرافت» را ښخه پردی کېږي.
په هر قتل سره، «حقیقت» لېرې کېږي؛ ځکه قتل او حقیقت سره لېرې دي.
حقیقت کامل دی. کامل یوازې ځلولو ته اړتیا لري. کامل میني ورکولو ته اړتیا لري. کامل ځان وښلو، او هرڅه په ځان کې ډوبولو ته اړتیا لري.
هغه مهال چې وایو «پلانی ارمانجان ولاړ!» آیا ارمانجن یې داوه، چې خپل قاتل ووژني؟
یا به داسې وي او یا به زموږ فکر-باور سودایي شوی وي او خپل مبارک شهید به د یوه قتل قرضدار را معلومېږي!
«خدای تعالی ژوند پنځولی او انسان جګړه را وېستلې!
د خدای تعالی په منلو سره ولې سودایي کېږو، ولې ځانته د نورو په هکله د قضاوت حق ورکوو؟
ولې الهي ارادې ته موقع نه ورکوو، چې خپل سپین حکم جاري کړي.
کوم عقل دی، چې الهي پوهه چلنج کړي؟
کوم قدرت دی، چې الهي قدرت وننګوي؟

**موږ او تاسو حکمینه ګورو! حکمینه خور د نارینه وو جامې اغوندي، پګړۍ تړي او نارینه وو سره سم ګام اوچتوي. ښايي هغه غواړي وښيي، چې نارینه کولای وخاندي، ژوند وکړي او ژوند په مینه کولو سره ښایسته کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوم شي مينه ده، چې د الهي مينې ځای دې ونيسي؟
د معنويت الفبا داده: پوهه له خدای تعالی سره ده، قدرت له هغه سره دی، مينه د هغه ده!
نور هرڅه دروغ، جعلي، بازاري او د انسان ذهني-نفساني محصولات دي.
دې سره زموږ قضاوت په شرم بدلېږي.
زموږ جګړه نفسي فرمايشاتو راوېستلې.
ځکه نو «جګړه انساني جرم دی»
ځکه چې «حقيقت» د خدای دی او هغه کامل دی.
او کامل کې هېڅ نه ځايږي. کامل فقط مينه کولای شي. او موږ لومړي درجه سوي به ځوک لېږې وغورځوي!
ښه ده بيا ووايو:
ای خدای تعالی!
زموږ اراده نه ستا اراده دې په هرڅه کې جاري شي!
څلور پنځه لسېزې کېږي، چې دلته انسانانو پر يو بل چړې راايستلي او د خپلې محدودې انساني اګاهۍ-مرغۍ عقل- په دودجنه رڼا کې،
د نورو انسانانو د ژوند، آزادۍ او ګټو په اړه قضاوت او عمل کوي.
آه ه ه ه! تر دې ځايه د حروفو په بوټانو، جامو او ځېرو کې راغلم! نور به لاس ونيسم. لږ به صبر شم، چې بد هضمي پېښه نشي.
اخر دې څنګ ته چليپا،
بل څنګ ته چليپا،
مخته چليپا،
شاته چليپا،
لاندې او سر د پاسه چليپا...
هره خوا چليپا!!!
همدې منځ کې به يوه بله دمه واخلو!


m: The Digital Library

## نهه دېرشم ګام

«خدای ته د رسېدلو لار، خدای ته تسلیمېدل دي.»

### د معلولیت کلچر

مورږ یو معلول ټبر!
مورږ یو مظلوم نسل!
مورږ نه د جنګ وو، نه مو انقلاب پېژانده؛
نه مو نیول زده وه، نه بندیانول!
مورږ نه د چاندمارۍ کسب او کار زده وه او نه مو چا ته ټېنګه تروه کېدله!
مورږ آرام وو. آزاد وو. په خپل کار او بار لګیا وو.
چې دغه کتابونه، شوروي او مصر کې تحصیل یافته وو را وړل!
(کتابونه، مکتبونه، ایډیالوجۍ) را پورې سره اورونه شول.
اورونه په خوله راغلل.
مورږ اورلن ښاماران او اورلني شیشکي شولو!
مورږ نه غوښتل، دا ټول را بانډې وشول! مورږ یې ناچاره او مجبور ولیدلو، او راباندې ویې

**آیا هغه وخت نه دی راغلی، چې د بل بدلولو کتابونه اور واخلي او زړونه پاچاهۍ ته راووځي؟**
**بې د زړه له پاچاهۍ، بې د زړه له مشرۍ مینه نشو کوای. مینه زړور زړه غواړي. لکه ماشومان چې زړور دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل!
کار زموږ وه، کر زموږ وه، سرې تودې زموږ وې، خو درمندونه خانانو او ملکانو باړول.
زموږ ډوډۍ غلا کېدله! ملکانو او خانانو «فیوډالانو!» زموږ د پلرو د کلونو زحمت غلا کاوه، حکومت یې څټ ته وه! پولیسو یې په امر بزګران وهل دربول! زموږ د عرض او داد مخه بنده وه! هماغه وه، چې له مجبورۍ مو د عادلانه وېش فلسفې او اقتصاد ته مخه کړه او دغې فلسفې آن د اردو ځوان افسران د وسله وال انقلاب کار ته را ماټ کړل!
په رڼه ورځ راووتو او د بې عدالتۍ په کور مو د جټ الوتکو او پولادي ټانکونو اورونه را کوز کړل. طفیلي سرداران مو له ارګه وشړل! د کرګرو او کارګرو زبېښاک مو ختم کړ. کلیوال معلمان مو وزیران کړل، او بزګران مو په کوپراتیفونو او سواد زده کړې په کورسونو کې شامل کړل! نجونې مو زړو او کونډو خانانو، سردارانو ته له ودېدلو را خلاصې کړې. او سره خوله مکتبیان مو، د چټکو زده کړو له لارې، ضابطان، خوردضابطان کړل. او په خپلو سپینو او تورو غرونو کې د امریکې، فرانسې او انګلستان جنګ ته ور ووتو!
خو امپریالیزم چاړه پاکستان ته په لاس ورکړه. او هغه بیا د اقتصادي او ټولنیزې ناپرابرۍ پرضد زموږ جاري کړو فرمانونو څخه بېزاره ملایان، د نوي عدالت لپاره د برېتورو شازلمو د نظام پر ضد را ولمسول!
ملایانو مکتبونو ته اور واچاوه. معلمان له کلیو کډه بار شول. څوک څارندوی کې، څوک اردو کې، څوک اطلاعات دولتي کې شامل شول او له هغې ورځې ښارونه او کلي سره په جنګ شول.
یو خوا ځوان، سپین، بریتور معلمان، بل خوا خدایي قهر وېرولي ساده، شډل، په الف او با ناخبره بزګر د یو بل مقابل کې صف ودرېدل!
معلمانو کوښښ کاوه، خپل پلرونه د خان او ملک له تسلطه را خلاص کړي. او د شوراګانو هېواد په بېغرضانه مرستو سره، مصادره شوې ځمکې میکانیزه او هغوی د «کور، ډوډۍ، کالیو» خاوندان کړي. د ټولو لوڼې او زامن دولتي مکتبونه خلاص او خارج ته په تحصیل ولاړ شي. او افغانستان د زیارکښو باسوادانو، د برابر وېش په یوه نمونه ټولنه بدل شي.
خو بزګرانو او کلیوالو، بې د ملا له فیصلې هېڅ شي ته لاس هم نه وروړ! هغوی نه ډوډۍ ومنله او نه مخلوځي، نه درېشۍ او نه یې هم دې ته غاړه ایښودلې کلیوالې کورونه یې په روسي ډوله مکروریانو بدل شي.
هماغه وه، چې زامن او پلرونه زور ته سره ووتل.
یو ورځ دا غر، بله ورځ ها دره،
یوه ورځ دا کلی، بله ورځ هغه علاقداري،
یوه ورځ دا ولسوالي، بله ورځ ها بل ولایت...

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې په منډه منډه ټول افغانستان د زوی او د پلار، ورور او ورور ترمنځ، د بې سره او بې بره جنګ لوی میدان شو.
یوه خوا سره انقلابیون(شورویان) او بله خوا امریکایي امپریالیزم د «توريږ ارتجاع» په وسیله، د پاکستان اسلامي جمهوریت تر چتر لاندې، د خپل خپل خدای په زور سره ونښتل. د مادي او اجتماعي عدالت نړیوال پاسوال (شوروي اتحاد) هم په یوه داسې دلیل، چې یوازې ځانته یې د قناعت وړ وه، په افغانستان رانوت. هغه لومړی د افغانستان ښارونه، بیا کلي، بیا غرونه لټ پر لټ کړل، خو په یوه امریکایي سپیشل فورس وانه وښتل. پوره یوه لسیزه کې یې، د یو درجن عکاسانو، جورنالستانو، او دیپلماتانو نومونه اعلان کړل، چې افغانستان ته د جاسوسۍ په تور راغلي او دوی نیولي ول.
شورویان ورک شول، خو د شورویانو پر ضد د جنګ نغاره پوره څوارلس کاله په شورماشور وه!
بیا د جنګ بل فصل راووت. ددغه جنګ میدان ښارونه وه او کابل ښار، د ملک په سطحه، د جنګي ښارونو په سر کې ؤ. اوس نو د جنګ قومانده په الله اکبر ورکول کېده. هره ګولۍ په الله اکبر سپره، د دښمن په ټټر او ککرۍ ننښتله.
اوس د جنګ ژبه یوه وه،
ادبیات یې یو ؤ،
فکر او عقیده یې یوه وه،
سپاهیان، ببرغونه او قوماندانان یې هم یو رنګ او یو خېل ول،
خو په همدې جنګونو سره، د جنګ د مقتولینو او ماتو ګوډو، ووړو زووړو شمېره درې څلور میلیونو څخه واوښته.
او دغه زور ټول په ځان کې اوبه کړل.
هرې خوا غوښتل مقابله خوا بدله یا (اصلاح!) کړي.
دلته څه جنګونه انقلابونه چې شوي، ټول یوه ریښه لري: د بل بدلول- اصلاح کول!
د تېرو درې څلورو لسیزو نسلونو، د یو بل په بدلولو سره، وینه توېول دلته فرهنګ کړل.
خو اوس داسې برېښي، چې کتابونه د زړښت ناروغۍ وهلي دي.
مکتبونه سرکوزي شوي دي.
بیرغونه له ډېره شرمه را لوېدلي دي.
دغو مړو کتابونو او د بل بدلولو ژوندخوړولو او ژوند خوړونکو فلسفو، او ځاناخبرو عقیدو دلته ټول انسانیت مات کړ. موږ اوس هم بنیادمان یاستو؛ خو انسانیت مو په شک کې دی!
اوس په اته څلوېښتو دموکراتیکو ملکونو کې بره ناسته امریکا راغلې چې موږ ته د دموکراسي او لیبرالیزم واکسین را ولګوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غرونه بیا اورشیندنې کوي. د فاسفورسو، امونیم نایتریتو او واسکټونو په دغو اورونو کې، زیاتره زموږ لوڅ مخونه، لوڅ سرونه، لوڅې پښې او ډېرې سوزي.
دا هم مجبور دي؛ ها هم مجبور دي!!!

## ځنګه یې کوي، راباندې وشول!

آخر موږ خو نه غوښتل؛ ټول را باندې وشول، او را باندې کېږي!
ما هېڅ نه دي کړي!
زه له ګناه معصوم یم! دا ټول خارجیانو وکړل!! خارجیان دې تاوان ورکړي!!!
خارجیان دې دا وطن آباد کړي.
خارجیان دې دلته سړک، او برق، او زراعت او صنعت جوړ کړي.
اخر خارجیان ډېر ملامت دي.
اخر ولې داسې سراسري معلولیت؟
ولې دومره پراخ انساني منفعلیت؟
آخر ولې موږ ټول مجبور نفوس یاستو؟؟؟
څه شول ها سینه چاک بل بدلوونکي (اصلاحګر)؟ څه شول ها کرکجن دوزخي بل اصلاح کوونکي (بدلونکي)؟
په جبلستان، په وزیرستان، په نورستان، په تورکستان او پښتونستان کې، د ملا په جامه کې مرګیال جنګیالی مجبور دی.
سرباز مو مجبور دی، ملا مو مجبور دی.
قاتل مو مجبور دی، مقتول مو مجبور دی.
زوم مو مجبور دی، ناوې مو مجبوره ده.
او مجبور بیا معلول دی!
ارګوال مو مجبور دي، کوټه وال مو مجبور دي! واړه او زاړه را په کې مجبور دي.
ټول را پکې مجبور دي.
یو را پکې نامجبور نشته!
هر کار مو مجبوري ده.


(c) ketabton.com: The Digital Library



وينښه او خوب مو د مجبورۍ دي.
ژوند او رواجونه مو د مجبورۍ دي.
ودونه او خيراتونه مو د مجبورۍ دي.
سيالي او شريکي مو د لويې لويې مجبورۍ نښې دي.
ژوند مو د مجبورۍ عبادت او اطاعت دی.
حتا بدې خبرې، بد نېتونه، بد رفتارونه، بد چلندونه، بد بد جنګونه،
وهل، نيول، بنديانول، په پانسی خېژول، مو له مجبورۍ دي.
په داسې يوه خدايي هېواد کې چې هم پاچا مجبور وي، هم غل، هم پوليس، هم قاضي، هم مفتي، هم ملا، هم په ډالرو سپور روښانفکر،
هم بډې‌خور، هم بډې ورکوونکي،
هم مدني فعال او هم بهرنيو فوځونو سره په ډالرو مقرر ترجمان (چې په خطري شپېو کې يې ياسين په خوله وي) مجبور وي!
نو د مجبوريت په يوه داسې زندان کې څوک آزاد پاتې شو؟
بيا دلته د کار او د ميدان او د ژوند سړی څوک پاتې دی؟
نو ميدان د چا شو؟
واک د چا شو؟
واکمن څوک دی؟
او موږ مجبور، معلول او د نورو د کارونو او فعالو علتي دريځونو پسمانده او تفاله نه شو؛ نو څوک شو؟؟؟
د مجبوريت دغه دوزخ کې، آزادي، استقلال، تاريخي افتخارات، جنګآورۍ...څه شی دي؟؟؟
آخر علت څوک دی؟
آيا که خدای په روس او امريکې را قيامت کړي،
زموږ عاجزانه (زنانه) مجبوريت به ختم شي؟
نور به معلول نه وو؟
سوال به نه کوو؟
موږ به د خپل ژوند او سرنوشت او نن او سبا خاوندان شو؟
زموږ ورځ به ښه شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





دا څوک دی؟ چېرې دی؟ له کومه شو؟
څه يې وکړل؟ څه پرې وشول؟
باور وکړئ، چې زه هم نه پوهېږم! خو ور ته ځير شئ. دا عکس ذهن کې لس کاله شاته یوسئ. داسې لس لس کاله نور هم شاته ولاړ شئ. اوس يې د مور تي ته پروت وګورئ...
هاااای، ذهن–د بل بدلولو ذهن له انسان څه بده بلا جوړولای شي!
که دی ماشومانو ته په لاس ورشي؛ نو ټوپک به ترې واخلي. ټوپک به مات کړي، په تيرو اوسپنو به يې نغری جوړ کړي، او پر لرګو به يې اور بل او کچالان پاخه کړي او دې سره به بوډا ماشوم ته د مور د شيدو بوی ور په ياد شي!

(ته څوک يې؟
تر اوسه چېرې وې؟
او د ژوند دومره تجربې د څه لپاره وې؟
چې ورته ځير شوم هر سړی تنها و،
هسې د لېرې نه هجوم ښکاري.)


(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلوېښتم ګام

### ځمکه د انسان د ښکار ځنګل

اه، نشوم موسیقار، چې په دومره نعرو کې سپینه مینه
ګره لمبه شم!
لمبه شم او له ماشومتوبه را څخه ورک پلرني - خدایي
کلي په لور خپله وجودي برخه والوزم!
آرام شم،
بې غږه او بېغمه شم!
او نور په ځمکې کې - چې د انساني ذهن تر ښکیلاک او زبېښناک لاندې، د انسان د ښکار په ځنګل بدله شوې - یوه انساني خبره، یو انساني کار او یو انساني فعل ترسره نکړم!؟

### خپله محکمه:

آیا کولای شم، د یوه مقتول د کبر شناختې، عکس، یا لکړه باندې را ځړېدلي، د

**دا جنګیالي د څه لپاره، دا وسلې د څه لپاره؟**
**باور وکړئ، کار ختم دی، نشته داسې څوک چې ماشه پرې راکش شي.**
**شکر کوم چې په هېڅ انسان مې ماشه نه ده را کش کړې، خو په مینه ناک آواز وایم چې دا کلمې د هېڅ شریف انسان سپکولو لپاره نه کاروم. ټوله هڅه مې دا وه، چې ددې هېواد له هر ښتیني او خدا دوسته بچې سره، په هغې تراجیدۍ وژاړم، چې پخپله مو ځانته سرنوشت کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده د اولې شپې د زري کميس ريښکيو کې، د يوې ګلمخې خور او مور د وچو شويو چيغو له زبوم وهلې حافظې څخه ځان سلامت «تېر» کړم؟
آيا کولای شم، د وطن هره کونډه خور يا مور يا لور، په دې خبره «دنيا زما او ستا نه ده!» له خپلې مخې لېرې کړم؟
آيا کولای شم، د مثالي عدالت په تله کې د يتيم اوښکو په مقابل کې، د بنجاره نانځکه، يا هوايي پوکانه کښېږدم؟
آيا کولای شم، د شهيد په نامه، له دولت څخه درې سوه روپۍ تقاعد واخلم؟
آيا کولای شم، د شهيد د ورثه په نامه حج ته ولاړ شم؟
آيا کولای شم، د خپل سور کفنه، سوځېدلي، او شنه اوښتي شهيد د کبر په خاوره، د خپل ماشوم «نظر وچ» کړم؟
او آيا کولای شم، د خپل زوی، ورور، پلار د قتل په تور، خپله قاتل شم؟
که ځواب مې هو وي؛ نو بنيادم به وم؛ خو انسان به نه وم!

## تاسو هم لاسونه را سره پورته کړئ!

زه له هر هغه انسان ورور او انسانې خور څخه په ټول ځان عذر غواړم، که دلته راغلي اندونه، نظرونه او بحثونه د خپل فکر، باور او دريځ خلاف انګيري!
زه دښمن نلرم. او هېڅوک پخپله دښمنی نه پېژنم؛ ولو که څوک وغواړي، له پاسه په سر پښه را کښېږدي!
بس په همدې ځای در څخه جلا کېږم:
خدای تعالی دی مونږ د خپل عشق او رحمت په اقيانوس کې داسې ډوب کړي؛
چې پرته له بې قيد او شرطه مينې او لورينې هېڅ احساس را پاتې نشي،
پرته له مينې کومه خبر په خوله رانشي،
پرته له مينې کوم کار مو له لاسه ونشي،
پرته له مينې په کومه خوا زمونږ پښه ولاړه نشي،
پرته له مينې هېڅ فکر، تصور او خيال زمونږ زړه او ذهن کې پيدا نشي: ګوندې که داسې د بل بدلولو عادت مو د تل لپاره ختم شي!
ټول ژوند الهي باران دی. نو د څه شي شکايت وکړم، په څه شي قضاوت وکړم!؟
نو ای لويه خدايه!
ای د عشق او رحمت بې شانه سمندره! زما اراده نه؛ بلکې په هر کار کې دې ستا اراده جاري شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوڅلوېښتم ګام

من گُنگ خوابدیده و عالم تمام کر
من عاجزم ز گفتن و خلق از شنیدنش
شمس

دا ګام به په ګډه لیکو. خو زه تسلیم یم! دلته ستاسو ګام دی؛ نو بسم الله کړئ: (..............................)



(c) ketabton.com: The Digital Library





## د پای دمه

دا ددغه مزل د پای دمه ده. زه خاموشېږم؛ بېخي خپله خوله تړم. تاسو هم خپل شریف خاموش حالت خوندي ولرئ. دلته د غړ او رڼا ستورمزلی، په غیر شخصي ارادې سره غړ شیندي: هغه په تبتي راهب مشهور دی؛ خو په ظاهره ربازار تارز نومېږي، او د «رود پر غاړه پردي» شاعرانه کتاب کې خپل شاګرد ته د «حقیقي تسلیم» تر سرلیک لاندې، د غړ ژوندي ژوندي غشي اوروي:

حقیقتي تسلیم

«تسلیم، خدای ته د رسېدلو لار ده.»

«خدای ته د رسېدلو لار، خدای ته تسلیمېدل دي؛ په روح سره، پوره او بشپړ! داسې چې ستاسو ترمنځ هېڅ واقع ونشی!»

«تسلیم یوازینۍ لار ده! تل ځان د هغه پر مخ پرانستي لره، د هغه او د هغه د عشق په لور، او هرڅه چې کوي، باور پرې وکړه!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«هغه وخت دې چې د حقيقي تسليمېدلو هنر زده کړ، روح په رښتينې معنا سره، له خاورين معبد څخه وېستل کېږي، او مخ پورته، هغه ځای ته چې دمخه ورڅخه راغلی وه، لوړ پرېږي.»

«يو ځل چې دروني ژوند درک کړې، بيروني ژوند بيا غير واقعي او ناڅيز، ډېر ناڅيز در معلومېږي.»

«ته د پروردګار سعادت ته لاره مومې...هغه وخت بيا په هرڅه کې او ټولو وجودونو کې، الهي هستي مشاهده کوې او همدا شان په ټولو پېښو کې د هغه مقصود پېژنې...»

«خو د هغه عشق هغسې ګوره، چې په ټولو وجودونو، ټولو قدرتونو، ټولو شخصيتونو، او آسمان کې ټولو خورو ورو شکلونو کې را څرګند شوی.»

«او هغه د ژوند څټ ته (له ستر ګو) پټ دی.»

« د تلپاتې نيکمرغۍ سرچينه، د ځان ليدل دي په ټولو کې.»

«په داسې حال کې، چې د بشر ټول درد او رنځ، د ځان دننه د همدغې الهي هستۍ کشفول دي.»

«ښادي يوازې په ابدي ګور کې موندل کېږي. او تر هغو چې ستا اصلي وجودي برخه، پر ته له خدايه د بل څه په لټه کې وي، د خدای د اقليم په لور به سفر ونه کړي؛ بلکې ددغې خاورينې دنيا په زنځيرونو کې به زنداني وي.»

نو «ته څه غواړې؟ له خدای سره په آزادۍ کې ژوند کول، يا د ځمکې په جېل کې وخت تېرول؟»

نوره نو دمه ده، دمه ده، دمه ده...!

برکت مو نصيب شه!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**